# دین او ساینس



ژباړن: عبدالحمید هڅاند

لیکوال: مولانا وحیدالدین خان

ژباړن: عبدالحمید هڅاند

دین او ساینس

۱۴۰۲ لمریز

SIKARAAM



مولانا وحیدالدین خان

# **دین او ساینس**

لیکوال:

**مولانا وحيد الدين خان**

ژباړن:

**حمید هڅاند**

خپرندوی:

**سمون پوهنیز یون**

۲۰۱۵ م

www.sikaraam.com

بسم الرحمن الرحیم

## فهرست


**د ژباړن خبرې ---------------------------------------------------- ٤**

**د لیکوال په اړه-------------------------------------------------------٦**

**د لیکوال سریزه----------------------------------------------------١١**

**د استدلال ډولونه ------------------------------------------------١٥**

**د برټرانډ رسل نظریات------------------------------------------٣١**

وروستۍ خبره-------------------------------------------------------٤٢

**د کائناتو ماشیني (مېخانېکي) تعبیر -------------------------------٤٣**

**دین او له مرګ وروسته ژوند ---------------------------------------٥٤**

**دین او ساینس ----------------------------------------------------٦٢**

**ساینس په انسان ونه پوهېد -----------------------------------------٨٢**

**اوسمهالی دین پېژندنه-------------------------------------------٩٣**

کتنه -------------------------------------------------------------- ۱۰۰

**د دين ملحدانه تشريح --------------------------------------------۱۰۸**

**تبصره---------------------------------------------------------------- ۱۱۲**

## د ژباړن خبرې

دین او ساینس د نوموتي لیکوال، ښاغلي وحید الدین خان کتاب دی چې له انګلیسي څخه پښتو ته ژباړل شوی دی. د ستر څښتن شکر ادا کوم چې د کتاب ژباړه مې پوره کړای شوه. څنګه چې له نوم څخه ښکاري، کتاب د دین او ساینس پر اړیکه تفصیلي مالومات وړاندې کوي. سره له دې چې دین او ساینس دوې جلا موضوعګانې دي خو اوسمهالي سیکولر مفکرین فکر کوي چې ساینس نه یواځې دا چې له دین څخه بېل دی بلکې ساینسي پرمختګونو نور نو د دین ارزښت هم له منځه وړی دی. کتاب یاده ادعا د سالمو دلایل په ترڅ کې څېړلې او جاجولې ده.

اوس وخت کې پر نیټ او تلویزونونو د تبلیغاتو یوه لویه برخه د دین د باورونو له منځه تګ ته په شعوري یا ناشعوري ډول ځانګړې شوې ده. هره ورځ د ټولنیزو اړیکو پر سایټونو عام خلګ له داسې پوښتنو سره مخ کېږي چې پکې د دوئ عقیده ننګوله شوې وي. ډېری وخت دوئ ورته پوښتنو ته ځواب هم نه شي ورکولی. له بلې خوا، عام خلګ نه شي کولی چې ورته پوښتنې په جرات مطرح کړي. که یې مطرح کول وغواړي، نه پوهېږي چې چا ته مراجعه وکړي. ځکه له بده مرغه د دیني علومو زده کوونکي او ملا صاحبان هم ورته پوښتنو ته ځوابونه نه لري. د دعوت ټولې ډلې خلګ له منکراتو راګرځوي او فضایلو ته یې هڅوي خو هیڅ داسې مرجع، ټولنه یا خوځښت نشته

چې د الحاد په وړاندې یې کار کړی وي او د اوسمهاله فکر پوښتنو او نګونو ته یې ځوابونه ویلي وي.

په داسې یو وخت کې د ښاغلي وحیدالدین خان همدا کتاب خورا مهم ؤ چې باید هیوادوالو ته ژباړل شوی وای. له همدې امله مې د ملګرو په مشوره د کتاب ژباړه پیل او بشپړه کړه. په دې هیله چې د هیوادوالو په فکري وده کې به همدا هڅه لږ و ډېر رول ولوبولی شي.

د دین او ساینس پر اړیکه تر دمګړۍ په پښتو کې هیڅ راز کتاب نه دی چاپ شوی. د دې کتاب ښه ځانګړتیا دا ده چې ان په انګلیسي ژبه کې د دین او ساینس پر اړیکه تر ټولو معیاري کتاب دی. د کتاب بله لویه ځانګړتیا دا ده چې ښاغلی وحیدالدین خان یوه بې پرې او له تعصبه لیرې شننه کړې ده: نه یې ساینس دین ته کش کړی او نه دین ساینس ته.

غواړم دلته له زړه ته رانژدې ملګرو عبد الغفور پېروز، فضل الباري بریالي، وصیل پېروز، محمود سعید او صفی الله سلطاني څخه مننه وکړم چې زه یې د کتاب ژباړې او بشپړاوي ته هڅولی یم او همدا راز له ضیا ساحل، مسعود افغان او شریف مسرور څخه هم منندوئ یم چې د دوئ د مالي مرستې په وسیله دا کتاب ستاسو تر لاسونو ورسېد.

درنښت

حمید هڅاند

۱۳۹۳/۹/۱۴ مازیګر مهال. خوشال مېنه، کابل

## د لیکوال په اړه

ښاغلی وحیدالدین خان یو له خورا نوموتو دینپوهانو او اسلامي علماوو څخه دی. د اسلام د سوچه پیغام، سولې، د دین سم تعبیر او د دین و معاصرې پوهې او فکر ترمنځ پر اړیکه یې ارزښتناک کار کړی دی. له دې سره-سره د نوموړي د ژوند و فکر په اړه ډېر کم افغانان مالومات لري. د ده کتابونه او لیکنې په انګلېسي او اردو ژبو کې لیکل کېږي او بیا د عربي په ګډون نورو سیمه ییزو او نړیوالو ژبو ته ژباړل کېږي. فکر کوم، پښتو ته تر اوسه د ده کتابونه نه دي ژباړل شوي او ممکن دا لومړنی کتاب وي چې پښتو ته ژباړل کېږي.

د خان صېب زوکړه په اعظم ګر نومې سیمه کې په ۱۹۲۵ کې شوې ده. دی لا څلور کلن ؤ چې پلار یې، فریدالدین خان ومړ. د پلار له مړینې وروسته د ده روزنه یې کاکا او مور کړې ده. دا چې دی په ماشومتوب کې لا یتیم شوی، د ژوند له ډېرو ناخوالو سره لاس-ګریوان شوی دی. دی وایي چې د هغه مهال ستونزې او ناخوالې د ده لپاره لوی سبق شوې. دی وپوهېد چې ژوند له ننګونو ډک دی خو د ده په وینا، هره ستونزه باید د ننګونې به توګه ومنله شي او ورسره مبارزه وشي.

د ده ورور او د کاکا زامن له انګلیسي ژبې ښوونځیو فارغ شول خو د ده زده کړه له دودیزې مدرسې پیل شوې ده. ۱۹۳۸ کال ؤ چې ده په مدرسة الاصلاحي کې دیني زده کړې پیل او شپږ کاله وروسته همدلته بشپړې کړې. له ماشومتوبه یې طبیعت سره مینه لرله. دی وایي د دیني

زده کړو په مهال پوی شوم چې رب موږ د طبيعت او کائيناتو د اسرارو پلټلو ته هڅولي يو. له دې وروسته د طبيعت په اړه سوچ و مطالعه د ده د زده کړو يوه نه شلېدونکې برخه شوه.

له فراغت وروسته چې کله دی د ښوونځيو له فارغينو سره مخ شو، پوی شو چې د هغوئ يو شمېر پوښتنو ته ځواب نه شي ويلی. مثلا دا چې که محمد صلی الله عليه وسلم بالکل له تاريخ څخه واخيستل شي، نو ايا په بشري تاريخ به ټکه ولوېږي؟ دا او ورته پوښتنو دی اړ کړ چې د عصري علومو زده کړې ته هم مخه وکړي.

له ماشومتوب څخه خان صېب له مطالعې سره بې کچې مينه لرله. ويل کېږي، خان صيب چې به کله کتابتون ته سهار نوت، تر مازيگره به يې په کتابونو تنده نه ماتېده. اخر به د کتابتون څښتن ورته ويل چې نور خو د کتابتون د تړلو وخت دی، ځه چې لاړ شو. د عصري علومو پراخې مطالعې دی له ديني او عصري علومو سره ښه ترا بلد کړ. د عربي او ديني علومو ترڅنگ، نوموړي په انگلېسي او معاصرو علومو کې هم خورا زياته بلدتيا ترلاسه کړه. خورا ژر وپوهېد چې لاالهاندې نړۍ ته بايد د اسلام پيغام په داسې ژبه ورسول شي چې د دوئ لپاره د فهم وړ وي.

د اسلام دين سوچه فهم او پيغام رسول د ده د ژوند موخه وگرځېده. نيې عهد کې دروازې نومی اردو کتاب د ده لومړنی کتاب دی چې په ۱۹۵۵ کې خپور شو. له يو شمېر نورو کتابونو وروسته يې په نوي ډيلي کې د اسلامي مرکز بنسټ کېښود او د رسالې په نوم د مياشتنې خپرول يې هم له همدې ځايه پيل کړل. رساله د ده د خپلو

لیکنو څخه جوړه میاشتنۍ مجله وه. په خورا لږ وخت کې یې په اردو ژبه کې خورا زیات لوستونکي پیدا کړل. وروسته دا رساله په دواړو، انګلیسي او اردو ژبو چاپېدله.

په ۱۹۹۲ کې د بابري مسجد پر سر د جنګ او بیا د همدې مسجد د شهید کېدلو پېښې په هند کې د مسلمانانو او هندوانو ترمنځ تاوتریخوالي ته لاره هواره کړه. دا چې د سولې خپرول د ده د ژوند ماموریت ؤ، ده له موني سوشل کمار او سوامي چیدننډ سره په مهاراشترا ایالت کې پنځلس ورځنی د سولې یون پیل کړ. دا یون له ممبۍ پیل او پر ناګپور پای ته ورسېد. د پنځه لس ورځو په اوږدو کې نوموړي او ورسره ملګرو یې په ۳۵ بېلابېلو ځایونو کې خورا لوی شمېر خلکو ته ویناوې او د سولې پیغام واوراوه. د سولې دې یون په هند کې د مذهبي جګړو مخنیوي او د سولې بیا ټینګښت کې لوی رول ولوباوه.

د ده په باور، د ټولو بریالیتوبو راز په سوله کې نغښتی دی. دی وایي چې نن ورځ نړیوال له خپلمنځي سولې پرته بله لاره نه لري. د ده د سولې هڅې یوازې تر هندې نیمې وچې نه دي منحصرې شوې بلکې ټوله نړۍ یې رانغاړلې ده. دی د نړۍ ګوټ-ګوټ ته تللی او هر چیرې یې د سولې پیغام خپور کړی دی. د ده د کار و هڅو په مقابل کې زیات مېډالونه ورکړل شوي دي. خان صېب د اتومي وسلو پر ضد هم خورا زیات کمپاین کړی دی. د اتومي وسلو په وړاندې د ده مبارزې له امله ده ته په ۲۰۰۲ کې د نړیوالې سولې مېډال ورکړ شو. د نړۍ د پخواني بهرنیو چارو وزیرانو شورا د میکایل ګورباچوف په غوښتنه ښاغلي وحیدالدین خان ته د سولې مېډال ورکړ. په کوریا کې د سولې لپاره د نړیوال فدراسیون له خوا هم خان صیب ته د سولې سفیر

لقب ورکړ شوی دی. يو شمېر نورې جايزې او ستاينې يې داسې دي:
Padam Phushan Award, the Rajiv Gandhi National Sadbhavana Award, the National Integration Award, the Communal Harmoney Award, the Diwaliben Mohan Lala Mehta Ward, National Amity Award, FIE Foundation Award, the Urdu Academy Award, the Aruna Asaf Ali Sadbhavana Award.

يو شمېر پورته اوارډونه ورته د هند ولسمشر او لومړي وزير ورکړي دي. National Citizen Award ورته Mother Teresa ورکړی دی.

په ۲۰۰۱ لومړي کال کې خان صيب د نړيوالې سولې او روحانيت مرکز بنسټ کېښود او له دې مرکز څخه يې د اسلام پيغام، سولې، مينې، جنګ ضد او نور کمپاينونه پيل کړل. تر اوسه خان صېب شاوخوا ۲۰۰ کتابونه او خورا زياتې ليکنې لري. د ده د ليکنو د خوندي کولو لپاره د www.CPSglobal.com نومی سايټ هم شته.

ښاغلی وحيدالدين خان اوس دادی نژدې د نوي کالو عمر لري. دی غواړي نړيوالو ته د ژوند اصلي هدف ور وپېژني. دی وايي چې اسلام حق دين دی او پيغام يې نړيوال دی خو دا پيغام بايد تر نړيوالو په اغېزناك ډول ورسول شي. خان صيب فکر کوي چې اوس وخت د اسلام پيغام تر بل هر وخت په اسانی رسول کېدای شي. دی وايي چې د دعوت لپاره بايد هر مسلمان وخت ځانګړی کړی. د خان صيب په باور، که اسلامي نړۍ علم ته مخه کړي، د اسلام ناسم تعبير ته شا کړي، او پر ځای يې د اسلام له سوچه پيغام څخه ځان خبر او تر نورو

www.sikaraam.com

ورسوي، انسانيت ته به يې خورا لوی کار کړی وي؛ ځکه همدغه د انسانيت د ټولو ستونزو د مخنيوي يواځينی لاره ده.

ښاغلی وحيد الدين خان د اسلام د سم تعبير په اړه ارزښتناک کار کړی دی. تر څنګ يې د ناسم تعبيرونه په وړاندې مبارزه کړې او د ديني و عصري علومو ترمنځ د توپير ورکولو ته يې کار کړی دی. ده د سولې لپاره نړيوال کوښښونه کړي دي او د اديانو ترمنځ ډيالاګ لپاره يې هم زمينه سازي کړې دي. د فلسطين جګړې د له منځه وړلو لپاره يې هم هغه ځای ته سفر کړی او په کنفرانسونو کې يې ونډه اخيستې ده. دی اسلامي نړۍ علم ته هڅوي او له جنګ جګړو څخه د راګرځولو هڅې يې کړې دي. وحيد الدين خان په انګليسي ژبه د قران ډېر ښکلی تفسير هم کړی دی. دی وايي چې په انګليسي د يو درجن تفسيرونو له شتون سره-سره، هيڅوک نه دی توانېدلی چې د عربي ژبې فصاحت تر ممکنه بريده انګليسي ته ولېږدوي.

په اوس وخت کې د خان صيب له افکارو څخه د ټولې نړۍ او په ځانګړې توګه د افغانانو خبرېدل خورا مهم او اړين کار دی. په همدې پار مې د خان صيب د دين او ساينس کتاب ژباړه پښتو ته وکړه. ستر ښښتن له دربار څخه د دې هڅې د قبلېدو لپاره لاسونه لپه کوم.

## د لیکوال سریزه

دین او ساینس کتاب په لومړي ځل د ۱۹۷۱ کال د مارچ په ۱۹مه نیټه او بیا په ۱۹۸۴ کال کې د دویم ځل لپاره چاپ او خپور شو. وروسته یې عربي او انګریزي ژبو ته هم ژباړه وشوه. له ښه مرغه، په تېرو کلونو کې کتاب زیات شمېر نورو ژبو ته ژباړل شوی او چاپ شوی دی. اوس دا دی یو ځل بیا د یو شمېر بدلونونو په ملتیا کتاب له سره چاپېږي.

د دین او ساینس په اړه ټول مسایل د نوعیت له مخې په دوه ډوله دي: فکري او عملي. په دې کتاب کې د فکري مسایلو په اړه بحث شوی دی چې د اسلام له اعتقادي نظام سره اړه لري. په کتاب کې یو لړ اساسي مسایل نغاړل شوي دي. البته زیات شمېر غیر ضروري مسایل هم شته چې په دې کتاب کې یې په اړه بحث نه دی شوی خو زما په نورو کتابونو کې یې په اړه په جزیاتو خبرې شوې دي.

دیني عقاید یواځې ظاهري او مجردې لارښوونې نه دي بلکې د کائیناتو د همېشني حقایقو په اړه رښتینې خبرې دي. څنګه چې د لمر له رڼا او انرژۍ ګټه اخلو، په ورته توګه اړ یو چې په دیني لارښوونو هم ځانونه پوه او ورڅخه ګټه واخلو. دا داسې حقایق دي چې په وړاندې یې د انکار او بې تفاوتۍ تګلاره نه شي غوره کېدای. پرته له دې چې سر پرې خلاص کړو او عملي یې کړو، بله لاره نه ده راپاتې ځکه هره بله لار د ابدي تباهۍ پر لور تللې ده او بس.

پر ادیانو د پوهېدو په پار باید وحيې ته مراجعه وشي. وحيه د نبیانو په وسیله انسانانو ته د کائیناتو د خالق له لوري رالېږل شوې لارښوونې او مالومات دي. خو ایا پر وحیو باور کېدای شي؟ پر نبیانو چې به کله هم شک کېدی او خلکو به فکر کاوه چې هسې نه خبرې یې دروغ وي، دوئ به ورته په ځواب کې ویل: *"ایا تاسې پر هغه ذات شک کوئ چې ځمکه او اسمانونه یې پیدا کړي دي*[۱]*."* یانې انبیاؤ هم د خپلو ادعاوو د ثبوت لپاره د فطرت او طبیعت څخه دلایل وړاندې کړي دي. په ځمکه او اسمانونو کې شته حقایق او نښې پر دیني عقایدو او باورونو د مطالعې او مشاهدې وړ دلایل دي. د رسول الله وخت تر ساینس دمخه مهال ؤ. هغه مهال انسانانو د ځمکې او کائیناتو په اړه خورا سطحي مالومات لرل، خو نن ورځ په دې مالوماتو او پوهېدنو کې هېښوونکی او بې کچې پرمختګ راغلی دی. خو ان نن ورځ هم همدغه استدلال خپل معقول ځای ساتلی دی. نوي پرمختګونو او څېړنو د رسول الله پر تعلیماتو لا باور پوخ کړی او د اثبات تر پولو یې رسولي دي.

نوې څېړنې کائینات د یو داسې سیستم په توګه انځوروي چې خورا منظم دی او فعالیتونه یې د یو لړ مالومو او نه بدلېدونکو قوانینو له مخې ترسره کیږي. دې حالت په لومړیو کې د کائیناتو ماشیني تعبیر ته لاره هواره کړه او فکر وشو چې د کائیناتو ټول فعالیتونه د علت او معلول یا cause and effect له مخې ترسره کیږي. خو له زیاتې څېړنې وروسته دا باور ناسم ثابت شو. مالومه شوه چې کائینات له منظموالي سره-سره، د ماشیني تعبیر وړ نه دي. تر څنګ یې دا فکر رامنځته شو چې د

---

۱ ابراهیم سورت، لسم ایت

انسان خپله لټه او څېړنه به بالاخره دې ته لاره هواره کړي چې انسان به ټول حقایق پخپله مالوم کړای شي او دا چې په دې پار انسان اړ نه دی وحیه ته مراجعه وکړي. خو څېړنو دا فکر هم ناسم ثابت کړ ځکه څرګنده شوه چې د کائیناتو ټولیزې پوهې ته رسېدل د انسان په ځواک کې نه دي او که یې انسان هڅه وکړي، له نه حلېدونکو خنډونو سره مخ کېږي. په دې توګه نوې پوهې د دین اساسات کمزوري نه کړل بلکې لا زیات یې ځواکمن او پاخه کړل.

نوي څېړنو دا هم ثابته کړې چې د انسان د دین احساس یو فطري احساس دی او د انسان په رګ-رګ کې یې ځای نیولی دی. له دې ځایه ده چې هڅه وشوه انسان پخپله یو داسې دین جوړ کړي چې هرڅه یې انسان سنجولي وي او ټولنې ته د همدې فطري احساس د پوره کولو په پار معرفي شي. د انساني دین جوړولو ټولې ورته هڅې له ناکامۍ سره مخ شوې دي ځکه د کائیناتو د ټولیزې پوهې څخه عاجز انسان نه شي کولی چې د همدې کائیناتو د مېشتو ټولو انسانانو لپاره یو داسې دین جوړ کړي چې د کائیناتو له ټولو حقایقو سره دې همرنګي او مطابقت ولري.

تر کومه چې د سوچه ساینس خبره ده، نو دا یو څرګند حقیقت دی چې لویو ساینسپوهانو هیڅکله هم د خدای له شتون څخه انکار نه دی کړی. ایزک نیوټن (۱۷۲۷ مړینه) د خدای شتون په څرګنده منلی ؤ. په ورته توګه البرټ انشټاین (۱۹۵۵ مړینه) د خدای پر شتون کلک باوري ؤ او په خپل شخصي ژوند کې یو روحاني کس ؤ.

په ورته توگه، چالس ډاروین په خپل مشهور کتاب origin of species کې تر یوه زیات ځایونه د خدای شتون منلی دی. ده خپل کتاب په دې الفاظو پای ته رسولی دی: *"د ژوند په دې تصور کې ځومره لویوالی پروت دی چې خالق په لومړیو کې یو یا څو ابتدایي شکلونه جوړ کړل او وروسته ترې رنگارنگ جوړښتونه پیدا او رامنځته شول."* حقیقت دا دی چې ساینس د خدای له شتونه انکار نه دی کړی بلکې یو څو ملحد فیلسوفانو، ساینس د خدای د انکار په موخه کارولی دی خو هڅې یې په لومړیو مرحلو کې لا له ناکامۍ سره مخ شوې دي.

دا کتاب نه خو د دین تفصیلي مطالعه ده او نه د ساینس، بلکې د دین و ساینس ترمنځ اړیکه له یوه بنستیز اړخه څېړله شوې او د څرگندولو هڅه یې شوې ده. دا کتاب د هغو خلکو لپاره زیات گټور دی چې د دین و ساینس پر اړیکه یې غور کړی او ورځخه لږ و ډېر مالومات لري.

د کتاب اره موخه هغه خلکو ته پوهاوی دی چې له معاصر فکره اغېزمن شوي او د دین پر حقانیت یې باور کمځواکی شوی دی.

که د کتاب مطالعه همداسې کسان وهڅوي چې دین د بیاځلي غور وړ وبولي او په اړه یې مطالعې ته وهڅېږي، همدا به هم د لیکوال لپاره د دې کتاب د بریالتوب په مانا وي.

نوي ډیلی، د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر ۱۳مه

وحید الدین خان

## د استدلال ډولونه

تې آر مايلز ليکي:

*"د پخوانيو مذهبي علماؤ مثال داسې کس ته ورته دی چې بانک کې پيسې ونه لري خو بانکي چِک وليکي. دې کسانو داسې الفاظ استمال کړي چې تر شا يې هيڅ راز معنوي پانګه شتون نه لري. له ګرامري پلوه دا جمله چې مطلق د بدلون او پرمختګ وړ نه دی يوه کره جمله ده خو د مانا له پلوه يو ناچله چک دی چې کله هم په پيسو (مانا) نه شي تبديلېدای[۲]."*

د دې شاغلي د خبرو مطلب دا کېږي چې مذهب يواځې او يواځې عقيدوي مسائيل دي چې د عقيدې له ډومين نه بهر، ازاد ثبوت يې نه خو ممکن دی او نه ورته مذهب اجازه ورکړې او دا چې دا عقايد به يواځې هغه وخت د منلو وړ وای چې له عقيدوي ساحې بهر يې د ثبوت کېدو قابليت لرلای. په بله وينا، ساينسي حقايق ځکه منل شوي چې د اثبات وړ دي. برعکس، مذهبي مسايل محض عقيدوي خبرې دي او د اثبات لار يې د ساينسي مسايلو د اثبات سره توپير لري.

دا خبره به يواځې هله د منلو وړ وای چې د شيانو او مفاهيمو د ثبوت لپاره يواځينی معيار د مشاهدې قابليت وای او بس. مثلاً که يو کس ادعا وکړي چې کهکشانونه نور لرونکې وربځې نه بلکې د خورو ورو ستورو ټولګه ده. په لومړيو کې دا يوه عقيدوي مسئله ده. خو که د

---

[۲] Religion and Scientific Outlook, P. ۲۰

پرمختللي تلیسکوپ په وسیله کهکشانونه وڅارل شي، همدا عقیدوي مسئله په یو داسې حقیقت بدلیږي چې هر څوک یې لیدلی او مشاهده کولی شي.

خو پوښتنه دا ده چې ایا هغه څه چې د مشاهدې قابلیت ونه لري، باید رد شي؟ د دې پوښتنې د ځواب لپاره اړیو چې د د استدلال ډولونه او پړاونه وپېژنو:

١. د علمي استدلال ابتدائي/لومړنی پړاو دا دی چې تر بحث لاندې موضوع د مخامخ مشاهدې قابلیت ولري. مثلاً یو کس دعوه کوي چې اوبو کې واړه میکروسکوپیک ژوي (مایکرواورگانیزم) شتون لري. دا خبره په خورا ساده گی د اثبات وړ ده: د اوبو څاڅکی که تر مایکروسکوپي کتنې لاندې ونیول شي، وبه لیدل شي چې د اوبو منځ کې واقعاً میکروسکوپي ژوي اوسېږي.

٢. دویمه درجه دا ده چې یوه دعوه په کامل ډول نه شي مشاهده کېدای خو ځینې برخې یې د مشاهدې وړ وي. د ځمکې گردوالی د داسې ادعا ښه بېلگه ده. ځکه د ځمکې گردوالی په هیڅ راز انساني ارزونه کې په کامل ډول نه شي مشاهده کېدای بلکې ځینې برخې به یې مشاهده کړای شي. خلایي بېړۍ چې له هسک څخه د ځمکې انځورونه اخلي، ځمکه د سپوږمۍ په څېر دایروي را پېژني. خو دا خبره جوته ده چې په انځور کې به ټوله ځمکه نه بلکې د ځمکې یوه برخه ښکارېږي. خو له دې سره-سره په هیڅ توگه نه شو ویلی چې ځمکه دې گرده نه وي.

٣. خو له دې مشاهداتو چې موږ کوم حقایق ترلاسه کوو، ټول ساده او بسیط حقایق دي. هیڅوک نه شي ویلی چې تر دې هاخوا نو

نور حقیاق نه دي موجود. اوسمهالی ذهنیت د استدلال یو بل نوی ډول هم اضافه کوي او هغه دا چې هغه استدلال هم یو کره استدلال دی چې که څه هم یوه موضوع/حقیقت مخامخ ونه لیدل شي خو ځینې اړخونه یې تجربه کولی او له مخې یې د سرچینې د شتون قیاس کولی شو. مثلاً د الکترون ذره دومره وړه ده چې نه خو یې په ذره بین لیدلی شو او نه یې په کومه اله تللی شو خو بیا هم ساینس دا خبره منلې چې الکترون موجود دی؛ ولي؟ ځکه تجربې څرگندوي چې که څه هم د الکترون په نوم کومه زره لیدلی او مشاهده کولی نه شو خو اغیزې یې محوسولی شو. د همدې محسوسو اثراتو له امله نه شو کولی چې د الکتروني نظام له شتون څخه انکار وکړو. اوسمهالي ساینس کې د نیوکلرساینس ډېری برخه مسایل مشاهده کېدای نه شي خو اغیزې یې د محسوس کېدو وړ دي.

٤. خو د استدلال دریم پړاو هم وروستی نه دی. ټول هغه حقایق چې تر دې ځایه موږ پیدا کولی شو، تخنیکي حقایق دي. ربښتیا دا ده چې په کائیناتو کې زیات نور ارزښتناک حقایق پراته دي او له هغه ځایه پیل کېږي چېري چې زموږ تخنیکي پوهه پای ته رسېږي. مثلاً بیولوژي او اناتومي کې د بدن د جوړښت په اړه زیات ارزښتناک او تخنیکي حقایق سپړل کېږي چې ترڅه ځایه معنوي اړخ هم لري. خو د اصلي پوښتنې په اړه چې د انسان پیل له کومه او څنگه وشو او چیرته درومي، د بیولوژۍ او اناتومۍ مروجه پوهه هیڅ راز مرسته نه شي کولی. یو لویدیځوال عالم ځکه ویلي: *چې پرې پوهېږو، زیات ارزښت نه لري؛ خو چې زیات ارزښت لري، پرې پوهېږو نه.*

په دې توگه هغه استدلال هم كره دى چې د يوې داسې موضوع دعوه كوي چې مخامخ نه شي ليدله كېداى خو ځينې اړخونه يې داسې محوسېږي چې له مخې يې د شي *امفهوم* د شتون دعوه كېداى شي. همدا دعوه په يوې داسې فرضيې بدلېږي چې رد يې يواځې هله كېداى شي چې پر خلاف يې عكس حقايق پيدا او بربنډ شي. ايا مذهب په دې وېشنه (كتگورۍ) كې ځايېداى شي؟ د مذهب منكرين ان د دې خبرې اجازه هم نه وركوي. دوئ وايي چې مذهب نه يواځې دا چې مسايل يې د پوهېدو وړ نه دي، بلكې سراسر ناسم او بې بنسټه هم دي. حقيقت دا دى چې د استدلال څلورم ډول او معيار بايد د مذهب لپاره هم استمال شوى واى. خو عملاً په خلكو كې سرچپه نظريه منله شوې ده او هغه داسې چې: *د دين د اثبات لپاره بايد فزيكي تشريحات وړاندې شي، كه د وړاندې كېدو وړ نه وي، مذاهب بايد رد او سره كرښه پرې وكښله شي.*

د دين او مذهب خلاف همدا قضيه پخپل ذات كې لوى ټكر لري. كه له يوې خوا ويل كېږي چې دين د داسې عقايدو ټولگه ده چې انځورل او ساينسي تشريح يې ناممكن كار دى او د همدې باور له مخې دا توقع هم بې ځايه ده چې گواكې خلك دې په ډله ييزه توگه دين ومني. ياني دين دې مازې د شخصي- باور او عقيدې موضوع وبلله شي. خو بل پلو، يو غټ شمېر فلسفه پوهان او ساينسپوهان دعوه كوي چې اوسمهاله كشفونو او ساينسي پرمختگونو مذهبي عقايد په ټوله مانا ناسم ثابت كړي دي ځكه خو ان د شخصي- باور او عقيدې خبره يې هم له منځه وړې ده: *مذهب تر تاريخ تېره (ايكسپاير) موضوع ده.*

دا دعوه به یا ظاهري وزن لري او یا به یې نه لري خو پـه حقیقـت کې د خپلمنځي تضاد او ټکر نښه ګرځېدلې ده. که فرضاً ومنو مذهب یوه داسې موضوع ده چې په اړه یې علمي دلیل نه شي کارېدای، بایـد دې ټکي ته هم متوجه شو چې که دیني عقاید او مسایل په علمي توګه نه شي ثابتېدای، په علمي توګه باید د رد قابلیت هم ونه لرلای شي.

د ادیانو منکرین نه غواړي چې د سکې دواړه مخه ووینې. دوئ ته دا خبره هم خونـد نـه ورکـوي چـې د مـذهب منـونکې دي د مـذهب ساینسي توجیه وکړي ځکه د دوئ په اند مذهب د ساینس او ساینس د مذهب له دایرې بهر دی چې لـه املـه یـې د مـذهب پـه اړه ساینسي۔ تشریح او توجیه بالکل د بحث وړ نه ده.

د دې تضاد او ټکر اصلي لامل دا نه دی چې رښتیا هم د مذهب په اړه د ساینسي توضیح ځینې ډولونه صدق نه کوي بلکې اصلي لامل یې دا دی چې د مذهب مخالفین نه غواړي د کومو اصولو لـه مخـې چـې دوئ مذهب رد کړی؛ هغه دي د مـذهب پـه ملاتـړ کـې استمال شي. ځکه که داسې وشول، دوئ مجبور دي چې د مذهب مقبولیت ومنـي. د دې مثال داسې دي چې په قضاء کې دولتـي وکیـل د تـورن خـلاف دلایل وایي خو تورن (ملزم) ته اجازه نـه وي چـې د ځـان دفـاع لپـاره مدافع وکیل ولري. د سرکاري وکیل شتون څرګندوي چې حکومـت دا اصل منلی چې د قضیې د روښانه کېدو په خاطر د وکیـل شـتون اړیـن دی خو ملزم ته اجازه نه ورکوي چې له همدې اصـل نـه پـه اسـتفادې خپل وکیل ولري. ځکه دولت ډار لري چې که تورن ته د وکیـل حـق ورکړي، ممکن تورن سپین ثابت شي.

که اصول دا وي چې حقیقت یواځې هغه څه دی چې تجربې او مشاهدې یې مخامخ ثابت کړای شي، بیا نو د مذهب مخالفینو دریځ یواځې هغه وخت صحیح ثابتېدای شي چې دوئ د مخامخ مشاهدې پرمټ ثابت کړای شي چې د دیني عقایدو مسایل ناسم او بې بنسټه دي. مثلاً دوئ بریالي چې دمخامخ مشاهدې او تجربې په اساس د کائیناتو داخل او بهر ټول وپلټي او بیا ووایي چې موږ دا دی دکائناتو هر داخلي او خارجي کونج وکوت او مالومه مو کړه چې نه خو رب شته، نه یې ملایکې، نه جنت، نه دوزخ او نه... که رښتیا دوئ دې خبرې ته زړه ښه کړي، ځان به یې له داسې کس سره په یو کتار کې درولی وي چې په سل مکعب فوټه کوټه کې یوې بلې خواته گرځي او د مامخ مشاهدې پر مټ وایي چې دا دی زه عملاً کوټه کې شاوخوا گورم، په کوټه کې نه د فیلانو درک شته او نه د زمریانو.

مالومه ده چې دوئ کله هم د همداسې یو کس دریځ ته نه شي رسېدای. دوئ که فرضاً دې کار ته ملا وتړي، نه به پوهېږي چې له کوم ځای یې پیل وکړي. د کار او څېړنې پای خو به پرځای پرېږدو، منېکه پیل یې لا ور مالوم شي چې اخر کار له کوم ټکي پیل شي. نو چې حقیقت دا ډول دی، بیا دا کوم اصل او کومه پوهه ده چې له مخې یې دوئ د دین له صحت نه چور لټ انکار کوي؟ هر څه چې وي، د مذهبي مسائیلو او عقایدو مخامخ مشاهده نه ده بلکې د یو لړ داسې پېښو مشاهدې دي چې دوئ ترې د مذهب پر ناسموالي قیاس کوي. مثلاً کله چې په جاذبې وپوهېدل، دوئ وویل چې د کائیناتو سمبالونکی رب نه دی بلکې خپل منځي جاذبه یې سمبالوي. دوئ دلته په حقیقت کې د همدې نوي کشف څخه قیاس وکړ او ویې ویل

چې رب باید نه وي موجود. په ورته توګه، هیڅ تلیسکوپ د مشاهدې پرمټ نتیجتاً دا خبره نه ده رامنځته کړې چې کائیناتو کې رب نشته بلکې د همدې تلیسکوپ په وسیله د اجسامو خارجي مشاهدې نه دوئ قیاس کړی چې که دا او هغه داسې وي، خدای باید نه وي موجود. په بله وینا، مشاهده او تجربه پخپله د عدمِ وجود په اړه نه وي بلکې د یوې بلې پېښې په اړه وي چې له مخې یې د عدمِ وجود قیاس موجود شي.

زه وایم چې د دین د رد لپاره د استدلال دا اصول چې نن-سبا کارول کېږي، د دین د اثبات لپاره تر ټولو اغېزناکه لاره هم ده. غلطي د استدلال په اصولو کې نه بلکې د همدې اصولو په ناسم انطباق کې ده. که په سمه توګه منطبق شي، نتیجه به یې بالکل پرخلاف (برعکس) وي.

د مذهب په اړه د استدلال څلورم ډول منفي عملي شوی دی په داسې حال کې چې همدغه استدلال د نورو مسائیلو په اړه مثبت منل شوی دی. راځئ د همدغه استدلال له منفي څخه مثبت استمال ته لاړ شو. جالبه ده چې د استدلال همدغه ډول د عضویاتي ارتقاء (اورګانیک ایوولوشن) ملا تړلې ده. عضویاتي ارتقاء نن ورځ د علم په ټولو څانګو کې اغېز لرلی دی او خلګو منلې ده. دا په داسې حال کې ده چې عضویاتي ارتقاء نه خو د استدلال لومړی ډول ثابتولی شي، نه یې د استدلال دویم ډول او نه هم درېیم بلکې څلورم ډول استدلال نه باید کار واخیستل شي او عضویاتي ارتقاء یې له مخې وڅېړله شي. په بله وینا، عضویاتي ارتقاء د څلورم ډول استدلال یوه فرضیه ده.

خو بيا هم عضوياتي ارتقاء د نني نړۍ لپاره يو ساينسي- حقيقت دی. ان دا هم ويل کېږي چې له جاهلو، خرافاتيانو او متعصبو پرته؛ د عضوياتي ارتقاء حقيقت ټولو نورو کسانو منلی او قبول کړی دی.

ماډرن پاکيټ لايبرري (نيويارک) تر (man and the universe) نوم لاندې د کتابونو لړۍ خپره کړې ده. په پنځمه ګڼه کتاب کې يې د چارلس ډاروين د (origin of species) کتاب تاريخ

جوړونکی بللی او په اړه يې ليکلي:

*"انسان چې د خپل نسب او شجرې مالومولو په پار د تاريخ په اوږدو کې کومې هڅې کړې دي، هيڅ يوه نظريه يې له دومره زيات ديني مخالفت سره نه ده مخ شوې لکه د طبيعي انتخاب ( natural selection) نظريه او هيڅ نظريې دومره زيات ساينسي تصديق نه دی خپل کړی لکه د طبيعي انتخاب هغې."*[۳]

يو بل مشهور امريکايي عالم سمپسن (G.G. Simpson) ليکي:

*"ډاروين د تاريخ له غوره شخصيتونو څخه يو دی. ده د انساني علم د پرمختګ لپاره ارزښتناک کار وکړ. د عضوياتي ارتقاء هڅه يې د ساينسي څېړنو په پار رامنځته کړې فرضيه نه بلکې په وروستي او مکمله بڼه يو ساينسي حقيقت ثابته کړه."*[٤]

ښاغلی مندر A.E. Mander ليکي:

---

[۳] Philosophers of Science, P. ٢٤٤

[٤] Meaning of Evolution (N.Y. ١٩٥١) P. ١٢٧.

www.sikaraam.com

*"دا نظریه چې انسان او نور ژوي له اوږده وخت بدلونونو او پرمختګونو وروسته خپل اوسني شکل ته ارتقاء کړې ده، اوس په ملاتړ کې دومره دلایل لري چې تقریبي یقین ته رسېدلې ده.[۵]"*

لل (R.S. Lull) لیکي:

*"له ډاروین را وروسته، د ارتقاء نظریې عامه قبولیت ورځ تر بلې ډېرېږي، ان تر دې چې نن ورځ د پوهانو او مفکرینو سره په دې اړه هیڅ شک نه شته چې ګواکې همدغه یواځینی منطقي لاره ده چې په مرسته یې د پیدایښت موضوع څېړلی او پوهولی شو.[٦]"*

ټول ساینسپوهان او مالومات لرونکي خلک نن ورځ د ارتقاء حقیقت مني؛ دا که د جماداتو ارتقاء ده او یا د حیواناتو: دا چې ځمکه په خورا ساده ډول رامنځته شوه او بیا د خورا زیات مهال په اوږدو کې پر ځمکه ژوند مساعد شو. وروسته د تدریجي دوام لرونکې پروسې په ترځ کې د حیواناتو او نباتاتو ټول حیرانونکي ډولونه، چې نن ورځ یې په سر سترګو لیدلی شو، رامنځته شول. ( ۸۳ پاڼه)

فکر وکړئ چې ارتقا نظریه څومره مقبولیت لري؟ لل (Lull) په خپل ۷۰۰ پاڼې لرونکی کتاب کې پر تخلیقي تصور (سپېشل کرېشن) یوه پاڼه او څو لیکې غږېدلی خو د کتاب ټولو نورې پاڼې یوې د عضویاتي ارتقاء نظریې ته ډالۍ کړې دي. د ۱۹۵۸ انسایکلوپېډیا بریټانیکا د تخلیق په اړه د پاڼې څلورمه برخه ځانګړې کړې ده. خو د

---

[۵] Clearer Thinking, P. ۱۱۳

[٦] Organic Evolution, P. ۱۵

عضویاتي ارتقاء د عنوان په اړه یې څوارلس پاڼې رنګولې دي او لیکلي یې دي چې د ژوند ارتقاء په یوه حقیقت بدله شوې ده او لـه ډارویـن وروسـته یـې د ساینسـپوهانو او مالومـات لرونکـو کسـانو تـرمنځ ټـولیز منښت (General Acceptance) خپل کړی دی.

پوښتنه دا ده چې د کومو دلیلونو لـه مخې اوسـنیو ساینسـپوهانو د عضویاتي ارتقاء نظریه د حقیقت په توګه منلې ده؟ د لنډو خبرو په ترڅ کې به د دوئ د دلایلو جاج واخلم:

۱. د ژویو مطالعه څرګندوي چې په حیوانـاتو کـې اعـلا او ادنـا دواړه ډوله شته. داسې حیوانات هم شته چې یو حجروي دي او داسې حیوانات هم شته چې میلیونونه او بیلیونونه جرې لري. په ورته توګـه، د صلاحیتونو او قابلیتونو له مخې هم په حیواناتو کې اعلا او ادنـا ډولونـه شته.

۲. د ځمکې په قشرونو کې د لرغونو زمانو د ژویـو پـاتي شـوني (Fossil) تـر اوسـه موجـود دي. کـه تـر مطـالعې لانـدې ونیـول شي، مالومیږي چې د وخت او مهال په اعتبار د دوئ تر منځ یو ډول ارتقایي ترتیـب موجـود دی. د ژویـو د بیلیونونـو کلونـو پخـواني پـاتي شـوني څرګندوي چې د دوئ نوعې په لومړیو کې په خورا ساده بڼه موجودې وې، ورو-ورو یې ارتقاء کړې او نور نسـبتاً پیچلـې حـالتونو تـه تبـدیل شوي دي. مطلب دا کیږي چې د ژویو ټولې نوعې په یوخـت کـې نـه دي موجودې شوې بلکې په لومړیو کې ساده نوعې رامنځته شوې دي او همدغو ساده نوعو نورو پیچلو ډولونو ته ارتقاء کړې ده.

۳. بل ارزښتناک ټکی دا دی چې د مختلفو حیواناتو نـوعې سره له دې چې سره مختلفې دي خو د را وروستو ژویـو پـه بیولـوژیکي او

جسماني نظام کې زیات ورته والی لیدل کېږي. مثلاً مرغی ماهي ته ورته ده، د آس سکلیټ د انسان د سکلیټ په څېر دی او نور. دې پایلې ته رسېږو چې ټول حیوانات په یوه کورنۍ سره ګډېږي او بالاخره لومړنی جد یې یو دی.

٤. څنګه له یوې نوعې بله پیدا کېږي؟ راځې یوه پېښه وڅېړو: د یو حیوان پچیان ټول یو ډول نه وي بلکې یو له بل نه یو لږ جوړښتي توپیرونه لري. دا توپیرونه د دوئ په نسلونو کې لا پسې زیاتېږي تر دې چې لکونه نسلونه وروسته د یوې لنډې غاړې لرونکې وزې لور ممکن په زرافه بدله شي. د دې مسئلې اهمیت دومره زیات دی چې د انیمل بیالوجي اډیټرانو ورته د بدلون انتخاب (Selection of Mutation) اصطلاح وکاروله.

راشئ وګورو چې د ارتقاء نظریې د پلویانو نظریات د استدلال پر کوم ډول تکیه کوي. له لږ پام وروسته پوهېږو چې د استدلال څلورم ډول کارول شوی دی. په بله وینا د دوئ د هیڅ یوې دعوې اثرات مخامخ نه دي مشاهده شوي بلکې ځینې داسې بهرنۍ مشاهدې شوې دي چې له مخې یې دوئ د ارتقاء پر شتون باوري شوي دي.

د ارتقاء پلویان خپلې دعوې په مشاهدې او تجربې نه شي ثابتولی. مثلاً دوئ په لابراتوار کې نه شي ښودلی چې څنګه له بې روحه مادې څخه ژوند پیدا کېږي څو له مخې یې استدلال وشي چې ژوند له بې روحه کائیناتو را پیدا شو. دوئ وایي، څېړنې ښیي چې د ځمکې پر سر ژوند نه ؤ موجود، خو ځمکه موجوده وه. له دې ځایه دوئ فکر کوي چې ژوند له بې روحه کائیناتو را پیدا شو. دا پېښه له مور څخه د ماشوم په زوکړه قیاسوي. په ورته توګه دوئ په هیڅ راز ډول ښوونځ کې نه خو تجربه

کړې او نه یې تجربه کولی شي چې څنګه له یوې وزې نه زرافه رامنځته کېږي. اما دوئ د یو ډول نوعې بېلابېل نسلونه چې یو له بل نه توپیر لري په پام کې نیولي او ترې داسې یې فهمولې چې د ارتقاء او بدلون نظریه ګواکې پر حقه ده.

په ورته توګه، دا عقیده هم په مخامخ مشاهدې او تجربې نه شي ثابتېدای چې عقل دې له شعوره رامنځته شوی وي. که فرضاً ومنله شي چې عقل له شعوره انکشاف کړی، دا هم باید ومنله شي چې انسان او حیوانات هم له یوه پښته دي خو انسان ترې ارتقاء کړې ده. دوئ په لابراتوار کې نه شي ثابتولی چې څنګه له شعور نه عقل را منځته کېږي خو دا چې د تجربې په مټ دا خبره مالومه شوې چې د ځمکې په لاندنیو لایو کې داسې فوسیلونه شته چې د شعور نښې لري خو د ځمکې د پورتنیو لایو په فوسیلونو کې د عقل نښې موجودې دي. له دې ځایه دوئ استنباط کوي چې په لومړیو کې یواځې شعور موجود ؤ خو وروسته وروسته ترې عقل رامنځته شو.

د دې ډول ټولو دلایلو نوعیت دا دی چې د دعوې/فرضیې او دلیل تر منځ اړیکه تجربوي او مشاهداتي نه بلکې محض قیاسي اړیکه ده. خو بیا هم پر همدې ډول دلایلو استناد شوی او د ارتقاء نظریه یې معاصر انسان ته د یو ډول ساینسي حقیقت په توګه ور پېژندلې ده. *ګویا معاصر ذهن یواځې هغه موارد د حقایقو په توګه نه دي منلي چې په مخامخ تجربه موندل شوي دي بلکې هغه مواردو ته هم ساینسي-حقایق وایي چې د ګڼو نورو پېښو له مشاهدې څخه پایله اخیستله شوې او پرې*

*استدلال شوی وي او په اصطلاح (inferential procedure) یې طـی کړی وي.*

زه د ارتقاء نظریې پر ربښتینولۍ او دروغولۍ نه غږېږم، ځکه دلتـه د ارتقاء نظریه نه بلکې د استدلال پر معیار بحث روان دی. د استدلال هر ډول معیار که وي، ورځخه ثابتېـدونکې خـبره ممکـن سـمه یـا ناسـمه وخېژي.

په ساینس کې هـره ورځ نـوي نظریـات راځـي او زاړه ردېـږي. ان ځینې داسې نظریات هم ردېږي چې د مشـاهداتي اسـتدلال لـه مخـې رامنځته شوي وي.

د استدلال یو ډول معقـول بلـل پـه دې مانـا نـه دي چـې ورځخـه وړاندې کېدونکې ټولې خبرې دې سـمې او کـره وي بلکـې شـونې ده چې کله ناکله یې نتیجه ناسمه هم وخېژي. خو بیا هم د استدلال معیار تر پوښتنې لاندې نه شي راتلای بلکې همداسې به باقي وي.

Sir Athur Keith چې د ارتقا نظریـې کلـك پلـوی دی، د ارتقـا نظریې په اړه وایي چې ارتقـاء د عقلیـت مـذهب (rationalism) یـوه بنسټیزه عقیده ده. په یوه بله ساینسي انسایکلوپېډیا کې لیکل شوي چې ارتقاء یوه داسـې نظریـه ده چـې اسـاس یـې پـر بِلامشـاهده توضـیح ( Explanation without demonstration) رغول شوی دی.

نو یو داسې څه چې په لاتوار کې یې تجربه ناشونې وي او محض عقیده وي، ولې او څنګه د یو علمي حقیقت په توګـه منلـه شـوې ده؟ مندر A.E. Mander دې پوښتنې ته په ځواب کې وایي:

*۱. دا نظریه له ټولو معلومو حقیقتونو سره جوړه راغلې.*

۲. *له دې نظریې پرته پر ډېرو پېښو نه پوهېږو خو د نظریې په مرسته ورته معقوله تشریح موندلی شو.*
۳. *بله هیڅ داسې نظریه چا نه ده ورکړې چې له واقعـاتو سره تر دې نظریې زیات مطابق ولري*[۷]."

که د استدلال همدا طریقه ومنله شي او پـه مرسـته یـې عضـویاتي ارتقاء ته د حقیقت خطاب وشي، دې ته هـم بایـد اجـازه ورکړلـه شي چې د استدلال د همدې معیار په مرسته د مذهب ملا وتړله شي. دا چې د دواړو موضوعاتو ترمنځ موازي کرښې موجودې دي، دا به ډېر بېځایه دریځ وي چې د ارتقاء نظریې دې ملا وتړلـه شي خـو مـذهب نـه دې چورلټ انکار وشي.

د استدلال څلورم معیار په اړه مو زیاتې خبرې وکړې. حاصـل یـې دا دی چې د دعوې/فرضیې د صحیح ثابتولو لپاره له مخامخ تجربې یا مشاهدې نه ګټه نه شي اخیسـتله کېـدای بلکـې اسـتنباط (inference) یواځینی لاره وي چې په مرسته یـې دعوا/فرضـیه توجیـه کېـدای شي. پوښتنه دا ده چې څنګه باور وکړو چې زموږ استنباط به صحیح وي؟ په دې کې شک نشته چې استنباط کې تېروتنه شونې ده او ممکـن ځینـې وخت ټول استنباط ناسم وخېژي، خو بیا هم د استدلال د څلورم معیار صحت تر پوښتنې لاندې نه شي راتلای. ولې؟ ځکه که د ناسم استنباط امکان او شتون د استدلال معیار تر پوښتنې لانـدې راوسـتلی شـوای؛ د استدلال لومړی، دویم او دریم پړاو؛ چې ټول ساینس پـرې بنـاء دی، هم باید ناسم وبولو؛ ځکه همالته هم استنباط ناسم ختلی شي.

---

[۷] Clearer Thinking, P. ۱۱۲

له استثناء پرته، د ساینس ټولو نظریاتو حاصل دا دی چې پخپله نظریات د مشاهدې وړ نه دي بلکې د ځینو خارجي مشاهداتو له امله یو شمېر نظریات منل شوي، نور رد شوي یا بدل شوي دي. د منل شویو نظریاتو په اړه هم ویلی شو چې نظریه او تجربه پخپله منځ کې مخامخ اړیکه نه لري بلکې استنباط سره وصل کړې دي. مثلاً د ساینسپوهانو دا وینا چې *برېښنا له الکتروني حرکت څخه عبارت ده* داسې نه ده چې دوئ د برېښنا مزي کې د کوم زره بین په مرسته الکترونونه د حرکت په حال کې لیدلي دي. دوئ مازې تجربه کړې چې د سویچ په کېکاږلو گروپ بلېږي. پام وکړئ! مشاهده شوې پېښې (د کروپ بلېدل او...) ټولې بهرنۍ دي او د همدغو بهرنیو پېښو له مشاهدې څخه دوئ استنباط کړی دی چې گواکې نو الکترون نومې ذره دې په حرکت کې وي. پایله دا کېږي چې *د ساینس ټول نظریات* مازې *قیاسي مفروضې* دي او د ثابتولو لپاره یې یواځې او یواځې د معیار څلورم ډول کارول کېدای شي.

د استدلال د دریم او څلورم ډول ترمنځ یواځینی توپیر دا دی چې په دریم ډول کې مشاهده له فرضیې سره مخامخ اړیکه لري خو په څلورم ډول کې مستقیمه اړیکه نه شته بلکې نورې بهرنۍ پېښې مشاهده کېږي او ترې استنباط او فهم اخیستل کېږي. د دوئ ترمنځ دا توپیر هله بې ارزښته کېږي چې متوجه شو ان په دریم ډول کې، که څه هم تجربه او مشاهده زیاته مستقیمه او مخامخ وي، بیا هم تر مشاهدې لاندې پېښه پخپله حقیقت نه بلکې په اصل کې د (حقیقت) څرگندونکې یوه بهرنۍ پېښه ده. دا د تلېفون شمېرې ته ورته موضوع ده. د کس د تلېفون شمېره سره له دې چې د کس اړونده وي خو بیا

هم د تلیفون شمېره او کس سره بېل دي. د ساینسپوهانو تجربې او مشاهدې هم همداسې مثال لري؛ پخپله حقیقت نه بلکې د دوئ په ذهن کې له حقیقت سره تړاو لرونکی تصویر وي. له دې ځایه ده چې کوم ساینسپوه ویلي: *نظریې په دماغ کې موجود انځورونه دي چې یو هره یوه یې یو مالوم قانون یا اصل تشریح کوي.*

د سویچ کېکاږل او د ګروپ بلېدل څرګندوي چې د سویچ او ګروپ ترمنځ یوه ځانګړې اړیکه شتون لري خو له دې سره-سره پخپله اړیکه بیا هم نامرئی (پټه) پاتېږي. په بله وینا، دا زموږ استنباط دی چې سویچ او ګروپ یې سره په اړیکه کې کړی دی. وینو چې د سویچ او ګروپ اړیکه یا د الکترونونو جریان که په سترګو نه لیدل کېږي، بیا هم فهمول کېدای او استنباط کېدای شي. خو له دې سره-سره دا موضوع بیا هم له بحث څخه نه ده خالي چې ایا رښتیا هم د الکترونو حرکت نظریه په خپل ذات کې یوه حقیقي نظریه ده که نه؟ څنګه چې د تېروتنې امکان یو ساینسپوه له دې نه شي راګرځولی چې ساینسي-نظریې رامنځته او ترې دفاع وکړي-صحیح یې ثابتې کړي- په ورته توګه باید مذهبي اشخاصو ته هم اجازه وي چې د تېروتنې له شتون سره-سره نظریات رامنځته او ترې دفاع وکړي.

## د برټرانډ رسل نظریات

د ۱۹٦٦ کال کیسه ده. ما وپتېیله چې د برټرانډ رسل کتابونه او نظریات به ټول مطالعه کوم. برټرانډ له ۱۸۷۲ تر ۱۹۷۰ پورې پوره یوه پېړۍ ژوند کړی دی. له ښه مرغه نژدې کتابتون کې مې یې ټول کتابونه پیدا او وپېرل. کور ته چې د رسل د کتابونو له پنډ سره ننوتم، مېرمنه مې حیرانه شوه، راته وې ویل: *اوس به نو ضرور بې لارې کېږې.* حقیقت دا دی چې برټرانډ رسل د اوسنۍ زمانې تر ټولو وتلی ملحد دی او مطالعه یې دومره پراخه او اغېزناکه ده چې له لوستلو وروسته یې د دې ویره شته چې کوم کس دې سیده تر الحاده ورسوي. د رب شکر ادا کوم چې د برټرانډ نړۍ ته ننوتم، مطالعه مې کړ او په داسې حال کې ترې را ووتم چې تر پخوا مې ایمان لا زیات ځواکمن شوی ؤ.

د برټرانډ رسل کار د معاصرو فلسفه پوهانو ترمنځ تر ټولو زیات وتلی او هر اړخیز کار دی. په دې لړ کې یواځې یو بل نوم شته چې مطالعه او کار یې ممکن له رسل سره په یو کتار کې ودرولی شو. دا کس وایټ هیډ Whitehead نومېږي. وایټ هیډ د برټرانډ هممهاله او ملګری فیلسوف دی. د رسل ژوند څه باندې یوه پېړۍ وخت ونیو؛ په وینا یې، دی ټول عمر د دوو شیانو تحقیق کې مصروف ؤ؛ داچې "*موږ د څومره شیانو په اړه ویلی شو چې پوهېږو او زموږ د علم څومره برخه یقیني او څومره برخه له اشتباه ډکه ده*[۸]."

---

[۸] My Philosophical Development, P. ۱۱

همدې دوه پوښتنو ته د ځواب په موخه رسل د ساینس څلور برخې تر مطالعې لاندې ونیوې: فــزیک، فزیالوژي، ارواپوهنه،او ریاضیکي
منطق (متیمټیکل لاجیک)[9].

له مطالعې وروسته د ده تر ټولو لومړی کار دا ؤ چې شکاکیت یې رد کړ. ده وویل: "*تشکیک له نفسیاتي پلوه ناممکن شی دی.*"[10]

البته دلته انسان په دوه اړخیزه ستونزه کې راګېرېږي. یو خو دا چې موږ نه پوهېږو او وروستی حق (ultimate truth) زموږ د پوهې ساحه کې نشته. اوس نو چې نه پوهېږو، ژوند به څه ډول پر مخ بیایو؟ دویم دا چې که د ژوند په رازونو سر خلاصول غواړو، دې لاره کې دومره ستونزې دي چې بریالیتوب ته رسېدل زموږ د وس خبره نه ده.

له ډېرو پخوا زمانو څخه فلسفې زیاتې غورې کولې خو په عمل کې یې حاصل د نورو علومو په پرتله خورا کم دی.

رسل په خپله یوه سلیزه ژوند کې څه خاصه فلسفه نه ده رغولې. پروفیسور الن ووډ په دې هکله وایي: برټرانډ رسل یو داسې فیلسوف دی چې پخپله هیڅ راز فلسفه نه لري.

منطق او ریاضي د حقیقت ترلاسه کولو او پرې د پوهېدلو وسیله ده؛ خو رسل یې په اړه وایي:

"*منطق او ریاضي پخپله کتاب نه، بلکې د طبیعت د کتاب الفبا دي.*"[11]

---

[9] Ibid. p.۱٦.
[10] Human Knowledge, p.۹.

د رسل په اند علم په دوه ډوله دی: *د شیانو پوهه او د حقیقتونو پوهه*[۱۲]. د شیانو پوهې ته د حس-وړ پېښو علم هم ویل کېدای شي. خو د حس-وړ پېښو هاخوا نور هم زیاتې داسې پېښې او حقایق شته چې حس کېدای نه شي. د ده په اند د دویمې وېشنې (کټګورۍ) په اړه مالومات په حس (لیدلو، لمس کولو او...) نه شي ترلاسه کېدای بلکې باید په اړه یې مالومات له نورو بهرنیو پېښو څخه د استنباط او قیاس په مرسته ترلاسه شي. د رسل په وینا: "*صحیح او کره استنباط ممکن دی، خو باید ساینسي استنباط وي*[۱۳]."

رسل وایي، ټول هغه شیان چې موږ یې مخامخ مشاهده او تجربه کولی شو، باید ورته شمېر و اعداد (Data) ووایو. ډاټا موږ په تجربوي حواسو (سمعي، بصري او لمسي) مالومولی شو خو د کائیناتو په اړه زموږ ساینسي تصور د تجربوي حواسو په مرسته نه شو مالومولی بلکې د کائیناتو په اړه زموږ ساینسي تصور په ټوله مانا یوه استنباطي نړۍ ده او بس. دی وایي: "*د خلکو تصورات د هغوئ دماغونو کې دي، په بهرنۍ نړۍ کې یې تصورات هیڅ راز شتون نه لري.*[۱٤]"

له پراخې مطالعې وروسته دی بالاخره دې نتیجې ته ورسېد چې (تجربې) ته له حده زیات اهمیت ورکړل شوی دی. ده وویل چې خلك باید پوی شي چې تجربیت د فلسفې په توګه خپل محدودیتونه

---

[۱۱] *Our Knowledge of the External World.* p.۱۳.
[۱۲] *My Philosophical Development. p.۲۷۷.*
[۱۳] *The Problems of Philosophy, p.٤٦*
[۱٤] *My Philosophical Development, p.٤٦.*

لري[۱۵]. رسل زیاتوي: *"زما په باور نژدې ټولو فلسفه پوهانو په دې اړه تېروتنه کړې چې په تجربه څه ثابتېدای او څه نه شي ثابتېدای."*[۱۶]

برټرانډ رسل بل ځای لیکي:

*"له بده مرغه نظریاتي فزیک اوس هغه د اوولسمې پېړۍ پخوانی فزیک نه دی او نظریاتو کې یې هغه پخوانی یقین او خوند نه دی پاتې. نیوټن څلور بنسټیز مفاهیم تشریح کړل: وخت، ځای، قوه، او ماده. اوسمهالو فزیکپوهانو واړه مفاهیم ګوښې ته کړي دي. د نیوټن لپاره وخت او ځای دوه بېل مفاهیم ول خو اوس وخت کې ورته ځای- وخت (Space-time) ویل کېږي چې ځانګړی لویوالی نه لري بلکې محض د اړیکو یو نظام دی او بس. مادې هم خپل نوبت تېر کړ او په یو شمېر پېښو ووېشل شوه. قوه هم باید بدله شوې وای ځکه خو یې د انرژۍ نوم خپل کړ. انرژي پخپله یو داسې شی ده چې تصور یې مشکل کار دی. په فلسفې کې چې یې علت (Cause) باله او فزیکپوهانو ورته د قوې نوم کاراوه، هغه هم وشوړېد او زوړ شو. دومره زوړ چې د ورکېدا دعوه یې نه کوم خو لږ تر لږه دومره ویلی شم چې هغه پخوانی مزه یې نه ده پاتې."*[۱۷]

دی وایې، زما د ټول عمر د څېړنو حاصل دا دی چې هغه استنباطونه هم صحیح دي چې مخامخ نه شي مشاهده کېدای (۲۰۴ پاڼه). دی زیاتوي چې که له ورته استنباطونو انکار وکړو، د ساینس ټول نظام او ان د انسانانو ورځنی ژوند به وسره په ټپه ودرېږي. د رسل

---

[۱۵] *My Philosophical Development, p.*۱۹۱
[۱۶] *My Philosophical Development, p.*۱۹٤
۱۷ Ibid., p.۲٥.

په اند ساینس په دوو، حقیقي او اعتقادي برخو وېشل شوی دی. نوموړی زیاتوي چې ساینسي پرمختګ د اعتقادیاتو برخه ورځ تر بلې زیاتوي. د ساینس ځینې برخې د مشاهدې وړ حقایق دي او پاتې برخې یې استنباط شوې دي او مخامخ د مشاهدې قابلیت نه لري. دی ځکه پایله اخلي چې ټولیز تردید (شکاکیت) نه خو قبلېدای شي او نه ردېدای[18].

دی وایي چې د حس کېدو وړ حقایق او د ساینس نوره حقیقي برخه دې د فلسفوي څېړنو لپاره د لومړنیو مالوماتو یا ډاټا په بڼه وکارول شي، ځکه سره له دې چې دوئ سل په سلو کې دقیق نه دي خو بیا یې هم کره توب د فلسفې لپاره تر بل هرڅه زیات دی[19].

دلته به د رسل ځینې هغه خبرې اقتباس کړم چې زما په اند د ده د فکر ټولیز انځور وړاندې کولی شي:

دا هیڅکله نه ده فهمول شوې چې د نظري فزیک ( theoretical physics) مالومات تر کومه حده مجرد (abstract) دي. په اصل کې نظري فزیک یو لړ معادلې او فورمولونه وړاندې کوي چې په وسیله یې د پېښو منطقي قالب بیانېدای شي. خو د پېښو باطني حالت ټول وخت نامالوم پاتې وي. په نظري طبعیاتو کې هیڅ داسې شی نشته چې موږ ته د پېښو د باطني حالت په اړه مالومات راکړای شي. فزیک له یولړ معادلو او د هغو د متحولاتو له قیمتونو پرته بل هیڅ نه شي

---

18 Ibid., p.I۷.

19 Ibid., p.۲۰٦.

راکولی. خو دا چې متحول څه شی دی او چېري تحول کوي، په دې اړه فزیک بې ځوابه دی.

رسل د خپل کتاب (my philosophical development) د non-demonstrable inference باب په دې ټکو پای ته رسوي:

... there is no such claim to certainty as has too often and too uselessly, been made by rash philosophers. ( p.۲۰۷)

ژباړه: پوخ باور او سوچه حقیقت ته د رسېدو هیڅ راز دعوه شتون نه لري خو بیا هم سرسري فیلسوفانو ډېری وخت ورته دعوې کړې دي.

له دې مطالعې سره سم رسل ته یواځې دوې لارې پاتېږي: یا به تشکیک ته پناه وړي او یا به د دین ربښتینولي مني. څنګه چې موږ د مفاهیمو/حقیقتونو په ظاهري جوړښت خبرېدای شو خو له باطنه یې ځان په پوره مانا نه شو خبرولی، همدا لامل دی چې انسان ته دوې لارې پاتېږي؛ یا به وایي چې تر هغو هیڅ شی نه شي منلی چې په اړه یې ټول مالومات په مخامخ توګه ترلاسه کړي. له بلې خوا پوهېږو چې تر دمګړۍ داسې هیڅ امکان نشته چې د مفاهیمو او حقیقتونو له باطنه دې ټول مالومات ترلاسه شي. ځکه خو همداسې یو کس ته یواځینۍ بله لاره دا ده چې له هرڅه انکار وکړي. خو رسل دا دریځ نه مني او وایي: له ظاهري جوړښت و بنې څخه د شیانو او مفاهیمو د باطن په اړه استنباط شوي باورنه هم په پوره توګه د منلو وړ دي. له دې وینا سره سم رسل د دین دایرې ته خورا نژدې تللی دی، ځکه دین هم وایي چې انسان په خپلو محدودو حواسو د حقیقت پوره درک نه شي کولی

خو په څرګندو کائیناتو کې چې کوم شیان وینې، ترې قیاس کولی شي چې تر شا یې کوم حقیقت ارومرو پټ دی. مګر حیرانوونکې خبره دا ده چې د رسل په څېر ذهین شخص نه خو تشکیک مني او نه دین. دا یې له یاده ایستلې چې په دې ډول د خپلو منل شویو اصولو له مخې د یو څرګند تضاد ښکار دی. رسل په څرګنده مني چې یوه داسې عقیده هم صحت لرلی شي چې مخامخ تجربه یې نه وي شوې. دی د ځمکې لرغونی تاریخ او د فلکیاتو لیرې پرتو برخو په اړه استنباط شوي مالومات د ورته عقاید د بېلګو په توګه یادوي. دی وایي:

I commit myself to the view that there are valid processes of inference from events to other events....More particularly, from events of which I am aware without inference to events of which I have no such awareness. (p. ۱۰)

زه د استنباط داسې معقولې طریقې منم چې په وسیله یې له ځینو پېښو د ځیني نورو استنباط کېدای شي. یانې له هغو پېښو څخه چې زه یې په اړه مخامخ خبرتیا لرم، د هغو پېښو په اړه استنباط کولی شم چې زه یې په اړه هیڅ مالومات نه لرم.

رسل همدا خبره بل ځای په دې ټکو کې کړې ده:

I do think that there are forms of probable inference which must be accepted although they cannot be proved by experience. (p. ۱۳۲)

www.sikaraam.com

زه منم چې د استنباط ځینې داسې معقولې طریقې هم شته چې ترې ثابتېدونکې خبره به پرته له دې منو چې په تجربه یې ثابته کړو.

له دې څرګند اعتراف سره سم لږ تر لږه د رسل په اند دین د یو داسې شي اعتبار نه لري چې په دلیل نه شي ثابتېدای ځکه دی چې دلته د جایز استدلال کوم معیار مني دا عین د استدلال هماغه معیار دی چې په وسیله یې د دین رښتینولي ثابتېږي.

د لا حیرانتیا خبره دا ده چې رسل په غیر مستقیم ډول منلې ده چې د دین په ملاتړ کې داسې استنباطي دلایل هم شته چې دی یې ساینسي استنباط ګڼي خو له دې سره-سره نوموړی د ډېرو سرسري لاملونو په یادولو هغه دلایل ردوي.

دلته زه د برټرانډ رسل له کتاب زه ولې عیسوي نه یم څخه یو اقتباس نقلوم:

*"د نړۍ ټول لوی دینونه: بوداییزم، هندوییزم، عیسویت، اسلام او کمونیزم. ټول هم ناسم ګڼم او هم تاواني... سمه ده چې متقدمینو ځینې دلایل رامنځته کړي او په اړه یې ویل کېږي چې منطقي دلایل دي چې د الله وجود پرې ثابتېږي. دا او دې ته ورته نور دلایل سترو فیلسفوانو منلي دي. مګر هغه منطق چې د دې دودیزو دلایلو بنسټ پرې ولاړ دی، د ارسطو لرغوني منطق دی چې اوس له څو دیناپالو پرته، ټولو منطق پوهانو رد کړي دي. رسل تر دې وروسته لیکي: په دې دلایلو کې د کائیناتو د نظم دلیل یوځه منطقي دی، خو ډاروین دا دلیل هم بې اساسه ثابت کړ."*

د دې اقتباس تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د کائیناتو د نظم دلیل رسل په منطقي ډول یو جایز دلیل بللی خو په اصولي ډول د هغه د منطقي معقلویت په منلو د رسل وینا ده چې ډاروینیزم یې استدلالي ارزښت بېخي له منځه وړی او یا یې لږ تر لږه د هغه اهمیت بېخي کم کړی دی. موږ غواړو د رسل پر دې وینا لږ تفصیلي رڼا واچوو.

د رسل وینا ده چې دین په کائیناتو کې د یو نظم (ډیزان) دعوه کوي او دا نظم د دې خبرې ثبوت دی چې تر شا یې یوه شعوري هستي شته. که داسې نه وای نو کائینات به د بې ترتیبه انبار په څېر وای.

د رسل په اند دا دلیل د اصولو له مخې سم دی خو دی وایي چې ډاروین د حیاتي اثارو د مطالعې په وسیله ثابته کړې چې پر ځمکه د ژوند بېلابېل منظم او مانا درلودونکي ډولونه په حقیقت کې د میلیونونو کلونو مادي بدلونونو په پایله کې رامنځته شوي. د بېلګې په توګه زرافه هیچا نه ده پنځولې بلکې د وزې په څېر یو حیوان تر اوږد فطري عمل وروسته پخپله د اوږدې غاړې لرونکی شکل خپل کړی دی.

دلته زه پر ډارونیزم تفصیلي خبرې نه کوم البته دومره وایم چې رسل د دې استدلال اصولي معقولیت منلی خو بیا یې د ډېر کمزوري لامل پر بنسټ رد کړی دی.

لومړۍ خبره دا ده چې ډاروینیزم د تیورۍ په توګه لا هم نه ده ثابته شوې. په دې سره یواځې دومره ثابتېږي چې د ژوند بېلابېل ډولونه پر یوه وخت نه دي رامنځته شوي بلکې په بېلابېلو وختونو کې پنځېدلي دي او هغه یو ځانګړی زماني ترتیب دی. یانې د ژوند ساده ډولونه

لومړی او پېچلي وروسته رامنځته شوي. مګر دا خبره تر اوسه هم په یقیني ډول ثابته نه ده چې ډېر پېچلي او حیراونونکي ډولونه په حقیقت کې د ژوند د لرغونو ساده ډولونو پرمختللي شکلونه دي چې د مادي عمل په نتیجه کې پخپله له هغوئ راپیدا شوي او ترې ارتقاء یې کړې ده. لومړی خبره یقیناً له مشاهدې څخه اخیستل شوې مګر دویمه خبره په قطعي ډول د ارتقاء پوهانو خپله نظریه ده چې بنسټ یې یقیناً نه خو مشاهده ده او نه تجربه. دا په داسې حال کې چې د رسل د خبرې انداز د ارتقاء تیورۍ پر مشاهداتي اساساتو فرض کړې ده او همدلته ده چې ده لویه تېروتنه کړې.

د ارتقاء د تیورۍ همدا ضعف پخپله ارتقاء پلوه پوهان هم مني. د بېلګې په توکه ښاغلي ارترکېت ویلي:

له همدې امله د ارتقاء مسئله پر دوو برخو وېشل شوې ده: یوه د ارتقاء نظریه او بله د ارتقاء لامل. ویل کېږي د ارتقاء نظریه یقیني ده مګر لامل یې لا هم جوت نه دی. یانې یوه برخه د ارتقاء نظریه ده چې څنګه ژوندیو موجوداتو له ابتدایي حالتونو ارتقاء کړې او بل د ارتقاء لامل دی. په بله وینا دا چې ولي ارتقاء وشوه. پوښتنه دا ده، څو چې اسباب مالوم نه وي، یوه نظریه ولي یقیني وبلله شي. ګواکې د ارتقاء نظریه یوه داسې تیورۍ ده چې دلیل یې لا هم موندل شوی نه دی خو له دې سره-سره د ارتقاء خوښونکو پوهانو له خوا د یوې ثابتې نظریې په ډول منله شوې ده.

اوس نو دا دعوه چې ګواکې همدې بې اساسې نظریې د دین بنسټونه لړزولي، خورا منځتشې او غیر معقوله ایسي.

دویمه مهمه خبره دا ده چې، که فرضاً د ارتقاء تیوري ثابته هم شي او دا ومنله شي چې ګواکې ژوندي موجودات له ابتدايي حالتونو پېچلو هغو ته تللي، هم رسل او لاره تلونکې يې نه شي کولی چې له مخې يې دین رد کړي. ځکه بیا به نو اول دا خبره فرض کېږي چې د الله د خلقت طریقه دا نه ده چې له اوږدې مرحلې وروسته دې یو شي ته وجود ورکړي. خو په حقیقت کې دا مفروضه سراسر ناسمه ده. په اصل کې هغوئ چې له ارتقاء اغېزمن دي، د همدې ناسمې مفروضې له مخې ورته د تخلیق نظریه ناسمه ایسېدلې ده.

سره له دې چې له ماشوم څخه په ځلوېښت کلنۍ کې انسان او له نیالګۍ څخه په نیمه او یا یوه پېړۍ کې ونه جوړېږي خو بیا هم د الله د خلقت په اړه د انسان عقیده زیانمنه نه شوه. د الله پر کامل قدرت د باور لپاره ده هیڅکله اړینه ونه بلله چې نیالګی او ماشوم دې په یو ځل پوره ونه او بشپړ انسان شي. همدارنګه، که په راتلونکې کې یوه څېړنه ثابته کړي چې د ژوند اثار په یو ځل نړۍ ته نه دي راغلي بلکې تر اوږده ارتقايي عمل وروسته رامنځته شوي دي نو په دې سره به ولې دین ته د بیاکتنې او یا د هغه د نه منلو پوښتنه رامنځته شي؟.

## وروستۍ خبره

زما په اند د برټرانډ رسل تېر بیان د یو ملحد له خولې پخپله د دین پر اصولي صداقت اعتراف دی، ځکه دی مني چې کائینات ډیزاین شوي دي او دا پخپل وار د دې ټکي پر منلو دلالت کوي چې د ډیزاین شویو کائینات لپاره باید ډیزان کوونکی ځواک هم ومنل شي. رسل د یادې خبرې د رد لپاره پر ډاروینیزم تکیه کوي او په دې توګه خپله مقدمه د یو کمزوري بنیاد له مخې پخپله ردوي. حقیقت دا دی چې د ډیزاین شتون یو منل شوی ټکی دی خو ډاروینیزم د اثبات پرخوا هم نه دی ورغلی. پایله دا کېږي چې د ډیزاین شتون یو منل شوی حقیقت دی چې له مخې یې د ډیزاین کوونکی شتون هم ثابتېږی. ډاروینیزم د دې وړ نه دی چې له مخې دې یې کوم رسل یاد دلیل رد کړای شي.

## د کائناتو ماشيني (مېخانېکي) تعبير

په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې ملحد مفکرينو ته هله موکه پـه لاس ورغله چې ساينسپوهانو په کائيناتو کې د علت او معلول ( Cause and Effect) نظام د شتون خبره وکړه. دوئ وويل چې د علـت او معلـول د نظام شتون ثابتوي چې رب نشته او دا پخپله د خـداى ساينسي-بـديل دی. سره له دې چې ساينسپوهانو کله هم داسې خـبره ونـه کـړه؛ مـثلاً نيوټن به ويل چې رب د اسبابو او عللو له مخې په کائيـناتو کـې خپلـه اراده تمثيلوي. خو هغوئ ته چې د نوي ساينسي موندنو په رڼا کې يې فلسفه تشکيلوله، د علت او معلول په نظام کـې د الحـاد ثبـوت ښـکاره شو.

د علت او معلول نظريې له منځته راتګ سره د کائيناتو د ميخانيکي تعبير نظريه هم رامنځته شوه. د همدې نظريې له مخـې اسـتدلال وشـو چې په کائيناتو کې ټولې پېښې پرته له کومې بهرنـۍ مـداخلې څخـه د مادي اسبابو او علتونو له مخې رامنځته کېږي او دا چې ټول کائينات د علت او معلول د يوې مسلسلې لړۍ څخه جوړ شوي دي.

۱۸۷۴ کال کې د يوې چاپېدونکې انسايکلوپېډيا مالومـات پـه دې ډول دي:

"فلسفه پوهان، کيمياپوهان، فزيک پوهان او بيولوژي پوهان باوري دي چې له يوه ځانګړي علت څخه تل يو ډول نتيجه را منځته کېږي. د يوه مثال مفهوم به بل هر ځاى چې عين علت واقع شي، تکرارېږي. له دې ځايـه ده چې پـه طبيعي علومـو کـې د تعليـل قـانون ( *Law of*

www.sikaraam.com

*Causation*) په اړه هیـــڅ راز اختـــلاف نـه دی پاتـــــي شـوی. یواځـــې مابعدالطبیعیـــــــات (میتافیزیکس) په برخه کې په دې اړه اختلاف موجود دی.[٢٠]

خو د دې مفکرینو خوشالي زیات وخت دوام ونه کړ. د شلمې پېړۍ پیل کې ساینس له یو لړ داسې مسئلو سره مخ شو چې میخانیکي تعبیر یې په هیڅ ډول نه شوای کېدای. د بېلګې په توګه، ساینسپوهانو ومونده چې د رادیم زرې الکترونونه تر فطري عمل لاندې په پرله پسې توګه ماتېږي. په دې اړه زیاتې تجربې وشوې خو ان نن هم نه ده مالومه چې د رادیم د رادیو اکتیف د خاصیت علت څه شی دی. په بل عبارت، ولي د رادیم د کومې ټوټې د اتوم له مدار څخه یو ځانګړی الکترون ازادېږي؟ یادې پوښتنې ته ساینس تر نن ورځې ځواب نه دی موندلی. په ورته توګه، ساینسپوهانو ان نن هم نه ده موندلې چې ولې میقناطیس د ځان خواته د اوسپنې ټوټې کش کاږي. په دې اړه یو ساینسپوه وایي: *رښتیا خبره دا ده چې موږ نن هم نه پوهېږو چې ولې د میقناطیس خواته د اوسپنې ټوټې جذبېږي؛ ممکن میقناطیس ته به د رب له لورې همدا امر او دنده ورکړله شوې وي.*

خبره یواځې تر رادیوم او میقناطیس نه ده محدوده. پراخو مطالعو موندلې، پخوا چې به ځینې خبرې د یو شمېر پېښو لپاره سبب بللې کېدې، په اصل کې د اصلي پېښې سطحي مطالعه وه. حقیقت دا دی

[٢٠] Chamber,s Encyclopedia (١٨٧٤) v. ٢, p. ٦٠١

چې موږ د هیڅ پیښې په اړه دقیقاً نه پوهېږو چې ولې داسې کېږي. موږ په دې هم نه یو خبر: *د شپې چې ویده شو، ولې خوب راځي.*

له اږده تامل وروسته، نن ورځ د ساینس نړۍ منلې ده چې د تعلیل قانون په هغه مانا مطلق حقیقت نه دی، څنګه چې په نولسمه پېړۍ کې خلکو فرض کړی ؤ. د علم مساپر له اوږده واټن وهلو وروسته بیرته هماغه ټکی ته رسېدلی، چې ترې حرکت یې کړی ؤ او هغه دا چې د کائناتو نظام مازې په اټکلي توګه رامنځته شوی او د کوم علت و تعلیل د قانون لاندې چلېدونکی نظام نه دی بلکې تر شا یې یو شعورې ذهن شتون لري او د هغه په اراده چلېږي. د ساینس همدغه شاته ستنېدنه پخپله د دین تر ټولو لوی ثبوت دی.

په تېرو پنځوسو (۵۰) کلونو کې په دې اړه زیات شمېر کتابونه لیکل شوي دي خو د تعلیل اصولو په اړه راروان ډېري اخځونه د سر جیمز جینز کتاب له اسرارو ډک کائینات (mysterious universe) څخه اخیستل شوي دي.

پر کائناتو د غور کولو په مهال تر ټولو لومړۍ پوښته چې ذهن ته راځي، دا ده چې د دې پراخ لمنو کائناتو جوړونکی او سمبالونکی څوك دی. په پخوا زمانو کې د خلکو ګروهه دا وه چې د کائیناتو سمبالونکی یو نه بلکې زیات شمېر پټ ځواکونه دي. یانې زیات شمېر واړه خدایان دي چې د یو لوی خدای تر امر لاندې کار کوي او کائینات سمبالوي. ان نن ورځ هم زیات شمېر خلك او ټولنې همدا نظریه لري. خو په علمي نړۍ کې خبره بدله ده. د علم نړۍ دې نظریې ته شا کړې ده او په حقیقت کې اوس یاده نظریه ژوندۍ نه بلکې

مېږژواندي او بې ارزښته شوي ده. د اوسمهالې نړۍ هغه شمېر خلکو چې ځان ته روڼ اندي، پوه او معاصر وايي؛ د شرک پر ځای الحاد ته مخه کړې ده. د دوئ په باور د نړۍ هست کوونکی ځواک شعوري نه دی بلکې دا کائنات په اتکلي توګه رامنځته شوي دي. د دوئ په باور، کله چې یوه پېښه رامنځته کېږي، له امله يې نورې پېښې پخپله زېږي او د اسبابو او واقعاتو یوه اوږده لړۍ پیل کېږي. همدا د اسبابو لړۍ ده چې کائینات يې په خوځښت راوستي دي. د دې نظريې بنسټ پر دوه شیانو رغېدلی: اتکل/اتفاق او د تعلیل قانون (law of causation).

د دې نظريې له مخې له نن څخه شاوخوا شل بیلیونه کاله پخوا کائیناتو شتون نه درلود. نه خو ستوري ول او نه سیارې، خو بیا هم په خلا کې ماده موجوده وه. ماده په نښتي او جامد حالت نه وه بلکې شیندل شوي زرې-پروتونونه او الکترونونه- ول. هغه مهال ماده بې حرکته او په خلا کې په برابر ډول وېشله شوې وه. کواګې د بې ساري وړو-وړو زرو یوه داسې بې خوښته وربځ وه چې د بشپړ تعادل په لرلو يې ټوله خلا ډکه کړې وه. د ریاضي له لید څخه، دا يو داسې تعادل ؤ چې د هیڅ راز خلل او مزاحمت زغم يې نه درلود. ان که یوه زره هم له مزاحمت و خلل سره مخ شوې وای، دې خلل باید نه یواځې ټول جوړښت اغېزمن کړی وای بلکې په پرله پسې ډول باید خلل مخ پر زیاتېدا تللی وای. که لومړی خلل ومنو، ورپسې ټولې پېښې د ریاضي د علم له مخې پخپله ثابتېږي. مفکرینو د دې خلل تشبیه داسې وکړه لکه یو څوک چې ولاړو اوبو ته لاس ور وړي او ویې خوځوي. خو د کائیناتو له سکون ډکه فضاء کې خلل او خوځښت څشي او چا منځته راوړ؛ په دې اړه هیڅ هم نه دي مالوم. څه چې سر پرې خلاصېږي دا

دي چې د کائیناتو له سکون ډکه غېږ کې خلل واقع او په زیاتېدو شو، پایله یې دا شوه چې ماده په بېلابېلو برخو کې سره جمع شوه. همدا جمع شوې مادې بېلابېل رنګونه خپل کړل چې نن ورته یا خو سیارې وایو، یا ستوري او یا هم کهکشانونه.

دا د کائیناتو د منځته راتګ په اړه د ساینس یوه تشریح ده. حقیقت دا دی چې دا دومره کمزورې او خوارځواکې تشریح ده چې پخپله د ساینسپوهانو زړه ته یې هم لاره نه ده پیدا کړې. که څیر شو، تشریح دا مني چې مالومه نه ده چا د کائیناتو له سکون ډکه غېږ کې خلل واقع او خوښت منځته راووړ. خو بیا هم د تشریح منونکي دعوه لري چې دې نظریې مالومه کړې چې د کائیناتو لومړنی محرک بل څوک نه بلکې اټکل/اتفاق دی. پوښتنه دا ده چې که کائینات غیر محرکه ماده وه او له دې ها خوا بل هیڅ هم شتون نه درلود، بیا نو دا عجیب و غریب اتفاق چې ټول کائینات یې محرک کړل چا او څشي-منځته راووړ. ځکه د دې عجیب و غریب اتفاق اسباب نه خو په ماده کې دننه موجود ول او نه له مادې بهر، بیا نو دا اتفاق څنګه او ولې رامنځته شو؟ د دې نظریې تر ټولو لوی او په زړه پورې ټکر دا دی چې د نظریې له مخې د هرې پېښې د منځته راتګ لپاره باید ترې مخکې یوه بله واقعه موجوده وي چې د ورپسې واقعې د منځته راتګ لامل یا سبب وګرځي. خو د دې توجیې لومړنۍ ارزښتناکه واقعه یوه داسې پېښه ده چې ترې وړاندې نه خو واقعه مالومه ده او نه لامل. همدا بې بنسټه مفروضه ده چې وړباندې د کائیناتو د اټکلي/اتفاقي منځته راتګ نظریې ټول بې مانا جوړښت رغېدلی.

راځئ د څو شېبو لپاره د کائیناتو د منځته راتـګ اتفـاقي/اټکلی نظریه ومنو: ایا ضرور وه چې د پېښو لړۍ دې همدا لوری خپـل کـړي چې دوئ پرې برابرې شوې؟ ایا له دې پرته بل څه نه ول ممکن؟ ایا د دې امکان شتون نه درلود چې ستوري دې پخپـل مـنځ کـې لـه ټکـر وروسته تباه شي؟ د مادې د حرکت له پیدا کېدو وروسـته ایـا ضرور وه چې دا دې محض حرکت نه شي پاتي بلکـې پـه ارتقـایي حرکـت دې بـدل شي؟ ایـا ضرور وه چـې دا حرکـت دې پـه یـو داسي هېښـونکي تسلسل بدل شي چې په پایله کې یې اوسني منظـوم کائینـات رامنځتـه شي؟ اخر دا کوم منطق ؤ چې له مخې یې وروسته له دې چې ستوري جوړ شول، د کائیناتو غېږ کې لیـرې ځـایونو تـه پـه پـوره نظـم لاړل او خوځند حالت یې خپل کړ؟ د کوم منطق لـه مخـې د کائینـاتو پـه یـوه لیرې څنډه کې لمریز نظام له خپل ټول نظـم او ډسـیپلین سره جـوړ او رامنځته شو؟ د کوم منطـق لـه مخـې د لمریـز نظـام اډانـه کـې ځمکـه رامنځته او تر ټولو عجیبو او غریبو بدلونونو وروسته-چې ساری یـې د کائیناتو هیڅ بله برخه کې نه دی موندل شوی-د دې وړ شوه چې ژوند پرې ممکن او پیل شي؟ دا بیا کوم منطق ؤ چې په یوه ځانګړې مرحلـه کې له بې روحه مادې څخه ژوند مینځتـه راغـی؟ ایـا د منلـو وړ کومـه داسې تشریح شته چې ولې او څنګه پر ځمکه د ژوند څـرک رامنځتـه شو او تر کوم قانون لاندې په پرله پسې ډول تر ننه را روان دی؟

رښتیا د کوم منطق له مخې د کائیناتو په یوه وړه څنډه کـې زمـوږ د ژوند او تمدن لپاره ټول اړین شیونه رامنځته شول؟ د کوم منطق له مخې بیا دا ټول شیونه او اسباب زمـوږ لپـاره خونـدي سـاتل شـوي دي؟ ایـا محض اتفاق او اټکل څه داسې شرایط رامنځته کړل چې دا ټولې پېښې

دي له دې دومره هېښتیا او ښکلا سره رامنځته شي او د میلیونونو او بیلیونونو کلونو په تېرېدو سره-سره پکې کوم زیان او نقص رامنځته نه شي؟ د دې خبرې توجیه به څنګه وکړای شو چې محض د اتفاق له مخې رامنځته شوې پېښه دې د لزوم صفات له ځان سره ولري او د مسلسلې او منظمې ارتقاء ځانګړتیا دې هم پکې پخپله رامنځت شي؟

سره له دې چې د یادې نظریې بنسټ په بې کچې توګه لړزاند دی خو بیا هم له دې ټولو تضادونو سره-سره نن ورځ نژدې په نړیواله توګه داګروهه موجوده ده چې همدا د کائیناتو د منځته راتګ د پوښتنې کره ځواب دی. ستونزه پر دې ځای پای ته نه رسېږي، که فرضاً ومنو چې همدغه نظریه د کائیناتو د منځته راتګ د څرنګوالي پوښتنه ځوابوي، موږ له یوې بلې مهمې پوښتنې سره مخ کېږو: څوک دی چې د کائیناتو دومره ستر ماشین سمبالوي؟ د کائیناتو خالق چې د همدې نظریې له مخې اتفاق/چانس/اټکل منل شوی، په هیڅ ډول د کائیناتو سمبالونکی (رب) نه شي جوړېدای. د یادې، په اصطلاح ساینسي- نظریې له مخې د کائیناتو د مینځته راتګ خالق چانس دی خو ساینس دا نه شي منلی چې همدغه چانس/اتفاق یا اټکل دې د کائیناتو د ستر نظم تر شا لاس ولري او په اصطلاح د کائیناتو سمبالونکی دې وي. په دې توګه همدغه تیورۍ دوه خدایانو ته اړه کېږي: لومړی د کائیناتو منیځته راوړونکی چې دوئ ورته اتفاق/چانس/اټکل منلی او د شعوري ځواک نه یې انکار کړی، دویم د کائیناتو د نظم سمبالونکی. دا چې اتفاق د کائیناتو د نظم سمبالونکی نه شي کېدای، په کار ده چې د یو دویم خدای لټه هم وشي ترڅو تیورۍ بشپړه شي.

www.sikaraam.com

د یادې ستونزې د حل په موخه د تعلیل اصل ( principle of causation) وړاندې شو. د تعلیل اصل دا دی چې د کائیناتو له لومړي حرکت وروسته د علت او معلول یوه داسې سلسله پیل شوه چې له مخې یې نورې ټولې پیښې یوه په بل پسې رامنځته شوې. د دې اصل له مخې، د هیڅ راز پیښې سبب په کائیناتو کې بهر نه دی موجود بلکې د تسخیر نه منونکو قوانینو په شتون کې د مخکنیو پیښو په پایله کې رامنځته کېږي او همدا مخکېنۍ پیښې په خپل وار د نورو مخکنیو پیښو لازمې پایلې وي. په دې توګه په کائیناتو کې د علت او معلول یوه بې پایه سلسله منځته راغلې ده. ان د بشر تاریخ هم همداسې جوړ شوی دی. د بشر تاریخ چې څنګه پیل شو، د راتلونکې مهال ټولو ورپسې پیښو قطعي فیصله پخپله وشوه. په بله وینا، چې یو ځل لومړۍ پیښه رامنځه شي، ورځخه یواځې یو ممکن مسیر دی چې تر ټاکلي هدف پورې به د علت او معلول تر اصل لاندې مخ وړاندې روان وي. کواګې په هماغه ورځ چې کائینات رامنځته شول، راتلونکی تاریخ یې هم په هماغه ورځ پخپله وټاکل شو. په دې توګه د تعلیل اصل د ټولو هغه پیښو د منځته راتګ مسئول وبلل شو چې پخوا به یې خلګو نسبت یو ماوارالطبیعي ځواک ته ورکاوی.

د تعلیل اصل د قدرت د اساسي قانون په توګه وړاندیز کول د اوولسمې پېړۍ امتیاز ؤ، له ماشین سره د کائیناتو د تشبیه تحریک هم له همدې ځایه سرچینه واخیسته. د نولسمې پېړۍ دویمه نیمایي کې یاد تحریک خپل عروج ته رسېدلی ؤ. هیلم هولټز Helm Holtz همدغه مهال ویلي "*د طبیعي علومو وروستۍ موخه دا ده چې ځان په میکانکیس تبدیل کړي.*" کلوین Lord Kelvin خو دا هم وویل چې

www.sikaraam.com

دی کواګي هیڅ داسې شی/حقیقت نه پېژني چې میخانیکي موډل دې ورته جوړ نه کړای شي. دا په حقیقت کې د ساینسپوه انجینرانو پېر ؤ، د دوئ لویه هیله دا وه چې بالاخره به د ټول طبیعت ماشیني موډلونه جوړ کړای شي.

سره له دې چې ساینسپوهان لا نه ول توانېدلي چې د تعلیل اصل له مخې د کائیناتو ټول مظاهر تشریح کړای شي خو بیا هم د کائیناتو میخانیکي/ماشیني تصور زیانمن نه شو. ساینسپوهانو باور درلود چې یواځې وخت او نورو څېړنو ته اړتیا وه څو ثابته کړي چې بې روحه کائینات ټول د یو بشپړ فعال ماشین جوړښت لري.

د انسان د ژوند له تعبیر سره د دې خبرو تړاو خورا جوت ؤ. د تعلیل د اصل هره پراخیتا او د کائیناتو د هرې بریالۍ میخانیکي تشریح پر انساني اختیار (Free-will) باور ناممکن کاوه. څکه که ټول طبیعت د تعدیل د اصل مطابعت کار کاوه، ژوند ولي باید مستثنی وای؟ د دې فکر پایله دا شوه چې په اوولسمه او اتلسمه پېړۍ کې میخانیکي فلسفه مینځته راشي. ساینس په څرګنده د دې باور ملا تړله چې له مخې یې مادي کائیناتو ته ماشیني تعبیر ورکول کېده. څه مهال وروسته دا کشف هم وشو چې ژوندۍ حجرې هم له هماغه کیماوي اتومونو څخه جوړې شوې چې مړې حجرې ترې جوړې شوې دي او غالباً تر هماغه یو ډول طبیعي قوانینو لاندې په عمل کولو ماموري دي. ژر همدا پوښتنه وټوکېده چې زموږ د بدن او دماغ جوړونکې حجرې ولي باید د تعلیل د اصل له دایرې بهر وي؟ له دې سره-سره دا ګمان هم موجود ؤ، بلکې دعوه کېده چې ژوند پخپله یو ډول ماشین دی. ان تر دې چې ویل کېدل د نیوټن، باخ (Bach)، او مائیکل اینجلو (Michelangelo)

www.sikaraam.com

دماغونه د چاپ ماشین څخه یواځې یو توپیر لري. او دا چې دا تـوپیر یې پېچلتـوب دی. د دوئ کـار یـواځې دا ؤ چـې بهرنیـو محرکـاتو تـه مکمل ځواب ورکړي.

خو نن ورځ ساینس د علیت دا سخت او غیر معتدل اصولو ته قایل نه دی. د نسبیت/اضـافیت نظریـې (Theory of Relativity) د تعلیـل اصل ته د دوکې (Illusion) لفظ کارولی دی. د نولسمې پېړۍ پای کې ساینس وموندہ چې د کائیناتو زیات مظاهر، په ځانګړې توګه د وړانګو خپرېـدل (Radiation) او جـاذبې، د کائینـاتو میخـانیکي تعبیـر تـولې هڅې له ناکامۍ سره مخ کړې.

دا بحث لا هم جاري ؤ چې ایا شوني ده داسـې ماشـین جـوړ شي چې د نیوټن افکار، د باخ جذبات، او د مائیکل انجلو خیـالات اعـاده کړای شي. خو د ساینپوهانو ترمنځ دې باور بیرته خپل ځای پیدا کاوی چې د شـمعې رڼـا او د منې لوېـدل د کـوم ماشـین پـه وسـیله نـه شي تکرارېدای. زاړه ساینس خو په خورا زغرده اعلان کړی ؤ چې طبیعت یواځې پر یوه لار تګ کولی شي. بالاخره ساینس ومنله چې کائینـات سره له دې چې د علت او معلول له مخې له یوې پېښې بله زېږوي خـو بیا هم نه شو ویل چې له پرون څخه نـن او لـه نـن څخـه د سبا اټکـل کېدای شي. د نویو مالوماتو په رڼا کې د ساینسپوهانو یو لوی اکثریـت په دې خبره یوه خوله شوي چې د پوهې سیند مو د یوه غیر میخانیکي حقیقت منلو ته مجبوروي.

د کائیناتو د پیدایښت او حرکـت دا دواړه نظریـې چـې د ساینسي-پرمختګونو په ترځ کې رامنځته شوې وې، لا تر اوسه د یقین له شتمنۍ

بې برخې دي. نوې څېړنې یې نه یواځې چې بنسټ نه کلکوي بلکې لا یې لړزاندوي. کواګې ساینس پخپله د خپلو رامنځته کړو نظریو سره په ټکر کې واقع شوی، پخپله یې د دوئ بېخ ویستی او له کاره یې ایستلې دي. پایله دا کېږي چې انسان د خپل سفر د پیل هماغه لومړي ټکي ته بیرته ستون شوي چې ده ترې په دې موخه نوی سفر پیل کړی ؤ چې ګوندې نه موندل شوې نوې خبرې به پیدا او ثابتې کړي.

## دين او له مرگ وروسته ژوند

علامه شبلي نعماني د خپل کتاب الغزالي په دويمه برخه کې د المعاد يا تر مرگ وروسته حالات سرليک لاندې کاږي:

*"معاد يا تر مرگ وروسته ژوند د دين روح تشکيلوي. له مرگ وروسته پر بياځلي ژوند باور يواځينی لامل دی چې دين ته يې اغېز بښلی دی او له دين څخه يې انساني کړنې اغېزمنې کړې دي. د معاد له دې دومره ارزښت سره-سره پر معاد باور تر پوښتنې لاندې راوستل کېدای شي؛ يو بدوي شاعر د الحاد په لهجه خپلې مېرمنې ته څه داسې وايي:*

*اموت ثم بعث ثم نشـــر — مړينه، بيا ځلي ژوند، بيا تګ راتګ*

*حديث خرافة يا ام عمرو — زما گرانې! دا هسې چټيات خبرې دي*

*تر مرگ وروسته ژوند په اړه لومړی او تر ټولو پېچلې ستونزه د روح او د روح د بقا ثابتول دي. بايد ثابته شي چې روح او جسم دوه بېل شيونه دي. ماده پالان (Materialists) په دې اند دي چې روح بېل شی نه دی بلکې مثال يې داسې دی لکه د درملو له ځانگړي ترکيب نه چې څه لاسته راځي او يا د رباب تارونو له ځانگړي ترکيب نه يوه ځانگړې نغمه جوړېږي؛ په ورته توگه، د ځانگړو عناصرو له ترکيب څخه يو داسې مزاج حاصلېږي چې د درک او تصور قابليت*

*لري؛ موږ همدې مزاج ته د روح نوم ورکړی دی. د روح له ثابتولو وروسته باید د روح بقاء هم ثابته شي، دا چې د جسم له فنا کېدو وروسته روح بیا هم باقي پاتې کېږي*[21]"

په مضنون کبیر او مضنون صغیر کې د روح په اړه د امام غزالي د نظریاتو له پلټنې او څېړنې وروسته علامه شبلي لیکي:

"د روح په اړه د امام غزالي نظریات او دلایل له یونانیانو اخیستل شوي دي. ارسطو په تیالوژۍ (*Theology*) کې کټ-مټ همدا نظر لري. په را وروستو کې ابوعلي سینا هم همدغه نظر لاندې-باندې کړی دی. د تعجب ټکی دا دی چې امام تر ټولو مهمه مسئله چې د روح ثابتول دي پرځای پرې اېښې ده او ټوله توجه يې دې ته کړې چې ایا روح له جسمه بېل دی او ایا روح اصلیت دی؟ دا فرعي خبرې دي، لومړی باید دا ثابته شي چې روح له لویه سره شتون لري که نه؟' [22]

دی وروسته خپل نظر داسې بیانوي: *'اصلاً د روح شتون یوه فطري خبره ده. که غور وکړو، پوهېږو چې ادراک او تعقل د مادې د وس خبره نه ده. ماده یوه بې حسه، مړه، او لا یعقل شی دی. ماده نه شي کولی چې علوم او افکار رامنځته کړي بلکې یو بل لطیف جوهر باید موجود وي چې همدا هېښونکې ځانګړتیاوې ترې ظاهرې شي.*"

وړاندې لیکي:

*'ابوعلی سینا د روح د اثبات لپاره اوږده دلایل لیکلي دي چې د یونانیانو د دلایلو په څېر مازې د لغاتونو لوبه ده. که کوم ملحد ضد*

---

[21] د علامه شبلي نعماني کتاب، الغزالي ۱۷۱-۱۷۲ پانه

[22] د علامه شبلي نعماني کتاب، الغزالي۱۷۴ پانه

*وکړي او ووايي چې د روح د اثبات په اړه ستاسې خبرې دلیل نه بلکې د دعوې تکرار دی، ممکن د مادې ځانګړی ترکیب د دې لامل شوی وي چې عجیب و غریبې ځانګړتیاوې ترې رامنځته شي. مثلاً ماشین څخه عجیب و غریب افعال ظاهرېږي او د موسیقۍ الې د تارونو ترکیب څخه هېښونکې شکلې نغمې جوړېږي او دا په داسې حال کې چې دوئ د بې روحې مادې یو خاص ترکیب دی. پوهېږو چې په ضعیفو دلایلو یې خوله نه شو بندولی. له دې ځایه ده چې امام غزالي د روح د اثبات په اړه کوم منطقي دلیل نه دی وړاندې کړی."*[۲۳]

مولاناشبلي نعماني خپل بحث پر پورته ټکو پای ته رسولی دی. په ۱۹۰۱ کال کې د روح په اړه د کوم لیکوال خبرې به ممکن تر همدې بریده وړاندې تللې شوای. زه به دا پرې اضافه کړم چې نن ورځ علمي پرمختګ د واقعاتو او حقایقو څه داسې برخې هم سپړلې دي چې له مخې یې تر یوه بریده دا خبره کېدای شي چې د بدن او روح بېل شتون او د جسم له فناء وروسته د روح بقاء محض وجداني شی نه دی بلکې په یو داسې حقیقت بدل شوی دی چې په تجرباتي دلیل ثابتېدای شي.

ساینس موندلې چې جسم له یو لوی شمیر خلیو (حجرو) جوړ دی. په منځنۍ توګه د انسان بدن له ۱۲۰۰ بیلیونه حجرو جوړ شوی دی. جالبه دا ده چې هره شیبه یو زیات شمېر حجرې د ماتېدو او له منځه تګ په حال کې دي او ځای یې نوې حجرې نېسي. غذا وروسته له هضمېدو هغه شمېر حجرې له سره رغوي چې وېشل شوې او له منځه تللې وي. ګویا جسم یوې داسې ودانۍ ته ورته دی چې له زیات

[۲۳] د علامه شبلي نعماني کتاب، الغزالي ۱۷۵ پانه

شمېر خښتو جوړه شوې وي او هره شېبه یې یو شـمېر زړې خښـتې لـه منځه ځي او نوې یې پر ځای اېښودلې کېږي. که چېرې روح د بدن یو جز وي، نو کله چې بدن کې بدلون راځـي-حجـرې وېشـلې کېـږي او بیرته نوې کېږي- روح هم باید متاثر شي. د دې مثال داسې دی لکـه د کوم ماشین د یوې ځانګړې پرزې د خرابېدو له امله چې پر ماشین اغېز ښندل کېږي او یا د رباب د کوم تار په شلېدو او خرابېدو چې د ربـاب پر نغمه اغېز پرېښودل کېږي. اما د جسم و روح په اړه خبره سرچپه ده: سره له دې چې بدن کې بدلونونه راځي، خو روح بیا هم پخپل حالـت پاتې وي. له دې ثابتېږي چې روح له بدن څخه بهر خپل شتون نه لري. یو ساینسپوه په خورا ښکلي انداز ویلي چې د بدن په وړاندې انسـاني هستي یو بېل مستقل بالذات شتون لري، داسې چې تر ګڼو او پرله پسې بدلونو لاندې بیا هم خپل حالت ثابت ساتي:

Personality is changelessness in change.

په ارواپوهنه کې نوي پرمختګونه په ډاګه کوي چې د انساني ذهـن لویـه برخـه پـه تحـت-شـعور او یـا لاشـعور ( subconscious and unconscious) حالت موجوده ده. د لاشعور پـه اړه اوس دا خـبره پـه پوره توګه منله شوې ده چې پکې موجود شوي ټول خیالات تـر مـرګ پوري یو ډول باقي پاتې کېږي.

فرایډ Freud پخپل ۳۱ لکچر کې وایي:

"د منطق قـوانین او د اضـداد اصـول د لاشـعور پـه عمـل نـه شي تطبیقېدای. متضادې هېلې پرته له دې چې یو بل لـه منځـه یـوسي، پـه لاشعور کې څنګ پر څنګ موجودې وي. په لاشعور کې هـیڅ داسـې

څه نشته چې له نفې سره ورته والی ولري. د هېښتیا ټکی دا دی چې زموږ ټولو دماغی کړنو په اړه د فیلسوفانو دا نظر ناسم دی چې ګواکې دماغې کړنې د وخت او واټن په اډانه کې ترسره کېږي. په لا شعور کې هیڅ داسې څه نشته چې د وخت (ټایم) له تصور سره مطابق ولري. دا خورا حیرانونکې خبره ده چې په لاشعور کې د وخت د تېرېدا هیڅ نښه نه شي پیدا کېدای. خو بیا هم په دې اړه ساینس پوهانو هیڅ غور نه دی کړی چې څنګه د وخت په تېرېدو بیا هم په ذهني عمل کې هیڅ راز بدلون نه راځي. په لاشعور کې هغه خیالات ( *conative impulses*) چې کله هم ترې نه دي بهر شوي او ان هغه ذهني تاثرات چې لاشعور ته ور ټېل وهل شوي او هلته ساتل شوی دي، لسیزې لسیزې هلته په داسې ډول خوندې ساتل کېږی لکه تازه چې ځای پر ځای شوي وي.[۲۴]"

دا چې لاشعور د وخت او واټن له قیدونو څخه خپلواک دی، ترې مالومېږي چې روح له جسم څخه بېل شتون لري. که چېرې روح له جسم څخه بېل شتون نه لرلی او د جسم د مظاهرو یو ډول وای، باید د وخت او واټن تر قیدونو لاندې هم وای؛ ځکه د جسم په اړه خو څرګنده ده چې د وخت او واټن تر قیدونو لاندې دی. دا چې تجربه ثابتوي چې روح تر دې قیدونو لاندې نه دی، پوهېږو چې روح له جسم څخه بېل شتون لري. د روح او جسم اړیکه د حرکت او ماشین، نغمې او رباب اړیکه نه ده ځکه که همداسې وای؛ څنګه چې پر ماشین ټول اغېز لرونکي قوانین پر حرکت هم اغېز کوي، همدارنګه پر

[۲۴] New introductory Lectures on Psychoanalysis (London ۱۹٤۹) P. ۹۹

www.sikaraam.com

رباب اغېزه لرونکې قوانينو څخه نغمه هم اغېزمنه کېږي. په ورته توګه بايد پر جسم اغېزه لرونکو قوانينو څخه روح هم اغېزمن شوی وای.

اروايي تحقيق يا Psychical Research د اروپوهنې يوه نوې څانګه ده چې د انسان د فوق طبيعي ځواکمنتياؤ په اړه مالومات وړاندې کوي. د اروپوهنې دا څانګه له مرګ وروسته ژوند د تجربې او مشاهدې پر مټ ثابتوي. دلته زموږ لپاره په زړه پورې ټکی دا دی چې نه يواځې بقاء ثابتېږي بلکې بقاء عين همدغه کس پيدا کوي چې تر مرګ مخکې موږ ورسره بلد يو.

انسان يو شمېر داسې وړتياوې او ځانګړتياوې لري چې خورا ارزښتناکې دي خو په اړه يې تر راوروستو وختونو هيڅ راز مالومات نه ول موجود او نه هم انسان لټه کړې وه چې په اړه يې ځان وپوهوي. مثلاً خوب يوه داسې ځانګړتيا ده چې انسان يې له نامالوم وخت څخه لري. خو په راوروستو وختونو کې د خوب په اړه داسې مالومات او حقايق د څېړنو پر مټ لاسته راغلي دي چې مخکيني انسانان ترې ګردسره خبر نه ول. خوب ته ورته نور هم زيات انساني مظاهر شته چې راوروستو مطالعو او څېړنو يې په اړه خورا ارزښتناک مالومات را برسېره کړې دي. اروايي تحقيق د اروپوهنې يوه څانګه ده چې موخه يې د انسان فوق العادت ځواکمنتياؤ لټه او څېړنه ده. دې ډول څېړنو ته په ۱۸۸۸ کې په انګلستان کې يوه اداره جوړه شوه؛ په يو کال موده کې يې ۱۷۰۰۰ کسانو سره اړيکه پيدا او په پراخه کچه يې خپلې څېړنې پيل کړې. دې ادارې ته نن ورځ د اروايي تحقيق ټولنه ( society for psychical research) وايي. په يو شمېر نورو هېوادونو کې هم ورته ادارې فعاليت لري. دغو ادارو د تجربې، مشاهدې او کتنې پرمټ ثابته

کړې ده چې له مرگ وروسته هم انسان په څه مرموز او لـه اسرارو ډک حالت کې باقي پاتي کېږي.

سـې جـې ډوکـاس C.J. Ducasse پـه خپـل کتـاب A Philosophical Scrutiny of Religion کې لیکي:

"یاد حقایق څرګندوي چې نـړۍ او انسـان دواړه د مـادي بعـد تـر څنګ یو بل بعد هم لري چې د طبیعي علومو په وسیله څېـړل کېـدای شي[٢٥]."

د ارواپي تحقیق ډېری پوهـانو چې همـدا شـواهد پـه خپلواکـه او ناپېیلې توګه مطالعه کړي، مجبور شوي دي چې تر مرګ وروسته ژوند باندې باور پیدا کړي. د براون پوهنتون د فسـلفې پروفیسـور سـې جـې ډوکاس پخپل یاد کتاب کې تر مرگ وروسته ژوند فلسفي او نفسـیاتي څېړنه کړې. نوموړی تر مرگ ووسته ژوند په اړه مذهبي تشریح نه مني خو وایي چې داسې شواهد موجـود دي چې لـه مخـې یـې تـر مـرګ وروسته ژوند منلو ته اړ ایستل کېږو. د یاد کتاب په اوولسم څپرکي کې چې تر مرگ وروسـته ژونـد پـه اړه دی، دی د سـایکیکل ریسـرـچ یـا ارواپي تحقیق ارزونه کوي؛ لیکی:

*"ډېری پوهو او ذهینو کسـانو تـر مـرګ وروسـته ژونـد پـه اړه شـته شواهد په خپلواکه او تنقیدي توګه څېړلي دي او بالاخره دې پایلې تـه رسېدلي دي چې لږ تر لږه داسې شواهد ضرور شته چې لـه مخـې یـې یواځې د روح د بقاء فرضیه ثـابتېږي او بـس. د همـدې نظـر یـو څـو مشهور او نوموتي کسان عبارت دي له: الفریډ رسل ، ویلس، سر ویلیم*

---

[٢٥] A Philosophical Scrutiny of Religion, P. ٤٢٢

*کـروکس، مـايرز، لـومبروزو، فلمېريـون، لاج، ريچـارډ، هسـلوپ او سپلېويک څخه.*

*له دې څخه مالومېږي چې تر مرگ وروسته ژوند مسئله چې خورا زيات شمېر خلکو په مذهبي توگه منلې ده، نه يواځې دا چې د صحت امکان يې شته بلکې ممکن دا يوه داسې عقيده ده چې تجرباتي ثبوت يې هم وړاندې کېدای شي. ممکنه ده چې په اړه يې حقيقـي او دقيـق مالومـات وروسـته-وروسـته رابرسـېره شي خـو دا بـه يـواځې تـر مـرگ وروسته د ژوند د امکان په اړه وي، نه د مذهبي کړيو له لورې تر مرگ ووسته د ژوند د نوعيت په اړه چې څه خبرې مشهورې شوې دي[٢٦].“*

ليکوال که له يوې خوا تر مرگ وروسته ژوند د حقيقـت پـه توگـه مني خو له بلې خوا په اړه يې مذهبي تشريح نه انکار کوي. دا په اصل کې ځان ته د دوکې ورکولو يو ډول هڅه ده، ځکه که تر مرگ وروسته ژوند ومنو، تعبير يې له مذهب پرته له بل ځای څخه نه شو اخيستلی.

---

٢٦ A philosophical Scrutiny of Religion, pp. ٤٠٧-١٠

www.sikaraam.com

## دين او ساينس

دين او ساينس دوه خورا پراخ مفهوم لرونکي لفظونه دي. د دين په اړه په ټوليزه توګه دا خبره منله شوې ده چې دين د يو داسې ذات د شتون حتمي والی بيانوي چې په حکم يې دا ټول کائينات سمبالېږي. دين د ژوند کولو په اړه يو ځانګړی تصور دی چې له مخې يې د ژوند په هره برخه او اړخ کې انسان له يو لړ مسئوليتونو، غوښتنو او تقاضاؤ سره مخ کوي. دين دا بيانوي چې انسان خپلو کړنو ته مسئوليت لري او دا چې د خپلو کړنو حاصل سره به حاضر ژوند او يا له مرګ وروسته بياځلي ژوند کې مخ کېږي. بل خوا ساينس د محسوسو کائيناتو- چې موږ يې په اړه تجربه و مشاهده کولی شو- مطالعې او څېړنې ته وايي. له دې تشريح نه مالومېږي چې دين او ساينس يو بل سره زيات توپيرونه لري. زه دلته پر دين او ساينس خبرې نه کوم بلکې يواځې غواړم له علمي پلوه د دين او ساينس د فرضي يا حقيقي ټکر په اړه مالومات وړاندې کړم. زما خبرې به دقيقاً پر دې دعوې راڅرخې چې ګواکې ساينسي پرمختګونو بالاخره ديني عقايد بې بنسټه ثابت کړي دي.

په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې اوسمهالي ساينس ظهور وکړ او د دين و ساينس دوديز ټکر هم له همدې وخته پيل شو. د يو شمېر ساينسي پرمختګونو له امله خلکو کې دا عقيده پيدا شوه چې نور نو ګواکې د رب منلو ته هيڅ اړتيا نه وه.

پخوا خلکو پر رب او پالونکي باور درلود ځکه د نورو لاملونو ترڅنګ دوئ د کائيناتو جوړښت او فعاليتونو لپاره خپله تشريح نه لرله

او سر یې نه پرې خلاصېدی. دین-منکرو وویل چې نور نو د رب او پالونکي منلو ته هیڅ اړتیا نشته ځکه د نوي ساینسي- پرمختګونو په برکت نور نو کائینات داسې تشریح کولی شو چې په هیڅ مرحله کې به د پالونکي او رب د شتون احساس ونه کړو. په دې توګه د رب منل د دوئ لپاره یوه بې ځایه خبره شوه. ځکه د دوئ په فکر یو شي چې د کارېدنې ځای یې مالوم نه وي، د هغه به نو بنسټ او اساس له کومه شي.

ان هغه وخت هم د همدې دعوا لپاره علمي قانع کوونکی دلیل نه ؤ موجود بلکې یوه بې کچې کمزورې دعوه وه. نن ورځ ساینس په مستقیم یا غیر مستقیم ډول منلې چې د داسې یوې دعوې

لپاره هیڅ راز استدلال نه ؤ موجود بلکې دا په پوره مانا یوه منځتشې دعوا وه.

خو دا کوم ساینسي پرمختګ او سپړنه وه چې له مخې یې خلکو فکر وکړ چې نور نو رب او پالونکې ته ګواکې هیڅ اړتیا نه پیدا کېږي؟ پخوا خلکو په ساده توکه فکر کاوه چې په کائیناتو کې ټول ظاهرېدونکي کارونه او پېښې د خدای په امر ترسره کېږي خو ساینس وویل چې کائینات د یو لړ ځانګړو قوانینو تابع دي او د همدغو قوانیو لاندې ترې کارونه او افعال ظاهرېږي. نوي څېړنو ومونده چې د هرې واقعې تر شا یو لړ داسې اسباب شته چې د تجربې په وسیله مالومېدای او مطالعه کېدای شي. د بېلګې په توګه نیوټن د مشاهدې په مټ ثابته کړه چې د اسمان ټول ستوري او سیارې تر تغیر نه منونکو قوانیو لاندې د حرکت په حال کې دي. ډاروین وویل چې انسان تر خاص تخلیقي

حکم لاندې نه دی رامنځته شوی بلکې له ابتدايي جوړښت څخه يې د وخت په تېريدا اوسني شکل ته ارتقاء کړې ده. همدارنګه مطالعو او څېړنو مالومه کړه چې له ځمکې بيا تر اسمانه د کائيناتو ټول حرکات او پېښې د يو مالوم نظام په اډانه کې ترسره کېږي. دې نظام ته يې د فطرت قانون (the law of nature) نوم ورکړ. د فطرت قانون دومره دقيق، منظم او پرځای ؤ چې ان په اړه يې وړاندوينه هم کېدای شوه.

د خلکو لپاره د دې موندنې او پرمختګ مانا دا شوه چې نور نو پر خدای باور کول يوه بې مانا او پوچه خبره شوې وه ځکه پخوا خلکو فکر کاوه چې کائينات د خدای تر اوامرو لاندې فعاليت ترسره کوي خو نن دوئ ومونده چې نه! کائينات د يو لړ مادي او فزيکي قوانينو لاندې خپلې چارې پخپله ترسره کوي. د هرې واقعې ترشا يو داسې سبب دی چې په اسانۍ مالومېدای او مطالعه کېدای شی. کله چې د طبيعت او کائيناتو موجود قوانين وازمېيل شول او انسان ترې بريالۍ نتيجه هم ترلاسه کړه، د انسان باور لا پوخ شو. الماني فيلسوف کانت وويل: "ماده په لاس راکړئ څو زه در وښيم چې څنګه له دې مادې نه کائينات منځته راځي." هيکل تر ده هم وړاندې ولاړ او دعوه يې وکړه: " که اوبه، کيمياوي عناصر او وخت را ته ټول اماده شي، زه به ترې ارومرو انسان جوړ کړای شم." نيچه په زغرده وويل چې: "نور نو رب مړ شوی دی." په دې توګه دا باور پوخ شو چې د کائيناتو د سبالولو تر شا هيڅ شعوري ذهن او هستي شتون نه لري بلکې کائينات له پيله تر پايه مادي جوړښت لري او دا چې د کائيناتو د ژونديو او بې روحه موجوداتو ټول مظاهر د ړانده مادي عمل پرته بل هيڅ هم نه دي. په بله وينا، ساينس يوه داسې نړۍ ومونده چې په هيڅ کونج کې يې هم د

اديانو له خوا منل شوی خدای او رب ونه موندل شو ځکه خو يې پر شتون باور هم بې ځايه وبلل شو.

همدغه اتل ساينسپوهان چې دفطرت قانون يې بيان کړی ؤ، د رب منونکي ول. خو کله چې د فطرت قانون خلکو ته بيان شو، خلکو په هېښونکې توگه فکر وکړ چې همدغه پرمختگ او علم د خدای شتون بې مانا کړی او له منځه وړی دی. د دوئ په باور، کله چې د واقعاتو لپاره په مادي دونيا کې دننه اسباب او لاملونه پيدا کېدای او تشريح کېدای شي، نو بيا څه اړتيا ده چې له مادي دونيا بهر دې ورته د کوم خدای شتون فرض کړای شي. دوئ استدلال وکړ چې د تليسکوپ تر اختراع او رياضۍ پوهې تر پرمختگ له مخه خلک نه پوهېدل چې ولي سهار لمر را خېژي او ماښام بيرته ډوبېږي. دوئ د خپلې ناپوهۍ له امله فکر کاوی چې کوم خدايي ځواک دی چې سهار لمر راخېژوي او ماښام يې بيرته ډوبولو ته اړباسي. خو کله چې ساينس پرمختگ وکړ، خلک وپوهېدل چې خدايي ځواک نه بلکې د ستورو او سيارو ترمنځ د جاذبې او کشش شتون د دې لامل کېږي چې دوئ په حرکت راشي او پخپله يو د بل په چاپېر په څرخېدا پيل وکړي. په ورته توگه زياتې نورې طبيعي پېښې وې چې خلکو ورته د يو مافوق فطري ځواک د شتون اړتيا منلې وه خو د ساينس پرمختگ ثابته کړه چې دا پېښې د يو لړ فطري قوانينو د شتون له امله منځته راځي. جولين هيکسلي Julian Huxley ليکي:

"کله چې د باران پر څاڅکو د لمر وړانګو لـه ماتېـدو څخـه زيـړه زرغونه منځته راځي، دا بـه خـورا غلطـه خـبره وي چـې ګـواکې زيـړه زرغونه د اسمان پر څنډو د الله نښه ده۲۷."

دی وړاندې ليکي:

"که د پېښو تر شا فطري لاملونه موجود وي، د ماورافطري لاملونـو د شتون امکان له منځه ځي."

په بله وينا، که د پېښو تر شا مافوق فطري لاملونه نـه وي موجـود، څنګه به د مافوق فطري

ځواک پر شتون باور پيدا کوو.

دا مفکوره خورا کمزورې او منځتشـې ده. د مفکـورې کمزورتيـا د مثال استمال ښه ترا بيانولی شي:

پر پټيلو ګرندی تلونکی اورګاډی پـه نظـر کـې ونيسـئ او لـه ځانـه وپوښتئ چې ولې اورګاډی د حرکت په حـال کـې دی؟ پوښـتنې تـه د ځواب په موخه بايد اورګاډی مطالعه کړو. د مطالعې او څېړنې په تـرڅ کې محرکو ګاډيو (ويلونو) ته متوجه کېږو. په لومړيو کې فکر کوو چې د ګاډيو حرکت د اورګاډي د حرکت سبب دی. خو کله چې نـوره هـم مطالعه وغځوو، متوجه کېږو چې د ويلونو حرکت د لوکوموتيف انجين له امله دی. ايا دا به معقوله وي که ووايو چـې د اورګـاډي پـه اړه مـوږ وروستی حقيقت ومونـد؟ نـه هيڅکلـه نـه! ځکـه د اورګـاډي حرکـت يواځې د ويلونو، انجن، لوکوموتيف او نورو پرزو له امله نه دی بلکـې

۲۷ Man in the modern world

www.sikaraam.com

تر شا یې یو ډیزاین کوونکی دماغ موجود دی. د اورګاډي لـه ډیـزاین کوونکي انجنیر او ډرېور پرته نه خو د اورګاډي پرزې موجودې کېدای شوای او نه یې حرکت کولی شوای بلکې حقیقت دا دی چې اورګاډی اول ډیزان شوی دی او وروسته له جوړېدو یو چلونکی (ډریـور) شـته چې تر حکم لاندې یې اورګاډی په چلند راځي. یـو عیسـوي عـالم[۲۸] څه ښه ویلي دي: "طبیعت تشریح کوونکی شی نه دی بلکـې طبیعـت دې ته اړ دی چې تشریح شي."

بله بېلګه به مو په وړاندې کېږدم: د چرګې بچی (چچوڼی) څنګـه له هګۍ راوزي؟ د جنین په دوره کې چچوڼی د هګۍ په کلک ښوي پوستې کې د ننه وده کوي. خو کله چې د هګـۍ کلـک پـوټکی مـات شي، چچوڼی ترې بهـر راځـي. پوښـتنه دا ده چـې څنګـه د هګـۍ لـه کلک پوټکي څخه پر خپل وخت نرم او غوښین چچوڼی بهر راوزي؟ پخوا دې پوښتنې ته لنډ او ساده ځواب ویل شوی ؤ: "د خدای په امـر هګـۍ چـاک وکـړي او چچـوڼي تـرې را بهـر شي." خـو نـن ورځ مایکروسکوپي کتنو ثابته کړې ده چې په یوویشتمه ورځ د چچوڼي پر سر یو وړوکی خو کلک ښکر ته ورته جوړښت رامنځته کېـږي. همـدا کلک ښکر چچوڼي ته د دې توان ورکـوي چـې د هګـۍ پـر پـوټکي فشار وارد کړي او بالاخره چاک پکې پیدا او ترې بهـر راووځـي. څـو ورځې وروسته وړوکی ښکر پخپلـه لـوېږي او لـه منځـه ځـي. د دیـن- منکرو په نظر همدا موندنه ثابتوي چې په دې ځـای کـې خـدای هـیڅ لاس هم نه لري ځکه مشاهده په ډاګه کوي چې د ښکر له املـه هګـۍ ماتېږي او چچوڼي په بهر وتلو توانېږي. دا پـه حقیقـت کـې یـوه لویـه

---

[۲۸] Cecil Boyce Hamann

تېروتنه ده. نوې څېړنې یواځې دومره کولی شي چې د پېښې او سبب په منځ کې ښکېل فکتورونه زیات کړي. مثلاً پخوا د هګۍ ماتونکی خدای بلل کېدی خو نن د چچوڼي خپل ښکر. خو که پام وکړو د ښکر شتون په خپل ذات کې سبب نه دی بلکې پخپله یوه واقعه ده. د ښکر منځته راتګ بله پوښتنه پیدا کوي: ښکر چا پیدا کړ؟ څنګه په خپل وخت د چچوڼي پر سر ښکر پیدا شو؟ په بله وینا د ښکر په وسیله د هګۍ ماتېدل یوه بله واقعه ده، سبب نه دی. د پېښې اصلي سبب یواځې هله مالومېدای شي چې د ښکر د پیدا کوونکي په اړه لټه وشي څکه د ښکر پیدا کېدل پخپله د لړۍ یوه کړۍ ده. مخکې تر دې چې د وروستي سبب په اړه وپوهېږو، باید مالومه کړو چې ښکر د چا په اراده او ولې جوړ شو. د ښکر منځته راتګ دې پوښتنې ته چې هګۍ ولې ماتېږي، ځواب نه دی ویلی بلکې یوه بله ضمني پوښتنه یې پیدا کړې ده چې ښکر ولې رامنځته کېږي. دواړه پوښتنې په اصل کې د یوه نوعیت لرونکې دي. دا په اصل کې د فطرت یا طبیعت په اړه د پوښتنو ځواب نه بلکې د نورو پوښتنو پیدا کول او د څېړنې یوڅه نور پراخول دي.

رب-منکرین په دې اند دي چې د فطري قوانینو شتون د رب نفې کوي په داسې حال کې چې رب-منونکي له فطري قوانینو څخه انکار نه کوي بلکې وایي چې همدا نړۍ د اسبابو نړۍ ته او د اسبابو په نړۍ کې رب خپله خوښه د اسبابو په وسیله پلې کوي. په بله وینا، فطري قوانین او اسباب پخپله د الله مخلوق دی او همده منځته راوړي دي. راځئ! د دین منونکو دا خبره د مثال په توګه وړاندې کړو چې الله په سمندرونو کې مد و جذر رامنځته کوي. په مقابل کې یې ساینس وایي

چې په سمندرونو کې مدو جذر د سپوږمۍ د کشش لـه املـه رامنځتـه کېږي او لوری یې د وچې او اوبو ځانګړی جغرافیایي جوړښت ټاکي. د رب-منکرو په باور د ساینس دا مالومات د رب شتون له پوښـتنې سره مخ کوي. حقیقت دا دی چې دا ساینسي مالومات په هیڅ ډول پر رب عقیده نه شي زیانمنولی. رب منونکي استـدلال کـوي چـې سـمه ده د سمندرونو مدو جذر لپاره سبب د سپوږمۍ او ځمکې متقابله جاذبه او د وچې و لمدې ځانګړی سکښت دی خو د ځمکې و سپوږمۍ ترمنځ متقابله جاذبه او د وچې و لمدې سکښت سبب نه بلکې د اسبابو د لړۍ یوه کړۍ ده چې پیداکوونکی یې بیا هم لوی الله جل جلاله دی. جـان ویلسن د یاد مثال په اړه خپل نظر بیانوي، وایي: "*دا پر رب زما عقیده نه شي اغېزمنه کولی، ځکه رب د همدغو مخلوق شویو قوانینو له لارې خپله خوښه عملي کوي.*[٢٩]"

په ورته توګه، د بیولوژي په برخه کې د ډاروین نظریـه څرګنـدوي چې د بیولوژیکي پروسو لپاره فوق فطري ځواک ته اړتیا نشته. پـه بلـه وینا، د ژوند پر څرنګوالي پوهه د خدای شتون ته نه ده اړه بلکې نـوي بیولوژیکي څېړنو موندلې ده چې ژوند د ځینو مادي طاقتونو څخه یوه په اتومات ډول منځته راغلې نتیجه ده چې د ځینو مادي کړښو پر مسیر یې ځان رغولی دی: تولد و تناسل، بدلون او انتخابي بقاء. یانې له یوې خوا د تولد و تناسل په وسیله د نسلونو زیاتېدل او پایښت او له بلې خوا د یو لړ توپیرونو د شتون او له نسلونو نسلونو وروسته د یوې بلې نـوعې او بیا هماغې نوعې نسل منځته راتګ دا په زبات رسـوي چـې د ژونـد

[٢٩] John Wilson, *Philosophy and Religion,* London, ١٨٦١, p. ٣٦.

په پرمختګ او پایښت کې نه یـواځې دا چـې د مـاوار فطـري ځـواک شتون تر پوښتنې لاندې راولي بلکې د ډارون د طبیعي انتخاب تیورۍ د رب شتون ګردسره له نفې سره مخ کړی دی.

سره له دې چې دا نه ده ثابته چې ایا رښتیا هم د ژوندیو موجودانـو نوعې له ارتقاء نظریې سره سم لومړی په ساده و بسیط شـکل جـوړې شوې او بیا ترې پېچلي شکلونو ارتقاء کړې ده. د همدې نظریې د منلو او دقیق ثابتېدو په صورت کې هـم پـر رب زمـوږ بـاور نـه شي اغېـزمن کېدای. ځکه بیا به هم موږ په پوره زور سره وایـو چـې دا د تصـافي او اتکلي مادي حرکت پایله نه شي کېدای بلکې د الهي خلقت طریقه ده. لنډه دا چـې میخـانیکي ارتقـا (Mechanical Evolution) د تخلیقـي ارتقاء (Creational Evolution) په توګه پـه اسـانۍ ثابتېـدای شي پـه داسې حال کې چې رب-منکرین به له ساینس څخـه د خپـل دریـځ د ملاتړ لپاره هیڅ راز مرسته هم ترلاسه نه شي کړای.

خبره پر همدې ځای پای ته نه رسېږي. ساینس په شلمه پېړۍ کې د ملحدینو لپاره هغه پخوانۍ خوند نه لـري. اوس چـې د نیـوټن ځـای انشټاین او د لاپلاس د نظریو ځـای د پـلان او هیـزنبرګ نظریـو نیـولی دی، د مذهب مخالفین لږ تر لږه په علمي ساحه کـې داسـې کمـزوري نظریات نه شي وړاندې کـولی. کـوانتم او د اضـافیت یـا (relativity) نظریو په برکت ساینسپوهانو پخپله اقرار کړی دی چې د شیانو د ځینـو بهرنیو برخو مشاهده کېدای شي، اصل حقیقت مونـدل ناممکنـه خـبره ده. په شلمه پېړۍ کې په ساینس یو داسې انقلاب رامنځته شو چـې لـه ساینسي پلوه یې د دین اهمیت زیات کړ.

سلیوان لیکي:

*"په ساینس کې نوی انقلاب دا دی چې اوس د نیوټن نظریات چې نژدې دوه سوه کاله یې د ساینس پر نړۍ راج کاوه، بې کاره شوي دي او ځای یې نوي نظریاتو نیولی دی. سره له دې چې د زاړه فکر پر ځای لا هم یوه ټولمنلې واحده نظریه نه ده رامنځته شوې خو دومره څرګنده ده چې اوسنی استدلال تر زاړه هغه خورا زیات متفاوت دی. پخوا خلګو منلې وه چې ساینس کولی شي وروستی حقیقت مالوم کړای شي خو اوسمهالی نظر دا دی چې ساینس د وروستي حقیقت د مالومولو یوائینی لاره نه شي کېدای. وتلي ساینسپوهان په هېښوونکې توګه په دې اند شوي دي چې ساینس د حقیقت (reality) جزوي برخې پلټلي شي او بس."[30]*

د ساینس په لید کې دا بدلون ناڅاپي ؤ. یواځې شپېته کاله مخکې ټنډل Tndall د بلفاسټ بیانیه کې ویلي ؤ چې د انسان ټولو مهمو مسئلو ته ساینس په یواځې ځان ځواب ویلي شي او ګواکي بل هیڅ شي ته هم اړتیا نشته. واردمخه لا ورته خبرو خپل ارزښت له لاسه ورکړي وو ځکه پخوا د حقیقت په اړه دا فرض شوې وه چې حقیقت که هرڅومره غټ هم وي، بیا هم د مادې او حرکت څخه بهر نه دی او همدې دوه اصطلاحاتو کې یې تعبیر کېدلای شي، خو د دوئ دا فرضیه ورو-ورو بې بنسټه ثابته شوې وه. ساینسپوهانو نور نو هیلې بایللې وې او په زغرده یې وویل چې دوئ نور نو نشوالی کولی چې طبیعت تر مادې و حرکت اډانې لاندې تشریح کړي. د اتلسمې پېړۍ

[30] *Limitations of Science*, J.N. Sullivan

وروستیو کې د ساینسپوهانو دا هڅې ښې په درز کې رواني وې. دا هغه مهال ؤ چې لاپلاس پکې په خورا جرات څرګنده کړې وه: تکړه ریاضي پوه چې د لومړنۍ نیبولا د ذرو له خپراوي څخه پوره مالومات ولري، کولی شي چې د نړۍ د راتلونکې ټول تاریخ وړاندوینه وکړي. دا وخت خلکو فکر کاوی چې د نیوټن نظریه د ټولو علومو کیلي ده.

د نیوټن د نظریاتو خامي هله څرګنده شوه چې ساینسپوهانو د بریښنا (برق) د میخانیکي (مادي) تشریح هڅه وکړه. دوئ په وار-وار خپله هڅه کې ناکام شول او بالاخره یې د ایتر په نوم د انساني ابتکار تر ټولو بې خونده پنځونه هم وکړه. دې هڅو زیات وخت دوام وکړ، د بریښنا د مادي تشریح لپاره د ریاضیاتو له ټولو معجزو کار واخیستل شو خو بیا یې هم څه ځانګړې ګټه ونه کړه تر دې چې ماکسویل د بریښنا په اړه خپله توضیح وړاندې کړه او بریښنا ته یې الکترومیقناطیسي-ښکارنده وویله او ورسره د نیوټن د نظریاتو سپیڅلتوب ته د پای ټکی کېښودل شوی. څه نورې توندې هڅې هم وشوې خو بالاخره له لړ دوه زړه توب وروسته له ناچارۍ بریښنا د تغیر نه منونکو عناصرو irreducible elements لیست ته ورعلاوه شوه.

دا ظاهرا ساده ګام مالومېږي خو په حقیقت کې د زیات ارزښت لرونکی دی. د نیوټن نظریات ساده او له مخې یې هره مسئله حل شوې مالومېده. د نیوټن نظریاتو له مخې د یو جسم کمیت د همدې جسم د مادې له مقدار څخه عبارت ؤ. قوه له حرکت څخه مالومېدای شوه او نور و نور. په ورته توګه خلګو فرض کړې وه چې ګواکې دوئ د طبیعت په اړه هرڅه تشریح کولی شوای خو د دوئ تصور هغه وخت ناسم ثابت شو چې دوئ له بریښنا سره مخ شول. د بریښنا د فطرت و

ماهیت په اړه هیڅوک په هیڅ هم نه پوهېدل. سره له دې چې زیاتې هڅې وشوې خو د بریښنا په اړه مالومات یواځې تر دې کچې ول چې خلک پوهېدل له بریښنا څخه د اندازې الات اغېزمن کېږي او بس. اوس پوهېږو چې د دې ارزښت څومره زیات دی. مطلب دا ؤ چې ساینس د یو داسي څه شتون منلی ؤ چې د ریاضیکي جوړښت ور هاوخوا یې په اړه هیڅ مالومات هم نه ول.

راوروسته نورې داسې ښکارندې هم رامخې ته شوې چې ساینسي مخامختیا ورسره همداسې وشوه او ساینس ومنله چې داسې زیاتې ښکارندې شته چې موږ یې د حقیقت و فطرت په اړه له ریاضیکي جوړښت پرته بل هیڅ هم نه شو حاصلولی خو بیا هم د ساینسي-نظریاتو په جوړلو کې د دې ښکارندو رول همدومره دی لکه د نورو برسیرنو هغو. د فزیک په اړه اوس په ښکاره ویل کېږي چې ضرور نه ده د شیانو او ښکارندو حقیقت و فطرت دې پیدا او مالوم شي بلکې دا هم بسنه کوي چې یواځې ریاضیکي اړخ دې مطالعه او وپلټل شي. اوس خو دا هم منله شوې ده چې ان د نیوټن ښکارندو په اړه هم زموږ پوهه یواځې تر همدې بریده وه او بس. پخوا چې به د ځینو ښکارندو او شیانو په اړه د هراړخیزو مالوماتو د شتون تصور کېدی، ان همدا تصور هم محض یوه تېروتنه (Illusion) وه. د پروفیسر اډنکټن په وینا ریاضیکي جوړښت هغه یواځیني مالومات دي چې د شیانو او ښکارندو په اړه یې طبیعي علوم راکولی شي.

*"که د طبیعت جمالیاتي، اخلاقي او روحاني اړخونه یو ځل یوې خواته کړو او د طبیعت پر نورو ځانګړتیاؤ څېړنه پیل کړو، مالومه به شي چې زیاتې نورې ځانګړتیاوې شته لکه د مادې کمیت، جوهر،*

اصلیت، سترتوب، وخت او نور چې په فزیک او طبعیاتو پسې اړه لري خو موږ یې په اړه زیات او ګڼلي مالومات نه شو خپلولی. د دې خبرو په اړه دقیق مالومات پیداکول د غیرمادي شیونو د مطالعې په څېر یو ستونزمن کار شوی دی. ځکه زموږ دماغ کې د دې ځانګړتیاؤ په اړه اصلي تصویر نه بلکې د دماغ خاکو کې مازې یو تصور پیداکېږي. په بله وینا، فزیک نه شي کولی چې د طبیعت د ورته ځانګړتیاؤ هو-بهو اصلیت و تصویر موږ ته راکړای شي. فزیک د همدې او ورته ځانګړتیاؤ مخامخ او ژوره څېړنه نه بلکې الاتي مطالعه ده. مانا دا چې موږ یواځې او یواځې د ورته ځانګړتیاؤ ځینې محسوسې اغېزې له بهر څخه وینو، محسوسوو او شمېرو. د ورته مطالعې پر مټ د کائیناتو ځینې جریانات بیانولی شو خو د خصوصیاتو اصلیت نه شو برملا کولی. د ځانګړتیاؤ د سطحي مطالعې او د همدې ځانګړتیاؤ د اصلیت تر منځ اړیکه هماغه د تلیفون شمېرې او شخص ترمنځ اړیکه ده او بس.

دا خورا ارزښت لرونکی پرمختګ دی چې ساینس یواځې د اړانې په اړه سطحي مالومات وړاندې کولی شي او د شیانو او حقیقتونو د ماهیت برملا کول یې د وس نه وتلې خبره ده. اوس هیڅوک نه شي ویلی چې زموږ جمالیاتي تصور، احساسات او له الله سره اړیکه کوم بهرنی اړخ نه لري. شونې ده چې ورته کوم څه شتون ولري. له دې ځایه ده چې زموږ مذهبي او جمالیاتي احساسات اوس محض دوکه کوونکې ښکارندې نه دي لکه پخوا چې فرض شوې وې بلکې د

*ساینس په اوسمهالې نړۍ کې مذهبي عارفینو ته له حقیقت څخه د گرځېدونکو او وهم پالو په نظر نه شي کتل کېدای.*[31]"

د ساینتېفیک فلاسفه ؤ ورته تشریحات اوس خورا زیات دي. مارټن وایټ په خپل کتاب the age of the analysis کې لیکي چې په شلمه پېړۍ کې د فلسفي ذهن لورنکو فیلسوفانو له خوا یو نوی مذهبي جنگ (جهاد) پیل شو چې موخه یې د مذهب حق ثابتول ؤ. د دې ساینسپوهانو یو څو مخکښ یې وایټ هېډ، ایډنګټن او جیمز جینز دي. څو خبرې به ترې نقل کړم:

ښاغلی وایټ هېډ (۱۸۶۱-۱۹۴۷) چې د فلسفې او ریاضي له وتلیو انگریز پوهانو څخه دی، وایي چې نوي ساینسي پرمختگونه څرگندوي چې:

"*طبیعت/فطرت بې روحه ماده نه بلکې ژوندی دی*[32]."

مشهور انگریز ستورپېژاندی، ارتهراډینګټن (۱۸۸۲-۱۹۴۴) د خپلو څېړنو یوه پایله داسې کاږي:

"*د کائیناتو کړنې و ځانګړتیاوې ذهني سرچینه لري*[33]."

د ریاضیکي فزیک بل مشهور انگلیسي-عالم ښاغلی جیمزجینز (۱۸۷۷-۱۹۴۶) د نوي څېړنو تعبیر په داسې ډول کوي:

"*دا د فکر و تعقل کائینات دي*[34]."

---

[31] The limitations of science, pp. ۱۳۸-٤۲
[32] Nature is alive.
[33] The stuff of the world is mind-stuff
[34] The universe is universe of thought.

دا د خورا ذهينو ساينسپوهانو نظريات ول. د ټولو خلاصه د ډليو اين سوليون په لاندې خبرو کې نغښتې ده:

*"د کائيناتو وروستی ماهيت ذهني دی*[٣٥]."

دا چې د کائيناتو وروستی ماهيت و حقيقت ذهن دی که ماده؟ دا په فلسفي الفاظو کې هغه پوښتنه ده چې ايا کائينات د محض ذاتي عمل په پايله کې پخپل سرر رامينځته شوې يوه تصادفي پېښه ده او که يوه غير مادي هستي شته چې د ارادې له مخې يې کائينات تخليق شوي دي. د ماشين په اړه هم عين پوښتنه کېدای شي چې ايا دا په لومړيمو کې د تيلو او اوسپنې يوه مرکب چې په اتومات او خپلسري ډول د تصادف په پايله کې سره يو ځای او ماشين ترې جوړ شو او که برعکس د ماشين ډيزاين، جوړښت او سمبالېدل د کوم انجنير د ذهن پايله ده. په بله وينا د ماشين تر پيدايښت له مخه يو شعوري ذهن موجود ؤ چې له مادې پرته يې ډيزاين جوړ او وروسته په پوره اراده جوړ او بيا سمبال کړ.

د هغوئ ترمنځ هم اختلاف ممکن دی چې د کائيناتو وروستی مهايت و حقيقت ذهن بولی. ښه بېلگه يې مذهب منونکي دي. دوئ ټول د رب شتون مني خو هره ډله خپل بېل تصور لري چې د نورو له تصور سره فرق کوي. خو دا چې د علمي څېړنو په پايله کې دا خبره څرگنده شوې ده چې د کائيناتو وروستی ماهيت ماده نه شي کېدای بلکې ارومرو به ذهن وي، دا پرمختگ د الحاد کلک رد او ورسره په همماله توکه، د دين ملاتړ کوي.

---

٣٥ The ultimate nature of the universe is mental. (p.١٤٥)

ساينس د يو خورا لوی بدلون په ترڅ کې د دين له انکار او الحاد له ملاتړ څخه اوس بيرته شاته تللی او د دين ملاتړ خو د الحاد رد يې کړی دی. د ښاغلي جې ډبليو اين سوليون په اند "*د اوسمهالي ساينس تر ټولو لوی پرمختګ او بدلون دا نه دی چې ګواکې اوس په تمدني پرمختګ لپاره لا زياته لار او اسباب برابرېږي بلکې دا دی چې د ساينس مابعدالطبيعاتي بنسټونو په پوره توګه تغير کړی دی.*[٣٦]"

د انګلستان وتلی رياضيپوه او ستورپېژاندی ښالی سرجيمز جينز په خپل کتاب (the mysterious universe) کې د همدې نظر خورا ښکلې تشريح کړې ده. په ياد کتاب کې ليکوال د خالص ساينسي-بحث و استدلال په اوږدو کې دې پايلې ته رسېږي چې:

"*معاصر فزيک دا نه شي منلی چې کائينات دې په مادي توګه تشريح شي. زما په اند د دې لامل دا دی چې نور نو د کائيناتو په اړه يواځې ذهني تصور صدق کولی شي او بس.*[٣٧]"

دی وړاندې وايي: "*که کائينات د فکر و تعقل کائينات وي، پيدايښت يې هم بايد شعوري او ذهني شوی وي.*" **(١٣٣-٣۴ پاڼه)**

دی وايي چې د برقي موجونو مادي تشريح انساني تخيل لپاره د درک وړ خبره نه ده. ځکه ويل کېږي چې دا موجونه يواځې د شونتيا په کچه کې دي. په بله وينا، اوس يې شتون فرض شوی دی خو دا هم شونې ده چې ګردسره مادي شتون ونه لري. د ورته لاملونو په پايله کې جيميز جينز وايي چې د کائيناتو اصليت ماده نه بلکې تصور دی. خو

---

[٣٦] The limitations of science, p. ١٣٨-٥٠
[٣٧] The mysterious universe (١٩٤٨) p. ١٢٣

دا تصور چیرې دی؟ په دې اړه جینز وایي چې دا تصور د یو ریاضي د یو ستر مفکر دماغ کې شته ځکه د کائیناتو تصور چې باید زموږ ذهن کې موجود شي، سراسر یوه ریاضیکي اډانه ده. *"له دې ځایه ابسي چې د کائیناتو جوړونکی به خورا ستر ریاضي پوه وي."*

اوس ویلی شو چې د پوهې سیند په را وروستو څو کلونو کې یو نوی لوری خپل کړی دی. دیرش کاله مخکې د کائیناتو ماشیني تصور موجود ؤ، له مخې یې موږ فکر کاوه چې کائینات د اتومونو یوه داسې بې ترتیبه ټولګه ده چې په اتفاقي توګه سره یوځای شوي دي. د اتومونه دا ټولګه تر لاشعوره ځواکونو لاندې په یوه بې مانا رقص او ګډا مشغوله ده او کله چې دا ګډا ختمه شي، کائینات به هم مړه او بې مانا شي. عام تصور دا ؤ چې دا هرڅه په ناڅاپي توګه موجود شوي او بیا د دې لویو کائیناتو کوم کونج کې ژوند او شعور هم پخپل سر منځته راغلی دی. خو نن ورځ د یو لړ ځواکمنو دلایلو له مخې طبیعي علوم دې پایلې ته رسېدلې دي چې د علم سیند د یوې غیرماشیني نړۍ لور ته روان دی او دا چې کائینات خورا ستر ماشین ته دومره نه دي ورته څومره چې یو ستر خیال و فکر ته ورته دی. ذهن په ناڅاپي توګه کائیناتو ته نه دی ننوتلی بلکې اوس موږ دې پایلې ته مخ په رسېدو یې چې ذهن د مادي کائیناتو د قلمرو خالق او حکمران ومنو. څرګنده ده چې له ذهن څخه موخه زما و ستا ذهن نه بلکې یو داسې ستر ذهن دی چې د مادې له اتومونو بیا زموږ تر دماغو یې هرڅه پیدا کړي دي او دا هرڅه ورسره د خیال په توګه مخکې له مخکې موجود ول. د نوي علم او پرمختګونو له امله پوهېږو چې د کائیناتو په اړه زموږ مخکینی تصور د تلوارې کار ؤ او باید له سره پرې کتنه وشي. اوس پوهېږو چې

کائينات پخپله د يو ډيزاين کوونکي او سمبالونکي ځواک پر شتون شهادت ورکوي چې زموږ له شخصي ذهن سره به ورته وي. البته ورته والی به په جذباتو او احساساتو کې نه وي. دا ځواک بايد رياضيکي دماغ ځانګړتيا ولري او زموږ ذهن سره يې ورته والی هم په همدې ټکي کې نغښتی دی.[۳۸]"

له علمي پلوه د ساينس په دريځ کې يو سلو اتيا درجې بدلون راغلی دی خو له دې سره-سره دا هم حقيقت دی چې د ملحدينو او دين نه منونکو د ماغ کې هيڅ راز بدلون نه دی راغلی. دوئ اوس هم لګيا دي او د خپل دريځ په ملاتړ کې رنګارنګ دلايل تراشي. د دوئ دلايل علمي اساس نه بلکې په زيات تاسف! يواځې تعصبي اړخ لري. انسان چې يو ځل کوم ځانګړی نظر خپل کړي او څه مهال يې له ځان سره وساتي، خورا ورته ستونزمنه وي چې بيرته يې بدل او نوی کړی. د همدې پرته له دليله صحيح فرض شويو نظرياتو له امله ډېری مهال د پوهې خاوندانو ته دليل وړاندې کېږي، سره له دې چې خبره ورته په ثبوت رسيږي خو دوئ بيا هم ترې سترګې پټوي او ردوي يې. د همدې تعصب له امله نن څخه څلور سوه کاله مخکې ايټالوي پوهانو د ارسطو د شړېدلو نظرياتو پر ځای د ګاليله نظرياتو منلو ته زړه نه کړ ښه او رد يې کړې. دوئ پخپلو سترګو وليدل چې ليننک برج نه لوېدونکی توپ د ګاليله نظر ثابتوي خو بيا هم تعصب اجازه ور نه کړه چې د پېړيو پېړو زړو نظرياتو سپېڅلتوب تر پوښتنې لاندې راولي. همدغه تعصب ؤ چې له مخې يې په نولسمه پېړۍ کې د ماکس پلانک نظريات رد شول. ماکس پلانک په نولسمه پېړۍ کې د بريښنا فزيکي

---

[۳۸] The mysterious universe, pp. ۱۳٦-۱۳۸

www.sikaraam.com

تشریح وکړه. تشریح د نیوټن تېروتنه ثابتوله. سره له دې چې نن ورځ د پلانک نظریه چې ورته د کوانټم تیورۍ ویله کېږي، د فزیک له اساساتو څخه یوه ده، خو هغه مهال ساینسپوهانو له دې امله رد کړې وه چې له مخې یې ګواکې د نیوټن خبرې ناسمې ثابتېدې.

ځینې خلک فکر کوي چې ساینسپوهان تعصب نه کوي بلکې تعصب یواځې د کم علمو او په اصطلاح امیانو کار دی. دا ډول نظر له حقیقت سره هیڅ اړخ نه لګوي. د ډاکټر هیلیز (A.V. Hills) نظر به وړاندې کړم:

*"زه به د دې دعوې وروستی کوونکی یم چې ګواکې ساینسپوهان د نورو کسانو په پرتله لږ تعصب کوي."*[۳۹]

په داسې نړۍ کې چې تعصب پکې واکمني لري، دا هیله به بېځایه وي چې خلک دې په اتومات ډول هغه تصورات خپل کړي چې په علمي توګه ثابت شوي وي. تاریخ د دې څرګندوی دی چې انسان ډېری وخت عقل پسې نه بلکې جذباتو پسې تللی دی. سره له دې چې په علمي او منطقي توګه خو دا خبره باوري ده چې د احساساتو په پرتله عقل لوړ مقام لري خو په عمل کې لیدل کېږي چې عقل د جذباتو او احساساتو په خدمت کې رول لوبولی دی. ډېر کم داسې پېښ شوي چې عقل دې جذبات په کابو کې ساتلي وي. عقل تل د جذباتو ملاتړ لپاره دلایل تراشلي دي او هڅه یې کړې ده چې جذباتي هڅې منطقي او پرځای وي. د یوې رواني اړتیا په توګه انسان تل خپل احساسات او جذبات سپېڅلي او پر ځای شمېرلي چې له امله یې ځینې کره حقایقو

[۳۹] Faith for modern man, p. ۱۰۹……….. Quoted by A,N. Gilkes

ته هم شا اړولې او انکار يې خپل کړی دی. یاد ساتئ چې زموږ معامله له کوم ماشین سره نه ده چې د سویچ په کیکاږلو به ارومرو ورته سپارل شوی کار اجراء کوي بلکې زموږ مخاطب انسان دی. انسان هغه وخت خبره مني چې دی يې پخپله منلو ته غاړه کېږدي. که چیرې انسان ونه غواړي چې يوه خبره ومني، د دلیل کره توب نه شي کولی پرې اغېز وکړي. په بله وینا دلیل نه شي کېدای چې د برقي سویچ دنده اجراء کړي. دا د بشر د تاریخ تر ټولو لویه تراژیدي ده چې انسان د دلیل ویلو له خپل ټول ظرفیت سره-سره بیا هم د دلیل معیار ته نه بلکې یواځې خپلو جذباتو، نظریاتو او عقیدو ته پام کوي.

## ساينس په انسان ونه پوهېد

وروسته له زياتو څېړنو، معاصر پوهان دې پايلې ته رسېدلې چې د بې روحه مادې په اړه د بشر څېړنې زياتې بريالۍ دي خو په پرتله يې د انسان د ژوند و ماهيت په اړه د بشر څېړنې نيمګړې او په نيمه لاره کې پاتې دي. د مادي نړۍ او ژوند په اړه پوهه يو بل نه زيات توپير لـري. که له يوې خوا مادي نړۍ تر يـو لـړ ټـاکلو قوانيـو لانـدې يـو نواخـت فعاليت تر سره کوي خو بل پلو د ژونـد پديـدې او مظـاهر ګـواکې يـو داسې جادويي څنګل ته ورته دي چې ونې يې په مسلسـل ډول خپـل ځاى او رنګ بدلوي. د مادي مظاهرو خلاف، نه شو کولی چې د ژوند مظاهر هم د جبرو مقابلې د معادلو پر مټ بيان او تعبير کړو. سره له دې چې د مادې په اړه زمونږ پوهه لا هم د وصفي پوهې تر کچې محـدوده ده. وصفي پوهه د ساينس يوه کمزورې برخه ده ځکه وصفي پوهه نـه شي کولی چې د حقايقو له اصلي ماهيت و اصليت څخـه پـرده پورتـه کړي بلکې ځينې ظاهري ځانګړتيـاوې يـې بيـانوي لکـه وزن، مکـانې ابعاد او نور. د همدې علـم پـه برکـت بشر ـ اوس توانېـدلی دی چـې د راتلونکې پېښو په اړه وړاندوينه وکړي او کله ناکله خو يې دقيقه نېټه هم مالومه کړي. د مادې د ترکيب او ځانګړتياؤ په اړه د بشر پـوهې زيـات کار کړی دی. اوس بشر کولی شي چې له ځان پرته، د ځمکې پر سر د بل هر بې روحه جريان په هکله مالومات پيدا کړاى شي. په ټوليزه توګه د حيوانـاتو پـه اړه او پـه ځـانګړې توګـه د انسـان پـه اړه پـوهې زيـات پرمختګ نه دی کړی بلکې لا هم د وصفي پوهې تر کچې محدوده ده

او دا په داسې حال کې چې د ژوندیو موجوداتو اصلي حقیقت مطالعه محض وصفي پوهې ته اړتیا نه لري بلکې تر غیر وصفي بریده باید خبره مخکې لاړه شي.

نوبل جایزه ګټونکی ډاکټر الکس کېرل په دې اړه په زړه پورې خبرې کړې دي. د نیویارک په راکي فیلر انستیتوت کې د ده بیولوژیکي څېړنو خورا زیات شهرت ترلاسه کړ. د انسان په اړه دی پخپل کتاب ناپېژاندی انسان کې په تفصیل ګړېدلی دی. یو ځای کې لیکي:

*"انسان یو خورا پېچلي او ویش نه منونکی کُل دی. هیڅ شی هم په اسانۍ د ده استازیتوب نه شي کولی. هیڅ داسې طریقه نه شته چې له مخې دې د انسان د اجزاؤ او بهرنۍ نړۍ سره د ده د پوره ذات اړیکې وفهمولې شي. د ځان په اړه د څېړنې په پار موږ یو زیات شمیر فني مهارتونو ته اړ کېږو او باید له ډېرو علومو څخه کار واخلو. طبیعي ده چې دا ټول علوم هیڅ وخت هم تر مطالعې لاندې شي په اړه یو ډول پایله نه شي وړاندې کولی. د بېلابېلو لارو-چارو استمال کولی شي چې د انسان ځیني اړخونه را بېل کړي. خو که را بېل شوي اړخونه او موارد بیرته سره یوځای شي، د اصلي ماهیت سره به په هیڅ توګه انډول نه وي بلکې تر شا به داسې څه بیا هم پاتي وي چې ارزښت یې خورا زیات وي او سترګې به نه شي ترې پټېدای. اناتومي، کیمیا، فزیولوژي، ارواپوهنه، پیداګوژي، تاریخ، ټولنپوهنه، سیاسي اقتصاد او نور خپله موضوع (انسان) په پوره مانا نه شي احاطه کولی. حقیقت دا دی چې د کوم انسان په اړه چې ماهرین مالومات لري، هغه له آر انسان څخه خورا زیات توپیر لري. د انسان په اړه مالومات هراړخیز نه دي بلکې د*

یو لړ داسې مفروضو ته‌ولګه ده چې هره مفروضه څو نورې مفروضې له ځان سره لري چې د بیلابیلو علومو پرمټ وړاندې شوې دي.

انسان په همماله توګه یو لاش دی چې جسدپوهان یې د اندامونو په څېړنې سترې دي، همدارنګه شعور هم دی چې ارواپوهـان یـې پـه شـننه کـې ښـکېل دي؛ ورسره هممهـال د ده بـدن او روح کـې د ده ځانګړې شخصیت هم پټ دی. هغه یوه کیماوي ماده هم ده چـې ور څخه نسجونه او عضلې جوړې شوې دي. انسـان حجـرو او تغـذیاتـی مایعاتو یوه حیرانوونکې ته‌ولګه ده چې ډاکتران او پوهان یې د جسماني قوانینو په مطالعه بوخت دي. انسان د نسجونو او شعور یـو مرکـب دی چې د سلامت او ښه والي لپاره یې روغتیاپالان او د ژوند ماهرین هڅه کوي چې د عمر په اوږدو کې یې روغتیایي حالت په تر ته‌ولو ښه حالت کې پاته شي. انسانان یو داسې ماشین ته ورته دی چې د روغ پاته کیدو او سالم کار کولو لپاره باید تل پروګرام شی. خو له دی هر څه سره سره انسان یو شاعر یو اتل او یو ولي هم کیـدای شـی هغـه یـواځې پـه بـې کچې توګه پیچلی جوړښت نه دی چې ساینس پوهان او د فن ماهرین یې په څېړنو کی له ستونزو سره مخ دی بلکې انسان د هیلـو غوښـتنو او قیاساتو او احساساتو مرکز هم دی. پرته له شکه انسان د خپل حقیقـت معلومولو لپاره خورا زیاتې هڅې کړی دی سره له دی چې لـه پخـوا را هیسی د ساینس پوهانو شاعرانو او فلسفه پوهانو د مشـاهداتو او څیړنـو یو ستر غونډ په دی اړه موجود دی، خو بیا هم انسان د خپل ذات په یو کم شمیر اړخونو خبر شوی دی. په تـولیزه تـوه مـوږ د انسـان پـه کلـی حیثیت نه یو خبر بلکې انسان مو برخې برخې کړی دی او دا برخې هم زموږ د خپلو طریقو پایله ده. په لنډه توګه ویلی شو چې موږ هر یو، یو

خیالي جسد یو چې په منځ کې مو یو نامالوم حقیقت پټ ساتل شـوی ده.

په حقیقت کې موږ د انسان پـه اړه خـورا کـم مالومـات لـرو. هغـه څوك چې د انسان د جوړښت څېړنې کوی له داسـی پوښتنو سره مـخ دی چې ورته ځواب نه شیي پیداکولی. زموږ د جسدونو د داخلي نړئ خورا پراخې برخې تر اوسه هم تیاره او نا مالومی دی: د حجرو پیچلې او عرضي جوړښتونه په څه ډول د کیماوي موادو او مـالیکولونو څخـه جوړ شوي دي، د تخمې داخل کې جینونه په څه ډول د پیداکیدونکي فرد د ځانګړتیاوو فیصله کوي، د اعضاوو او نسجونو داخل کې حجرې یو ډول ټولنیز شتون لري او لکه د میږیانو او شاتو مچیو په څیر پوهیږي چې په ټولنه کې د دوئ ځانګړې دندې څه شی دي. دوئ ته دا دندې چا وروښودلې او پروګرام یې چا وکړ. د انسان داخلي جوړښت پـه یـو وخت کې هم ساده او هم خورا پیچلی دی. زمـوږ د وخـت، فعالیـاتي وخت او نفسیاتي وخت نوعیت څه شی دی؟ په دې پوهیږو چې مـوږ له نسجونو، عضلو، تغذیاتي مایعاتو او شعور څخه جوړ شوي یو خو د شعور او دماغ تر منځ اړیکې تر اوسه هم یو ډول راز دی چې څـوك پرې نه پوهیږی. موږ د عصبی حجرو د کړنو پر څرنګوالی لا هم پـوره پوره نه پوهیږو: زموږ ارادي ځواك تر کومه زموږ جسـماني نظـام کـې بدلونونه را وستلای شي، تر کومه بریده دماغ لـه عضـلو څخـه اغیـزمن کیدای شي، جسماني او دماغي ځانګړتیاوې د وراثت په توګه هر کس ته رسیږي خو اب و هوا اخلاقي تربیې او د انسان کړنې تر کومه بریده کولای شي چې د انسان پر یادو وراثتي ځانګړتیاوو اغیز وکړای شي؟

*موږ په دې هم نه پوهیږو چې د اسکلیټ، عضلو، غړیو، دماغ او رواني حالاتو تر منځ کوم ډول اړیکې شتون لري. موږ په دې هم نه پوهیږو چې د دماغي توازن او ناروغیو د مخنیوي د اتومات سیستم لاملونه څه شی دي. په دې هم نه یو خبر چې د اخلاقي احساس، د پریکړې ځواک او جرات د پراختیا لپاره له کومو لارو چارو کار واخیستل شي. د ذهني ، اخلاقي او عبادتي کړنو ارزښت په څه کې دی. د مذهبي احساس اړتیا څه شي ده او نور. پرته له شکه چې ځینې دماغي کړنې د خوشحالي یا تکلیف، کامیابي او یا ناکامي په پایله کې را منځ ته شوې وي. خو په مصنوعي توگه په یو فرد کې کوم اسباب باید استعمال شي چې خوشحالي و زیږوي. تر اوسه موږ نه پوهیږو چې د انسان د تمدني پرمختګ لپاره کوم ډول چاپیریال مناسب دی. ایا دا شونې ده چې زموږ له فعالیاتي او روحاني جوړښت څخه تکلیفونه او اندیښنې په پوره توګه له منځه لاړې شي. د شته تمدن او پرمختګ په رڼا کې موږ څنګه کولای شو چې انسان له زوال منونکي حالت څخه بچ کړای شو. خورا زیاتې نورې پوښتنې هم شته چې تر دمګړۍ ورته هیڅ ډول ځواب نه لرو. دا څرګنده ده چې د انسان په اړه ټول علوم بې وسه شوي دی او دا چې زموږ د ذات په اړه پوهه لا تر اوسه په خوار ابتدایي پړاو کې ده.*[٤٠]"

له دې اقتباس څخه په خورا ښه توګه څرګندیږي چې انسان د خپل علم او پرمختګ په اوږدو کې لا تر اوسه هم د ځان په اړه په څه نه پوهیږي. د انسان د وجود د مادي برخې په اړه موږ خورا زیات مالومات لرو خو د ده د مادي وجود د کنټرولوونکې برخې په اړه هیڅ

---

[٤٠] Man the an unknown, pp.١٦-١٩ نا پیژانده انسان

مالومات هم نه لرو. همدا لامل دی چې ژوند لا تر اوسه زموږ لپاره یو ډول راز دی او تر څو چې دا راز سپړل شوی نه وي، موږ د ژوند د اصلي جوړښت او څرنګوالي په اړه مناسب ګام نه شو پورته کولی. د نامالوم انسان د مالومولو لپاره د الکس کیرل کتاب یوه ساینسي- هڅه ده. ورته هڅې په خورا پراخه کچه د نړی سراسر جریان لري خو له بده مرغه پایله یې له صفر څخه کله هم نه ده پورته شوې.

ننی انسان د اتوم زره ویشلای شي، په قطبي سیمو کې ودانۍ جوړولای او د ژوند زمینه مساعدولی شي، دی د خلا تر لیرې لیرې سیارو سفر کولای شي او زرګونه نور داسې کارونه دي چې ظاهرا خورا ستونزمن او پیچلي دی خو انسان یې په کولو بریالی شوی دی او د خپلې خوښې مطابق یې په اړه اجراآت کولای شي. دې پرمختګونو ته په پام، انسان باید د خپل ذات په اړه هم په ډېر څه خبر وای. خو انسان د مادي کایناتو په اړه مالومات تر لاسه کړي او د ځان په اړه لا تر اوسه هم په هیڅ نه پوهیږي.

انسان له پروتوپلازم څخه جوړ شوی دی او د بیلیونونو حجرو یوه حیرانوونکې ټولګه ده. پوښتنه داده چې پروتوپلازم څه شی دی؟ دا ده بې روحه شیانو یواځینی مرکب دی چې د روح خپلولو هیښوونکې وړتیا لري. پروتوپلازم هم یو ډول فزیکي جوړښت دی چې پرې ټول مادي قوانین د تطبیق وړ دي. دا خورا هیښوونکې خبره ده چې ولې په دې جوړښت کې روح ځای خپلولای شي. موږ د مادي نړۍ په اړه خورا زیات مالومات لرو خو د پروتوپلازم د فزیکي جوړښت په اړه زموږ مالومات له هیڅ سره برابر دي.

ټول هغه شیان چې موږ یې په سترګو لیدلی شو، د ځینې نورو اجزاوو مرکب دی. که دا ټولې اجزاوې، ماده او لازم وسایل موجود شي؛ موږ کولای شو چې په مرسته یې دا ټول مرکبات پیدا او له منځه یوسو. له همدی ځایه ده چې آلمانی فلسفه پوه، کانت په ۱۷۵۵ کې وویل چې ماده په لاس را کړی او زه به تاسو ته دا در وښییم چې له دې مادې څخه نړۍ څنګه را منځ ته کیږی. هایکل هم ورته دعوه وکړه، وې ویل چې که اوبه، کیمیاوی اجزا او وخت را ته برابر شي، زه به ترې انسان جوړ کړای شم.

مثلاً د اوبو په اړه موږ پوهیږو چې یو مالیکول اوبه به له یو اتوم اکسیجن او دوه اتومه هایدروجن څخه جوړې شوې وي. موږ کولای شو چې دا عناصر په همدې تناسب سره یو ځای او اوبه ترې جوړې کړو او یا د اوبو مالیکولونه تجزیه او بیرته ترې اکسیجن او هایدروجن ازاد کړو. خو د انسان په اړه خبره بالکل سرچپه ده. ساینس موندلې چې پروتوپلازم له کومو اجزاوو څخه ترکیب شوی دی، ساینس د همدې ترکیب په ځانګړی تناسب هم خبر دی خو بیا هم انسان نه شی کولای چې همدغه اجزا د همدی ځانګړی ترکیب له مخی سره یو ځای او ژوند تری را منځ ته کړی. د پروتوپلازم د اجزاوو ترکیبی تناسب څرګند دی د همدی تناسب له مخی یې اجزاوې هم سره یو ځای کیدای شی خو په پایله کې یې چې کوم پروتوپلازم جوړیږي، هغه به د روح لرونکی نه وي. په بله وینا موږ کولای شو چې د ځانګړي ترکیب له مخې اجزاوې سره یوځای او ورڅخه کیمیاوي مرکبات جوړ کړای شو. خو د پروتوپلازم په اړه زموږ د کار حاصل بې

نتیجې کیږي. ګواکي موږ په مادي شیانو کې تصرف کولی او مادي پیښې را منځ ته کولای شو، خو د انسان په اړه دا کارونه شوني نه دي.

موږ باید په دې اعتراف وکړو چې د انسان په اړه دا زموږ لومړنۍ کمزوري ده. تر دې هم د انسان په اړه زموږ بله لویه کمزوریی دا ده چې زموږ ټوله طبیعیاتي مطالعه د انسان د مړې برخې په اړه ده خو موږ د دې وړ نه یو چې د ژوندي انسان په اړه مطالعه وکړو. د پروتوپلازم تشکیلوونکې اجزاوې ساینس مالومې کړې دي، ساینس د دې اجزاوو ځانګړی تناسب هم مالوم کړی دی خو ساینس دا نه ده مالومه کړې چې په پروتوپلازم کې کوم ځانګړی ترکیب دی چې له مخې یې پروتوپلازم ژوندی (ذیروح) کېدلای او که دا ترتیب له منځه لاړ شي ذیروح پروتوپلازم بیرته په غیر ذیروح پروتوپلازم بدلیدلای شي. ګواکي په پروتوپلازم کې همداسي یو ځانګړی ترتیب موجود دی چې له مخې په پروتوپلازم کې ژوند را منځ ته کیدلای شي. خو ستونزه دا ده، چې موږ نه شو کولای دا ځانګړی ترتیب مطالعه او تشخیص کړای شو ځکه د همدې ځانګړي ترتیب د مطالعې لپاره باید د پروتوپلازم کیمیاوي ترکیب تجزیه کړو خو کله چې دا کیمیاوی ترکیب تجزیه شي له پروتوپلازم څخه ژوند وار د مخه لا رخصت شوی وي. پایله دا ده چې کله هم د پروتوپلازم کیمیاوي تجزیه کیږي دا هماغه وخت وي چې پروتوپلازم له روح سره مخه ښه کوي. داسې کله هم نه دي شوي چې له یوی خوا دې کیمیاوي تجزیه شوې وي او له بلې خوا دې په پروتوپلازم کې ژوند لا هم موجود وي. تر څو چې داسې و نه شي، یانې د روح په شتون کې پروتوپلازم تجزیه نه شي، تر هغې د ژوند د حقیقت په مالومولو کې به ساینس د تل لپاره په تیاره کې پاته شي.

خو زموږ ستونزه په همدې ځای پای ته نه رسیږي، بلکې له دې څخه هم لوییږي. فرض کړئ چې یو کس غواړي د انسانیت حقیقیت مالوم کړي او انسان ته ووایي چې د ژوند قانون څه شی دي. د همدې موخې لپاره هغه باید انساني ټولنه تر مطالعې لاندې ونیسی. وروسته له زیاتې څیړنې او مطالعی دی دې پایلې ته رسیږی چې ټولنه خو د انسانانو ټولګه ده تر څو چې د فرد په اړه مطالعه و نه کړو، د ټولنې په اړه زموږ مطالعه بې ګټې ده. دی مجبوریږي چې ټولنه پرېږدي او د انسان مطالعه پیل کړي. په دې پار، تر ټولو لومړی متوجه کیږي چې باید اروا پوهنه مطالعه کړي، خو دی پوهیږي چې اروا پوهنه خورا زیاتې څانګې لري اود دې ټولو څانګو څیړنیزې پایلې یو له بل سره توپیر لري: د اروا‌پوهنې د یوې څانګې دعوه دا ده چې د انسان د ټولو کړنو تر شا احساس د یو خوځنده فکتور په توګه لاس لري. د یوې بلې څانګې دعوه داده چې له بهرنۍ نړۍ سره د انسان تړاو د عمل او عکس العمل پر قانون ولاړ دی، ځینې برخې یې د انسان جنسي-غوښتنې د ده د ټولو کړنو محرك بولي. ځینې بیا دا وایې چې د بریالیتوب احساس او خپل آیډیل ته د رسیدلو جذبه د انسان اصلی متحرك ده. ځینې فکري مکتبونه شعور ته د اصل په سترګه ګوري او له مخې یې د انسان ټول شتون تشریح کوي. ځینې بیا دا وایي چې د عقل او ذهن په نوم هیڅ شی هم موجود نه دی، د انسان بیلابیل غړي تر یو مرکزي ځواك لاندې نه دي بلکې انسان چې د بدن هرې برخې ته زیاته پاملرنه وکړي، هغه به پرته له شکه چې ښه کیږي او پرمختګ به کوي. مثلا د همدې پاملرنې په پایله کې یو څوك په ښه رقاص بدلیږي او بل په یو وتلې متفکر.

د انسان په اړه د ارواپوهنې اختلاف دومره غټ دی چې له امله یې دا دعوه هم موجوده ده چې ارواپوهنه ګرد سره علم نه دی. په بله وینا فیلسوف غواړي د ژوند قانون پیدا کړي. دا چې ساینسي پرمختګ ورته اسانتیاوې برابرې کړې دي، دی په دې اړه تر هرڅه لومړی د انسانانو ټولنیز ژوند ته مخه کوي او ژر پوهېږي چې ټولنیز ژوند د افرادو ټولګه ده. دی د خپلې مطالعې لپاره افراد تر مطالعې لاندې نیسي خو تر ټولو لومړی دی له دې پوښتنې سره مخ کېږي چې افراد له کوم اړخ او علم نه مطالعه کړي؟ بیا پیل له ارواپوهنې کوي. د اشخاصو ارواپوهنه دی دې پایلې ته رسوي چې باالاخره هیڅ پایله هم نه وي ځکه د انسانانو ارواییي حالت یو بل نه دومره توپیر کوي چې د انسانانو ټولیز ارواییي حالت سراسر د ګډوډۍ مجموعه ګرځي. فیلسوف د انسان ساختماني جوړښت ته مخه کوي، په دې پار د بیولوژي پوهه تر لاسه کوي او د بدن ټول غړي د جوړښت او ساختمان له زاویې څېړي او مطالعه کوي یې. اوس دی پوهېږي چې انسان له حجرو جوړ دی. دی خوښېږي چې د یوې حجرې هر اړخیزه مطالعه دی پایلې ته رسولی شي. د حجرې په اړه مطالعه دې پوهوي چې حجره کې دننه محض کیمیاوي عملونه او تعاملونه شتون لري او بس. نو دی باید اوس د کیما او فزیک علم هم مطالعه کړي. د کیمیا فریک مطالعه دی پوهوي چې اصلا خو انسان او ټول کائینات له اتوم څخه جوړ دي. په دې توګه دی اړ کېږي چې هستوي ساینس ته مخه کړي. اوس چې هستوي ساینس هم مطالعه شوی دی، د ده پوهه دومره زیاته شوې ده چې له مخې یې دی پوهېږي چې هر اتوم له محدود الکتروني موجونو جوړ دی. په دې

توګه فیلسوف دې پایلې ته رسېږي چې انسان او دا ټول کائینات د لیوني او سرګردانه الکتروني ډانس او نڅا پرته بل څه نه دي!

ګواکې دی په یو داسې نړۍ کې ورکیږي چې له لیدلو سره سره یې بیا هم نه شي لیدلای.

لوډ په دې اړه وایي: ماده یو غیر حقیقي شی دی چې په لاس نه شي را تلای. دا د فاصلې او وخت یو څلور بعدي نړۍ، د برقي الکترونونو جال او یا د امکان یوه وریځ ده چې د محض لیدلو په مهال پناه کیږي. ډیری وختونه دا یو جامد جوړښت نه بلکې د لیدونکي کس د شعور امتداد وي.

د ژوند په اړه د مادي علومو د هڅو دا عبرتناک انجام د دې څرګندوی دی چې انسان نه شي کولای د ژوند د راز په اړه و پوهیږي. څنګه چې ناروغ نه شي کولای د ځان علاج وکړي او اړ کیږي چې ډاکتر ته مراجعه وکړي، په ورته توګه انسان د خپل ځان د فطرت په اړه بې وسه کیږي او له همدې ځایه اړ دی چې هغه ذات ته رجوع وکړي چې د ده موجود شکل یې جوړ کړی دی. څنګه چې الله جل جلاله انسان اکسیجن ته اړ کړی دی او بیا یې د ځمکې فضا له اکسیجن څخه ورته ډکه کړې ده، په ورته توګه انسان یې د ژوند د حقیقت موندلو ته هم محتاج کړی دی او د خپلو نبیانو په وسیله ورته د ژوند د حقیقت په اړه پوره مالومات را لیږلي دي.

**اوسمهالی دین پېژندنه**

جولین هیگزلي په دې باور دی چې انسان نه شي کولی محض په تشکیک کې واوسي بلکې یو نه یو ډول عقیده باید ولري. *"یو نه یو ډول دین باید موجود وي."*[41] یانې ان اوسمهال هم د دین موجودیت یو ضروري امر دی خو د ده په اند داسې یو دین باید نه خو وحیه شوی وي او نه د کوم خدای عبادت ته څوك وبولي. ظاهراً د ده څرگندونې بې مانا ایېسي خو په حقیقت کې د دې خبرو تر شا لویه فلسفه پرته ده چې معاصر فکر یې خورا ژور اغېزمن کړی دی.

د یاد فکر لرونکو خلکو نظریات یو بل سره توپیرونه لري. په دې فکر کې ملحدین او حتا د دینپلوه کسان هم شامل دي. د دوئ ترمنځ یوه خبره مشترکه ده او هغه دا چې دوئ رسالت نه مني بلکې فکر کوي چې دین او کړنې یې د انساني فکر زېږنده دي. لارډ مارلي په دې اړه کاږي:

*"د سائنس بل لوی کار به دا وي چې د انسانانو لپاره به دین جوړ کړي."*[42]

د همدې فکر لرونکی که کله هم د دین په اړه څه وایي، مطلب یې له همداسې یوه دین څخه وي. یانې د دین ټولمنلي تصور په اړه به نه غږېږي. دوئ فکر کوي چې دین یو ذهني هنر دی چې وحیې ته

---

[41] Hindustan Times, Oct. ١٩٦١
[42] Science and Christian Belief, by C.A. Coulson (١٩٥٥) p.٨

www.sikaraam.com

هیڅ راز اړ نه دی. یو مفکر څکه ویلي چې د داسې یو خوځښت موخه انسان ته د خدای حیثیت ورکول دي. له دې ځایه ده چې دې نوي دین ته انسانیت (Humanism) ویل کیږي.

د ډاکټر الکس کېرل کتاب چې په لمړي ځل په ۱۹۳۵ کې چاپ شو، د هیومنیزم په لور یوه هڅه ده. سره له دې چې د ده کتاب د همدې فکر ټولو خلګو استازیتوب نه شي کولی خو تر د مګړی د ساینسي پرمختګونو په رڼا کې د یو ساینس پوه له خوا په خالص ساینسي ژبه په همدې اړه تر ټولو جامع کتاب دی.

د ساینس او تکنالوژی له بیساري پرمختګ سره-سره انسان له ستونزو او ننوګونو سره مخ

دی. دا چې ولې، په دې اړه اوسمهالی مفکرینو زیات غور کړی دی. ځینې فکر کوي چې په مادي

علومو کې د پرمختګ په پرتله د حیاتیاتي علومو پرمختګ خورا ورو دی او دا چې دویمه برخه کې باید تر پخوا په ځلونو زیات کار او څېړنه وشي.

د نوبل جایزې ګټونکي ډاکتر الکس man the unknown کتاب په اصل کې د نه پېژندل شوي انسان د پېژندنې یوه هڅه ده. دی د خپل دې کتاب د انسان نوې جوړونه څپرکي په دې الفاظو پیلوي: *"ساینس چې مادي نړۍ بدله کړې، انسان ته دا ځواک ورکولی شي چې خپل ځان هم بدل کړای شي."*

وړاندې لیکي:

*"بشر په خپل ټول تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د خپل برخلیک ښښتن شوی دی. دا فرصت په لاس راغلی چې د مادې په څېر په خپل روح و جسم کې هم د اړتیا وړ بدلونونه راولو. پوهېږو چې د ماغي تنبلی ، بد اخلاقي او جرم کاري عموما میراثي ځانګړتیاوې نه دي؛ څنګه چې د نارغویو درملنه کوو، همداسې د یادو بدکنو په علاج هم لاس پورې کولی شو."*

ډاکټر الکس کېرل لا نور وړاندې ځي:

*"مسلک او صنعت د ساینس ماهرینو څخه دومره نه شو اغېزمن لکه د مابعدالطبیعاتو له ناسمو انګېرنو څخه. موږ ته په کار ده چې د حقیقي شیانو او د زموږ د ذات د دویم اړخ تر منځ توپیرله ورک کړو. زموږ د ټولو مصیبتونو لامل د ګالیلو تولیدي نظریه یا genial idea غلط تعبیر دی. د همدې نظریې په اساس ګالیلو د شیانو د لومړنیو خواصو څخه چې له ابعادو او وزنونو څخه عبارت دي، دویمي خواص چې له رنګ، بوی، شکل او نورو سره اړه لري بیل شول. د لومړي ویشنې اندازه په اسانی کېږي خو د دویمي هغې نه کېږي. په بله وینا، کمیت له کیفیت څخه بیل شو. دې تېروتنې غیر معمولي پایلې و زېږولې. د انسان هغه ځانګړتیاوې چې اندازه یې نه کېږي له هغو نورو چې اندازه یې شونې ده، ډېرې مهمې وبللې شوې.*

*مثلاً د خیال و فکر شتون هغومره مهم دی لکه د وینې د طبیعي کیمیاوي توازن شتون. د کمي او کیفي شیانو تر منځ توپیر هله لا زیات شو چې ډېکارټ د جسم او روح توپیر وکړ. په کار ده چې د ثنویت Dualism فکر ته شا شي، د ماغ د مادې برخه و بلله شي، جسم او*

*روح توپیر ورک کړای شي او څومره چې د حرارت حرکیاتو قانون ته د ارزښت ورکړ شوی، همدومره ارزښت جذباتو ته هم ورکړ شي.*

*له یوې داسې نظریې خلاصون خورا ستونزمن دی چې پوره ۳۰۰ کاله یې د متمدنو خلکو پر ذهنونو راج کړی دی. خو که له دې مفکورې خلاص شو، خورا ژر به د هېښونکو پرمختګونو شاهدان شو: د مادې فوقیت به ختم شي، د ریاضیاتو، طبیعاتو او کیمیا په څېر د اخلاقي، جمالیاتي او مذهبي کړنو مطالعه به هم ارزښتناکه شي. له ډاکترانو به پوښتنه وشي چې دوئ ولې یوازې جسمي ناروغی علاجوي، ولې دماغي او عصبي ناروغینو ته پام نه کوي. د ناروغیو ماهرین به د اعضاوو د خدماتو ترڅنګ د خلاط Humors خدمات هم وڅېړي او وبه ګوري چې پر نسجونو د دماغ او پر دماغ د نسجونو څه اغېز پرېوځي او داسې نور[٤٣]."*

د ډاکټر کېرل په اند د انسان د ټولو ستونزو لامل دا دی چې د علومو هرې برخې ډېر پرمختګ کړی خو چا چې دې پرمختګ ته کار کړی، د ځان او ژوندیو موجوداتو په اړه یې علم په ابتدایي حالت کې ساتلی دی. ګنې څنګه چې د لرګي بوین سکاره په خورا ښکلیو رنګونو بدلېدای شي او خامه بدشکله اوسپنه د ماشینونو په ښکلیو جوړښتونو بدلېدای شي، په ورته توګه انسان کې هم توپیر راوستل کېدای شي؛ خو دا چې تر اوسه ولي بشر دې موخې ته په رسېدو کې پاتې راغلی، دی یې لامل د حیاتیاتي علومو په وروسته پاتې والي کېویني. (۳۹ مه پاڼه)

[٤٣] Man the unknown, ١٩٦١, pp. ٢٥٧-٦٣

دی زیاتوي:

*"د دې تشې د ډکولو لپاره یـواځینی لار دا ده چـې انسـان د خپـل ذات په اړه لا ژوره پوهه حاصله کړي. د ژورې پوهې پرمټ به بریـالي شو چې په خپل شعور و جسم باندې د عصري ژوند اغېزې مطالعـه او له محیط سره ځانونه عیار کړو او که چېرې اړتیا پېښـه شي، پـه محـیط کې هم لوی بدلون راوستلی شـو. د خپـل ذات، خپلـو استعدادونو او ورځخه د کار اخیستلو په لارو چارو تـر پوهېـدو وروسـته پـه دې هـم توانېدلی شو چـې خپلـې فزیولـوژېکي کمـزورۍ او ذهنـي و اخلاقـي ناروغۍ تشخیص کړای شو. د دې لپاره چـې د خپلـو فزیولـوژیکي او عبادتي چارو په اصولو، د حرامو او حلالو په توپیر، او په دې چې ایـا موږ له خپل چاپېریال او فکر سره سم خپل ذات و ځان بدلولی شو که یا؛ د انسان د ذات په اړه له پراخې او هر اړخیزې مطالعې پرته بله لار نه لرو. ځنګه چې عصري تمدن طبیعت او د استوګنې شرایط خورا زیات خراب کړي، ځکه خو د دنورو پوهو په پرتله د انساني علومـو مطالعـه ډېره ارزښتناکه شوې ده[٤٤]."*

*هر کال خبرېږو چې په نژادپوهنه، احصائیې، اخلاقیاتو، بیولـوژۍ، کیمیا، اناتومي، فزیالوژي، طب، حفظ الصحه، ټولنپـوهنې، اقتصـاد او نورو برخو کې زیات پرمختګونه شوي دي خو په عمل کې وینـو چـې دې پرمختګونو د پام وړ مثبتې پایلې نه دي زېږولـې. پـه دې اړه کـارل کارېي: دا پرمختګونه به یـواځې هلـه د ګټـې اخیسـتنې وړ وای چـې د کتابتونونو پر ځای یې انساني فهم زیات کړی وای. خو ایـا ممکنـه ده چې یو کس دې وتوانېږي د علومو دومره لویې ذخیرې خپل دماغ کې*

[٤٤] Man the unknown, p. ۳۹

وځایوي. ایا داسې څوک به پیدا شي چې په ستورپوهنه، فزیالوژي، بیولوژي، کیمیا، ارواپوهنه، میتافزیک، پتالوژي، طب او وروسره په هممهاله توګه له جنیتیکس، تغذیې، پراختیا، پیداګوژی، شکلي هنرونه یا استیتیکس، اخلاقیات، دین، ټولنپوهنې او اقتصاد څخه ژور مالومات ولري. فکر کوم دې هدف ته رسېدل ناممکن کار نه دی. یو انسان د پنځه ویشت کلونو په اوږدو کې که ټول هاند و هڅې همدې موخې ته ځانګړې کړي، ور رسېدای شي. په پنځوس کلنی کې همداسې کسان کولی شي چې انساني فطرت ته په پام انساني ژوند او تمدن په اغېزناک ډول رهبري کړي.

وروسته بیا د انسان جوړونې په پار د داسې ادارو رامنځته کولو ته اړتیا ته چې د طبیعي حاکمو قوانینو په نظر کې نیولو بدن او دماغ جوړ کړای شي. په انسان کې د بدلونونو راوستلو په پار باید اوسنیو ادارو کې خورا زیات بدلونونه راوستل شي. دا ادارې به د انسان په اړه د علم بېلابېلې برخې سره ټولوي او د یوه علم حیثیت به وربښي. د څېړونکو او ساینسپوهانو ټولنه به جوړېږي او دا ادارې به د ځانګړو ځانګو ماهرینو ته نه سپارلې کېږي ځکه دا ماهرین یواځې د خپلې علمي څانګې پرمختګ ته لېوال وي. د اداراتو په رأس کې به داسې کسان وي چې په ټولو اړونده علومو به لاسبري وي. ځکه د اقتصاد، ارواپوهنې، کیمیا او یا ټولنپوهنې ماهرین له انساني حقیقتونو په

یو ډول نه دي خبر او له خپلې دایرې بهر د دوی پر بصیرت هیڅ باور نه شي کېدای.

*اوس وخت زیات شمېر اداري شته چې د علومو په بېلابېلو برخو کې د قدر وړ کار او لاسته راوړنې لري. خو د تاکل شوي هدف په لور يې لاسته راوړنې کفايت نه کوي. د رياضياتو، فزيک او کيميا پوهه اورومرو اړينه ده خو د جسماني نظام د پوره څېړنې لپاره د اساسي علومو رول نه شي لوبولی ځکه د انسان د ځانګړيو قضيو په اړه ورځخه په تول پوره تصورات نه شی کېدای. د راتلونکې بيولوژيپوهان بايد پوی شي چې د دوئ موخه يواځې د مصنوعي او تجريد کړای شويو نظامونو مطالعه نه ده او دا چې د بيلس Bayliss فزيولوژي د اصلي فزيولوژی خورا کوچنی برخه ده.*

*پوهېږو چې د انسان تکامل خورا ورو دی. د ياد شويو مسائيلو د حل لپاره بايد ساينسپوهان نسلونه نسلونه خپل تول ژوند کار وکړي. ځکه خو يوې داسې اداري ته اړتيا ده چې لږ تر لږه د سلو کالو لپاره پرته له خنډ و ځنډه په انسانپېژندنه کار وشي. اوسنی تولنه بايد داسې مرکز جوړ کړي چې د نړی سراسر څخه ورته مفکرين او څېړونکي راټول شي او په ګډه يو داسې لافاني دماغ جوړ کړي چې راتلونکې د سنجولو او پلانونې وړتيا ولري. يواځې او يواځې له همدې وروسته د انساني پرمختګ دايمي نظريات رامنځته کېدای شي او بس[٤٥]."*

پورته چې څه وليکل شول، د ډاکټر کېرل په وينا د هغو خلکو د نظرياتو لنډيز دی چې د الهي دينونو له پرېښودلو وروسته غواړي انساني دين رامنځته کړي. کيرل هم په دې کتاب کې د انسانپېژندنې لنډه کتنه کړې او د دې پوهې د بېلابېلو مالومو او تياره ګوټونو په اړه يې

---

[٤٥] پاڼې ٢٦١-٦٧

مالومات لیکلي دي. په اخر کې یې خپل ۳۰۰ پاڼې لرونکی پېر کتاب په دې الفاظو پای ته رسولی دی:

*"د بشر په تاریخ کې لومړی ځل دی چې یو ویجاړېدونکی تمدن د خپل انحطاط لاملونه مالومولی شي او د ساینس ستر ځواک یې په خپل کابو کې راوستلی دی. ایا موږ به دا علم او ځواک استمال کړو؟ د تېر شویو تمدونونو په برخلیک د اخته کېدا څخه زموږ د ژغورنې یواځینی هیله د همدې ځواک استمال دی او بس. خپل برخلیک په خپله اداره کولی شو ځکه خو موږ ته په کار ده چې په نوې لاره وراندې تک پیل کړو[٤٦]."*

**کتنه**

له لږ څېړنې وروسته پوهېږو چې په دې فکر کې خورا زیاتې خامیانې شتون لري:

١. سره له دې چې انساني علوم زیات پخواني دي. انسانانو د خپل جوړښت په اړه غور، فکر او څېړنې له خورا پخوانیو وختونو پیل کړې دي. د انساني علومو په پرتله د مادي علومو مطالعه نوې ده خو بیا هم په دې دویمه برخه کې انسان خورا زیات مخکې تللی دی. د مادي او انساني علومو توپیر زباتوي چې انسان به کله هم خپل ذات د مادې د ظاهري خواصو په څېر ونه پېژندلای شي. لیکوال کاږي:

د سوډیم کلورایډ (مالګې) د یوې ټوټې په اړه د ماټریالیست او روحاني کس تشریح ارومرو یو ډول وي خو د انساني هستی په اړه د دې کسانو نظر کله هم یو ډول نه شي کېدای. (۱۷مه پاڼه)

---

[٤٦] ۲۹۸ پاڼه.

www.sikaraam.com

هیڅ داسې ځېږنه نه ده شوې چې په راتلونکې کې د دې حالت پر بدلون دلالت وکړای شي. ځکه خو هیڅوک دعوه نـه شي کـولی چـې په راتلونکې کې به انسان پـه خپـل راز وپوهېـدای شي. لیکـوال نیوکـه کړې چې څنګه یو شمېر خلک د مادي علومو خبرې او اصول د انسان د ذات په اړه کوي او غواړې د مادي نړی اصول پـر انسـاني جوړښـت پلي کړي:

د ازاد شوي ځواک خپرېدل چې د ترمودینامیک دویم قانون دی، د مالیکولونو په کچه د پلي کېدو وړ دی خو همدا قانون د نفسـیاتو پـه اړه نه شي استمالېدای ځکه دلته د لږ هڅې او زیات خوند اصل شتون لري. د *شُعري جذب و دفعې* ځـواک او نفـوذي اغېـز[٤٧] خـورا پـه زړه پوري مالومات دي خو د شعور لـه مسـائیلو سره هـیڅ راز اړه نـه لـري. اروايي/نفسیاتي مظاهر د حجروي فعـالیتونو یـا کـوانتم میکـانیکس لـه مخې تشریح کول هسې له الفاظو سره لوبېدل دي او بس. (۳۳مه پاڼه)

خو د ده تېروتنه دا ده چې په اند یې د مادي علومو په څېر موږ په انساني علومو کـې هـم هـومره زیـات پرمختـګ کـولی شـو او ګـواکې بالاخره به د انسان رازونه کشف کړو. لیکـوال دلتـه د نولسـمې پېـړۍ د میکانیکي ارواپوهانو نظریه په لږ بېلو الفاظو کې تکراروي. د انسان پـه اړه ټول مالومات وصفي[٤٨] دي او د انسان د مادي اړخونو په اړه دي. له دې ځایه ده چې د انسان پېژندنې په پار کـه د انسـان د خلقـت پـه اړه دیني لارښوونې په پام کې ونـه نیـولې شي، دا بـه یـواځې او یـواځې د نولسمې پېړۍ د متریالیستانو پېښې کول وي او بس.

---

[٤٧] The concepts of capillarity and of osmotic tension
[٤٨] Descriptive

۲. لیکوال ټینګار کوي چې د انسان پر ذات د پوهېدلو لار دا نه ده چې ګواکې د علومو د بېلابېلو برخو د ماهرینو مالومات به سره یو ځای او بالاخره په دې اړه پرمختګ وکړي:

د انسان په اړه د علومو او مالوماتو پېیل داسې هم نه شي کېدای چې د بېلابېلو برخو ماهرین دې د مېز چاپېر کېني او په ګډه دې علوم سره وپېـــــــیـــــــي. داسې کله هم نه ده پېښه شوې چې د یو زبردست هنر پنځولو لپاره دې هنرمندان په ګډه کار وکړي. داسې هم نه دي شوي چې مختلف څېړونکي سره کېناستلي او په ګډه یې کوم لوی کشف کړی وي. د انسان د ذات په اړه څکه خو د بېلابېلو ماهرینو پر ځای د یوه کس دماغ ته اړتیا ده چې په اړه یې مالومات وپنځولای شي. (۵۵مه پاڼه)

خو تر موجود شرایطو لاندې به څنګه شونې وي چې داسې یو انسان دې پیدا شي. انسان د محدود ژوند سره لاس و ګریوان دی. تر اوسه انسان نه دی توانېدلی چې د زېږښت او مرګ مخه ونیسي- او یا زیات څنډ پکې راولي. یو انسان که هرڅومره تکړه هم وي، خو په خپل محدود ژوند کې نه شي کولی چې ان د علم په یوې څانګړې څانګې کې په پوره مانا ځان ورسوي او پر هرڅه یې پوهه احاطه شي. څکه خو د علم د ټولو برخو په اړه د یوه واحد شخص د پوهې احاطه کېدلی بې کچې ناشونی کار دی.

د لیکوال په اند په دې پار یواځې ۲۵ کاله کافي وخت دی چې یو شخص دې په ټولو اړینو برخو کې ځان ورسوي. عجیبه ده! ایا نظر یې امکان لري؟ تر اوسه چې څومره هڅې شوې دي، په اثبات رسوي چې د لیکوال دا نظر بالکل غلط دی. ان د علم د یوې څانګې مطالعه د

انسان ټول عمر نیولی شي خو بیا به هم پکې پوره لاسبري ونه لري. د بیلګې په توګه، مارکس د خپل عمر ۳۵ کاله وخت یواځې د اقتصاد مطالعې ته وباښه خو بیا هم د ده څېړنه نیمګړې وه او ده د خپل کتاب پانګې یواځې یو ټوك ولیکلای شو.

حقیقت دا دی چې د انسان اصلیت خورا پېچلی او د یوه څېړونکي خبره چې د اضدادو مجموعه ده او بس. دا به څنګه امکان ولري چې یو شخص دي له خپلو ټولو محدودیتونو سره سره وتوانېږي چې د انسان د اصلیت په اړه په پوره مانا غیرمشکوکه پوهه وپنځوي. هو! د کم علم او څېړنې په لړلو ممکن په یو چا کې دومره ساده توب پیدا شي چې ووایي داسې یوه چاره شونې ده؛ خو څومره چې مطالعه، څېړنه او پوهه زیاتېږي، هغومره ورسره بېلابېلې، پېچلې او ضد و نقیض پوښتنې پیدا کېږي چې سره یو ځای کول، همغږې کول او ترې یو واحد نظر پنځول بالکل ناشونی کار کېږي. همدا لامل دی چې د بېلابېلو برخو د ماهرینو نظر د یوې واحدې مسئلې په اړه کله هم یو ډول نه وي ځکه دوئ له بېلابېلو لیدلورو مسئلې ته کتلي وي. مثلاً واټسن او ملګري یې فکر کوي چې د انسان سلوك چاپېریال او زده کړه اغېزمنوي او بس. دوئ په کلکه دا خبره ردوي چې ګواکې ارثي خواص دې د انسان پر افعالو اغېز وښندلای شي[٤٩]. خو پر وړاندې یې بیا د تولد و تناسل ماهرین یا جینیټک پوهان په دې باور دی چې ارثي خواص پر انسان زښت زیات اغېز لرلی شي، ان دومره چې د انسان د

[٤٩] دې ډلې کسانو ته په اروا‌پوهنه کې behaviorists ویل کېږي. بیهیوریزم د اروا‌پوهنې یوه څانګه ده چې د انسان ظاهري او پوهېدو-وړ سلوك او کړنې څېړي. ژباړن

نسل او ټولنو د ژغورلو لپاره زياتې ښوونې او روزنې ته اړتيا نشته چې د انسان برخليک تر ډېره د انسان ارثي خواص ټاکي. څنګه چې د بېلابېلو برخو د ماهرينو نظرونه يو بل سره توپيرونه او ټکرونه لري، په ورته توګه، ان که يو واحد شخص هم د علم په بېلابېلو څانګو کې تخصص وکړای شي، د مسائلو په اړه به يې نظر هيڅکله واحد نه شي ځکه له بېلابېلو ليدلورو به ورته خورا زيات ضد و نقيض اړخونه څرګندېږي.

۳. ليکوال هيره کړې چې انسان د ارادې څښتن دی. که د کوم مادي شي کوم ځانګړی خصوصيت پيدا کړو، په اسانۍ ويلی شو چې دا خصوصيت به د همنوعه شيانو کې ارومرو يو ډول وي خو د انسان په اړه داسې فيصله هيڅکله نه شي کېدای. انسان د متفاوت اصليت لرونکی او د ارادې څښتن دی. همدغه ځانګړتيا دی له ټولو نورو مادي جوړښتو بېلوي.

٤. دا يې هم فرض کړې ده چې بداخلاقي، بې ديانتي او د جرمونو ارتکاب عصبي و دماغي ناروغي ده او لکه د زکام و تبې په څېر يې بايد روغتونونو کې درملنه وشي. ليکوال ليکي:

اخلاقي حس هم د ذهني کړنو په څېر دی چې ظاهراً له جسمي جوړښت و فعاليتونو اغېزمنېږي. دا حالت د نسجونو او عصب له يوځای کار او همدارنګه د ماشومتوب د مرحلې له روزنې او تاثراتو پنځېږي. شوپنهار د *کوپنهاګن د رويال سوسايټي اوف ساينس* لپاره په خپل ليکلي مضمون کې چې سرليک يې *د اخلاقياتو اساس* ؤ، څرګنده کړې چې اخلاقي اصول زموږ فطرت څخه سرچينه اخلي. په بله وينا د

ځانغوښتنې، پست توب او رحم احساسات د انسان فطرت کې له پیدایښته نغښتي وي. (۱۲۵مه پاڼه)

دا ډول دعوې بالکل ناسمې دي. ځکه جرمونه، سره له دې چې یو شمېر نور لاملونه هم لري چې هغه هم بهرني دي، خو په اصل کې د انسان د خپلې پرېکړې پایلې وي. انسان تر هغه له جرمونو لاس نه شي اخیستلی چې پر خپلو تصمیمونو ځان کابو نه شي کړای. دا خو بالکل ناشونې خبره ده چې د جسماني ناروغیو په څېر دي د جرایمو درملنه هم په روغتونونو کې وشي. ډاکټر کولی شي چې مادي جسم د جراحي عملیاتو په ترڅ کې څېرې-ویرې کړي خو د هیڅ ډاکټر دا په وس نه ده پوره چې د انسان د پرېکړې ځواک دې تر جراحۍ و درملنې لاندې ونیسي ځکه خو د انسان د رضا او پرېکړې کنټرول د ډاکټر د وس خبره نه ده.

۵. لیکوال مجبوراً مني چې د ژوند پېچلتیاوې داسې دي چې په اړه یې دقیق مالومات د انسان د وس له دایرې بهر دي. خو د دې خبرې تر څنګ، وړاندې دا هم وایي چې انسان به بالاخره بریالی شي چې خپل او د ژوند رازونه پیدا کړای شي. دی لیکي:

طبیعي علوم، ستورپوهنه، کیمیا او میکانیکس په برخه کې د انساني پوهې د شاندار عروج په وړاندې د انسانپېژندنې د پوهې ورو پرمختګ زموږ د پلرونو او اجدادو د فرصت کمي، موضوع د پېچلتیا او زموږ دماغ د محدودیتونو پایله ده. دا محدودیتونو اساسي دي او د ورکېدا هیڅ تمه یې نه شي کېدای. ممکن له خورا زیاتو هڅو وروسته انسان پرې کابو شي. د انسان د ذات پوهه د طبیعي علومو ساده ګي،

ښکلا او تجريد هيڅکله نه شي ترلاسه کولی. د دې علم په وړاندې خنډونه ښايي هيڅکله ليرې نه شي. موږ بايد ومنو چې د انسان مطالعه تر ټولو نورو پېچلې او ستونزمنه ده. (۲۳مه پاڼه)

د انسانپېژندنې دا نزاکت ټولو پوهانو منلی دی، مثلاً جولين هيگزلي ليکي:

حقيقت دا دی چې د خدای شتون د تصور له منځه تګ د اديانو د له منځته تګ په مانا نه شي کېدای. د خدايي تصور له منځه تګ محض د يو شمېر الهياتي کړنو په مانا دی. سره له دې چې الهياتي ذهن له منځته ځي خو هغه ديني احساسات چې د خدای تصور يې رامنځته کړی ؤ، بيا هم پر ځای پاتي کېږي. د خدای نشت، دين له منځه نه وړي بلکې څېره يې ور بدلوي. يانې، اوس به انسان ټولو هغو مسئوليتونو ته اوږه ورکوي چې مخکې يې د خدای بللي ول. لومړی مسئوليت به د پُر اسرارو کائيناتو په اړه له خپلې ناخبرۍ او ناپوهۍ سره مقابله کول وي. مخکې خو دا بوج پر يو داسې خدای اچول شوی ؤ چې له فهم و ادارک څخه بهر يې شتون درلود او کړنې يې ترسره کولې. اوس به نو دا بوج ارومرو انسان پر خپلو اوږو اخلي او دا امکان به هم په نه زړه مني چې د کائيناتو په اړه د بشر ـ ناپوهي ممکن هيڅ وخت ورکه نه شي[٥٠].

دا نو څومره حيرانونکی تضاد دی چې له يوې خوا اقرار وکړو چې د انسان د ذات پېژندل ناشونی کار دی خو له بلې خوا د دې هيله وساتو چې انسان به د خپل ژوند هغه لوی مسايل په خپله حل کړي

٥٠ Man in the Modern World by Julian Huxley, P. ١٣٣

چې پرې کابو کېدل یواځې هله ممکن کار دی چې پر انساني علم پوره برلاسي پیدا شي. دا په حقیقت کې یو داسې موړ دی چې انسان باید د خدای لورې ته نژدې کړي خو دا خورا هېښونکې ده چې له همدغه ځای څخه انسان ولې سرچپه لاره غوره کوي او بالکل پر چپه د تگ هوډ کوي.

## د دين ملحدانه تشريح

اوسمهالي مفكرين د علم او مالوماتو هغه ډول نه مني چې د الهـي وحيې له امله تر موږ رسيدلی دی او په عامو تجربو يې ثـابتول ناشـونی وي. دوئ وايي په څه چې زموږ سر نه خلاصـيږي، څنگـه ور بانـدې عقيده ولرو او دا چې خورا بېځايه به وي چې نورو خلكو تـه هـم بلنـه وركړو څو داسې څه ومني چې ادارك يې ناشونی وي. د دوئ په وينا، دا پخپله د دې ثبوت دی چې ورته عقايد حقيقـت او بنسـټ نـه لـري ځكه كـه يـې حقيقـت لرلـی، مـوږ و تاسـې بـه كـولی شـوای چـې پـه څرنگوالي يې پوهېدلي وای.

اكسـټ كـامټې[۵۱] وړاندوينـه كـړې وه چـې ساينسي- پرمختـگ بـه بالاخره دين منونكي ورك كاندې. خو دا چې د وړاندوينې خـلاف دا دی دين او منونكي يې د تاريخ په اوږدو كې بيـا تـر ننـه موجـود دي، دوئ اړ شول چې د دين لپاره يو نه يو ډول تشريح له ځان سره ولـري. د ښې تشريح لپاره دوئ اړ ول چې هغو پېښو تـه مراجعـه وكـړي چـې چې له ديني واقعاتو سره يې لږ و ډېر ورته والی لرلی او ورسره هممهاله د عام خلگو د فهم وړ وای. شاعري تر ټولو ښه بېلگه وه ځكه شاعري هم يو شمېر ورته ځانگړتياوې لري. اوس نو دوئ وويل چې د شاعرۍ په څېر دين، باورونه او كړنې يې يواځې او يواځې يو ذهني عمـل دی او بس.

---

[۵۱] Auguste Comte (۱۷۹۸-۱۸۵۱)

ښاغلی ټاین بې وايي چې د حقیقت درك په دوه طریقو کېږي؛ د تجربې او مشاهدې په مټ چې ساینسي طریقه یې بولو، او د تعقل و تفکر په وسیله چې شاعرانه طریقه یې بللی شو. د لومړۍ طریقې محصول ساینسي حقایق دي او د دویمې طریقې محصول شاعرانه

حقایق دي. دی د پیغمبرۍ په اړه لیکي:

*"په شاعرانه کچه د لاشعور عام فهممه مشاهدې ته پیغمبري ویله کېږي[٥٢]."*

د ټولنیزو علومو انسایکلوپیډیا د لیکوال په اند، دین د هنرونو په څېر دی. څنګه چې یو شمېر خلګ د هنرونو په اړه ځانګړي ذوقونه لري او د نورو په پرتله پکې د خورا لوړو استعدادونو لرونکي وي، په ورته توګه، په یو شمېر خلکو کې د داخلي سماعت او بصیرت ( Inner eyes and ears) په وسیله د لیدلو او خبرېدلو انفرادي ځانګړتیاوې شتون لري. او همدغه له دین سره د انسان د اشنا او عادي کېدلو یواځینی وسیله شوې ده.

ټي آر مایلز لیکلي:

*"د دین مابعدالطبیعي حقایق هغه وخت بې مانا کېږي چې دیني تشریح یې په ټکي ومنله شي. البته په اړه یې مجازي/قیاسي ژبه کارول دې عقایدو ته مانا ورکولی شي. مثلا موږ په ورځني ژوند کې د*

[٥٢] On the poetic level of the subconscious psyche, the comprehensive vision is prophecy. *( A Historian,s Approach to Religion, p.* ١٢٣)

www.sikaraam.com

*یوه کشف په مهال وایو چې دا بالکل الهام ؤ. په ورته توګه په شاعر الهام کېږي او په نبیانو هم پیغام کېږي."*

د مایلیز په اند که وحیه پیغمبرانو ته د پرښتې په وسیله د الهي الفاظو راوړل و بولو، دا به بالکل بې مانا عقیده وي خو که چېرې وحیه د بصیرت رڼا (*Flash of insight*) وبلله شي، بیا د فهم او منلو وړ کېږي. ځکه د مفکرینو او هنرمندانو په اړه دا ثابته خبره ده چې په ناڅاپي توګه یې ذهن ته کوم عالي خیال مخه کوي او الهام پرې کېږي. په ورته توګه، له مرګ وروسته ژوند هم یوه بې مانا عقیده ده خو که چېرې په مجازي او تمثیلي ژبه یې تشریح وشي، ممکن زړه ته لار پیدا کړي. ځکه ښه ترا پوهېږو چې له مرګ وروسته جسد تجزیه او منتشر کېږي او روح ته هم د پای ټکي ایښودل کېږي. له دې ځایه ده چې له مرګه وروسته ژوند په لفظي تشریح کې نه شو نغاړلی[53].

د الکس کېرل په اند، وحیه او الهام تصوف او صوفیانه اکتشافات دي. دی وایي چې د خدای لټه یوه شخصي کړنه ده، لکه د سپورت په کولو چې جسمي ځواک او خوښي زیاتېږي، همداسې له دونیا څخه لیري والی او تفکر یو چا ته نفسیاتي سکون او خوشالي ښښلای شي.

دی لیکي:

*"د شعور د مشق و تمرین په وسیله انسان کوشش کوي چې هغه حقایقو ته ځا ن ورسوي*

[53] Religion and the Scientific Outlook. P. ۱۹۵, ۱۹٦, ۲۰٤

www.sikaraam.com

چې د مشاهدې وړ نه دي. که له يوې خوا دا حقايق ذاتي دي، له بلې خوا تر مادي نړۍ هاخوا هم دي. په دې توګه انسان يوې داسې نامالومې خوا ته قدم اخلي چې کم کسان يې جرات کوي. له دې ځايه ده چې داسې يو کس ځينو ته اتل ايسي خو نورو ته بيا لېونی او ملنګ. خو هيڅوک نه شي ويلی چې ورته عارفانه تجربې سمې دي که ناسمې. ايا دا محض خرافات دي که د اشخاصو وهم، که د نړۍ له فزيکي ابعادو هاخوا د روح سفر دی چېرې چې انسان له لوړو حقيقتونو سره يوځای کېږي. دا چاره د انسان خورا لويې هيلې پوره کوي. ځومره چې د انسان جمالياتي احساس قوي او حقيقي دی؛ هغومره تسکين، داخلي ځواک، روحاني روښنايي او د خدای مينه د انسان لپاره مهم او ارزښتناک دي. د تصور او تعارف پر مټ انسان خپل ځان وروستي حقيقت ته د رسولو هڅه کوي[۵۴]."

---

۵۴ Man the Unknown, P. ۱۳۲

## تبصره

په تېر څپرکي کې د دين اوسمهالې تشريح وړاندې شوه. دلته يې په اړه د الکس کېرل وينا ذکر کوم. دی د خپلې تشريح په اړه داسې نظر لري:

*"ليکوال په دې باور دی چې د دين په اړه د ذهني کړنو کومه تشريح چې ده کړې، هغه به نه د ساينسپوهانو خوښه شي او نه د مذهب منونکو. ساينس پوهان به ورته بې مانا هڅه ووايي او دين پوهان به ورته د غلط او فضول کار په سترګه وګوري[۵۵]."*

د مذهب په اوسمهالې تشريح کې که څه هم د مذهبي کړنو يادونه شوې ده خو حقيقت دا دی چې د دې تشريح او الحاد تر منځ هيڅ توپير شتون نه لري. ځکه:

۱. لومړی دا چې د دې تشريح له مخې مذهب د يوې غير حقيقي ښکارندې حيثيت خپلوي. ځکه د تشريح له مخې خداي، اخرت او وحيه محض زموږ خيالات کېږي چې په حقيقت کې هيڅ راز شتون نه لري. خو مذهب چې په څومره ځواک زموږ په ذهنونو کې ځاي خپل کړی، ورڅخه جوتيږي چې مذهبې عقايد محض خيالي خبرې نه دي.

د اوس وخت مشهور مورخ ټاين بې ليکي:

---

۵۵ Man the Unknown, p. ۱۳۰

*"كه په بيلابيلو وختونو او بيلابيلو ټولنو او ژبو كې مـوږ د اديـانو پـه اړه سروې وكړو، دې پايلې ته به ورسيږو چې د اديانو شمير خورا زيات او يو له بل سره د زياتو توپيرونـو لرونكـي دي. لـه ليـږ فكـر و څيړنـې وروسته دې پايلې ته رسيداي شو چې دا ټـول توپيرونـه د درو بيلابيلـو بنو لرونكي دي چې عبارت له طبيعت، په خپله انسان او مطلق حقيقت څخه دي. مطلق حقيقت نه خو طبيعت دي، نه په خپله انسان بلكې په دوئ كې له شتون سره سره تري بهر هم دي."*[٥٦]

په بله وينا تاريخ شاهد دی چې انسان له پخوا وختونو څخه د يوه لوړ حقيقت په لټه كې

سرګران دی. دا به څنګه شونې وي چې يو خيالي او فرضي شی دې د بشر پر تاريخ دومره زياته اغيزه ولري. آيا بله داسې بيلګه لرو چې پـه حقيقت كې شتون و نه لري خو بيا يې هم د انسان په نفسياتو او ذهـن دومره ژور اغيز ښندلی وي.

۲. د يادې تشريح له مخې دين د يـو ځـانګړي شي نـوم نـه دی بلكې د زرګونو شيانو په ټولګه بدليږي. ځكه د تشريح لـه مخـې ديـن فردي بلل شوی دی او پوهيږو چې افراد د استعداد، ذوق، فكر او آنـد له مخې يو له بل سره خورا زيات توپيرونه لري. بل پلـو دا چـې اديـان الهی دي، بايد توپيرونه ونه لري چې له مخې يې د انسانانو كړنې سمې يا نا سمې وبلل شي. دلته به د ټاين بې څو نورې خبري هم نقل كړم:

*"د مختلفو خلګو عقايد به ارومرو يو له بـل سره تـوپير لـري ځكـه مطلق حقيقت يو راز دی. د دې راز خورا جزوي برخه انسان په ذهنـي*

[٥٦] An historians approach to religion, p. ١٦

*عمل درک کولای شي. دومره ستر حقيقت په دې نـه شي معلوميـداي چې يوه ځانګړې لاره دي تعقيب شي. زما د خپل ادراک په اړه که زما باور هر څومره پوخ وي چې ادراک مې سم دی، خو زه بايد پـوه شـم چې زما روحاني نظر محدود دی. زه نه شم ويلای چې بله مشاهده دي نو ممکنه نه وي. په مذهبي اصطلاح کې نه شو ويلاي چې نورو خلکو ته دي د خداي له طرفه الهام نه کيږي. دا هـم شـونې ده چـې د نـورو خلکو الهام دي زما له الهام څخه لا زيات غوره او پرمختللی وي. زه او زما ملګري له بيلابيلو لارو څخه د يـوه هـدف پـه لـور روان يـو. ټـول انسانان د پټ حقيقت موندل غواړي څو خپل ژوند د مطلق حقيقت له مخې جوړ کړای شي، يا په مذهبي اصطلاح د خـداي رضـا تـر لاسـه کړای شي. ټول خلګ يو ډول هڅه کوي، دوئ بايد پوه شي چې ټول د يو بل روحاني ورونه دي. زغم تر هغه وخته نه دي مکمل څو چـې په مينه او محبت بدل نه شي.*" [57]

په دي توګه د خدای په اړه خورا زيات تصورات را منځ ته کيږي. د دين او اخلاقياتو اينسايکلوپيډيا ليکوالان د نړۍ په کچه د خدای ۲۲ تصورات درج کړي دي او هغـه يـې تـر ۲۲ بيلابيلـو سرليکونـو لانـدې تشريح کړي دي.[58]

۳. په ورته توګه د يادې تشريح له مخې نبوت او د نبـوت پـاي ټولې بی معني خبرې کيږي. ټاين بې په خپل ياد کتاب کې ليکي:

"*د مورخ ليدلوری لـه دې خـبرې سره ټکـر نـه لـري چـې ګـواکې خدای انسان باندې الهام کوي څو انسان سره مرسته وکړي چې روحاني*

---

[57] An historians approach to religion, p.٢٥١

[58] پـنځم ټـوک سرلـيک: خداي

*نجات پیداکړي چې پرته له واسطې څخه ورته نجات ممکن نه وو خو مورخ په دي ځاي کې شکمن دی چې ورته وحیه دې نو پاې ولري او دا چې په دې کهکشانې نظام کې د لمر په یوه ځانګړې سیاره او په یو ځانګړي وخت کې دې یوې ځانګړې ډلـې تـه دي ورکـولاې شي. دا ویلی شو چې خدای خپلو بنده ګانو تـه الهام/وحیـه کـوي خـو ورسره هممهال دا نه شو ویلی چې ګواکې دا وحیه دې مخصوصه وي او کوم مخصوص کس ته دې ورکوله شي. په بله وینا دا ویل به خورا بې مانـا وي که زه دعوه وکړم چې زه هغه یواځینی کس یم چې د ټول مخلـوق ترمنځ خدای ټاکلی یم او پر مـا یـې وروستـی وحیـه کـړې او دا چـې همدغه وحیه باید ټول نور کسان ومني".*[59]

دلته اصلي ستونزه له الهام/وحیه څخه د لیکوال پـه ناسـم پوهـاوي کې ده. که لیکوال ناسم تعبیر نه لرلی، په اسانۍ به ورته مالومه شوې وه چې په حقیقت کې د الهام او مخصوص الهام ترمنځ تـوپیر دومـره کـم دی چې اصلا یو له بله یې بېلولی نه شو. اوسمهالي مفکرین په دې اند دي چې الهام/وحیه داسې یو څه ده لکه مصـور تـه چـې یـوه ښـکلې منظره ذهن کې پیدا او دی یې بیا رسمه کړي او یا دا چـې د شـاعر پـه ذهن کې د یوه ښکلي غزل زړه راښکونکي بیتونه وپنځېږي او بیـا یـې دی د کاغذ پرمخ په تورو بدل کړي. د دوئ له نظره، خدای کوم داسې ځواک نه دی چې په شعوري توګه وغواړي خپله خوښه کومه بنده ته د یوې ځانګړې موخې په پار وحیه کړي. د دوئ په اند خدای کوم ډول مجهول او بهرنی حقیقت دی چې زمـوږ کائینـات یـې نیـولي دي. یـو شمېر خو حتا په همدې باور هم نه دي بلکې وایي چې وحیه او الهـام

---

[59] An historian approach to religion, p. ۱۳۲

زموږ د تحت شعور تاثرات دي او بس. ښکاره ده چې دیني هغه له دې نظر سره خورا زیات توپیر لري او له دې ځایه ده چې اوسمهالي مفکرین د وحیه او الهام په پوهېدلو کې پاتي راغلي دي.

٤. د دې تشریح له مخې، دین په یوې دونیوي اړتیا بدلېږي او دا په داسې حال کې ده چې دین اصلا اخروي اړتیا ده. یانې دین په اصل کې د اخروي ژوند د ژغورنې لارې-چارې بیانوي خو دا تشریح بیا د دونیوي ژوند لپاره د یوې موزونې اډانې رامنځته کولو لپاره دین د یوې اړتیا په توګه مني. دین دوې ته حقیقت نه بلکې یوه فرضي عقیده ایسي:

*"دیني عقاید فکرونو پنځولې اډانې دي چې پکې د یوه ځانګړې دین مننونکو ته د هڅو او اهدافو یووالی رامنځته شوی دی[٦٠]."*

٥. د دین په اړه اوسمهالي تصور باندې یهودیت هم لړ اغېز ښندلی دی. سره له دې چې دا دین د موسی علیه سلام حق دین ؤ خو اوس تحریف شوی دی. ټاین بې لیکي:

*"د هغه خدای په اړه چې په اراده یې دا ټول کائینات چلېږي، دا به خورا بېځایه تصور وي چې د ټول مخلوق له منځه دې ما او زما قبیله خوښه، ما دې خپل پیغمبر او زما قبیله دې ځان ته تر نورو ټولو قبیلو نژدې وګرځوي. دا دول تصور حقیقت نه دی بلکې یوه دوکه ده چې انسان پخپل ذهن کې پخپله پنځولې ده[٦١]."*

تر کومه چې د غوره شوې ټولۍ خبره ده نو که څېړې یې تفسیر د نسل له مخې وشي، یانې دا چې د یوه خاص نسل و کورنۍ کسان دې

---

[٦٠] Hindustan Times, Oct. ١٩٦١
[٦١] An historians approach to religion, p. ١٣٥

رب ته محبوب وي، نو دا ناسمه تشريح ده او د دين سمه ترجماني نه شي کولی.

دا چې يهودان همدغه فکر لري، ځکه خو د ليکوال ليدلوری هم د دوئ پر عقيدې ولاړ دی. حقيقت دا دی چې رب ته محبوبه ټولی د نسب له امله نه بلکې د عقيدې له امله ټاکله کېږي. يانې هغه خلک خدای ته نژدې او محبوب دي چې د خدای د اوامرو او وحيې پيروي يې کړې وي. دلته د دوئ نسب و کورنۍ هيڅ ارزښت هم نه لري.

د دين له مخې خو دا تشريح د دين د شتون له منلو سره سره له دين څخه چورلټ انکار دی او بس.

يو داسې دين چې له مخې يې عذاب او ثواب ونه ټاکل شي، د خلکو فردي اړتيا وبلله شي

چې له نورو خلکو سره هيڅ اړه ونه لري، د کوم باشعوره ستر ځواک له خوا نه وي بلکې د انسان د خپل خيال او شعور زېږنده وي؛ دا ډول دين نو د لااله الاالله کلمې لاندې نه بلکې د لااله الا الانسان کلمې لاندې جوړېدای شي.

که داسې کوم فکر ته د مصلحت له مخې د دين نوم ورکول شي، دا به خورا ساده گي وي او که يې باور همدا وي، دا به لويه علمي تېروتنه وي.

www.sikaraam.com